لیکونکی: ډاکټر مدیح احمد
ژباړن: محمد معروف فروتګر

# صدام حسین

له ۱۹۳۷ - ۲۰۰۶ میلادي پورې



140/100

بسم الله الرحمن الرحیم

AL HAYAT
نیازی کتابتون
0705 478 150
0703 404 312

له زیږیدنې تر پانسی کیدو پورې لړزوونکي انکشافات

# صدام حسین

له ۱۹۳۷ - ۲۰۰۶ میلادي پورې

لیکونکي: ډاکتر ندیم احمد
ژباړن: محمد معروف فروغگر

https://t.me/andlasbook

## کتاب پېژندنه:

**نوم: صدام حسین**

«له زیږېدنې تر پانسي کېدو پورې لرزونکي انکشافات»

**لیکوال: ډاکټر ندیم احمد**

**ژباړن: محمد معروف فروغګر**

**کمپوز: عبدالغفور میرویس**

**شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه**

**چاپ کال: ۱۴۲۸ هـ ق ـ ۱۳۸۶ هـ ل**

**خپرونکي: میوند خپرندویه ټولنه**

**چاپ: د میوند خپرندویې ټولنې مطبعه**



کابل: د فارمسی ریاست ترخنګ، افغان ترک لیسې ته مخامخ، ټیلفون: ۲۱۰۳۵۶۹

او صدارت خلورلاري، سبا کتابخانه، ټیلفون: ۲۲۰۰۴۵۵

پست بکس: ۱۲۷۸

E-Mail: maiwand@asia.com



https://t.me/andlasbook



ټول حقوق محفوظ دي

# لړلیک

| مخ | سرلیک | شمیره |
|---|---|---|
| ۷ | سریزه | ۱. |
| ۱۰ | لومړی باب - تور سباوون | ۲. |
| ۱۴ | دوهم باب - کله چې صدام حسین د ... | ۳. |
| ۱۷ | دریم باب - د صدام د ژوند وروستي شیبې | ۴. |
| ۳۱ | څلورم باب - آیا پانسي شوی صدام ..... | ۵. |
| ۳۵ | پنځم باب - د صدام حسین اعدام | ۶. |
| ۴۱ | شپږم باب - ولې صدام حسین په بیړه ... | ۷. |
| ۴۸ | اووم باب - د سوبمن (فاتح) غچ | ۸. |
| ۵۲ | اتم باب - د صدام حسین مقدمه، ... | ۹. |
| ۶۴ | نهم باب - کوم یو صدام خطرناک دی؟ | ۱۰. |
| ۶۹ | لسم باب - په دجیل کې څه شوي وو؟ | ۱۱. |
| ۷۳ | یوولسم باب - هغو ګومانونه چې په حقیقت | ۱۲. |
| ۷۷ | دوولسم باب - د عراق د اولس د یووالي نوی پلان | ۱۳. |
| ۸۸ | دیارلسم باب - صدام له پیله تر نیول کیدو پورې | ۱۴. |
| ۱۱۹ | څوارلسم باب - آیا صدام د بش د کورنی... | ۱۵. |
| ۱۳۲ | پنځلسم باب - د صدام حسین وروستی لیک | ۱۶. |
| ۱۳۴ | شپاړسم باب - د صدام حسین د ژوند داستان | ۱۷. |
| ۱۵۷ | اوولسم باب - له صدام حسین سره د هغه... | ۱۸. |
| ۱۶۲ | اتلسم باب - د صدام پر اعدامولو نړیوال غبرګون | ۱۹. |
| ۱۶۸ | نولسم باب - د عراق د مطالعاتي ګروپ رپوټ | ۲۰. |
| ۱۷۵ | شلم باب - د امریکا راتلونکی ښکار | ۲۱. |
| ۱۸۵ | یوویشتم باب - د عراق د مقاومت | ۲۲. |
| ۱۹۹ | دوه ویشتم باب - د عراق راتلونکی (مستقبل) | ۲۳. |

سریزه

# صدام حسین ژوندي پاتې کېږي

که څه هم اوس صدام حسین زموږ په منځ کې نشته؛ مګر زموږ په زړونو او دماغونو کې ژوندی دی. هغه چې څرنګه د دار کړی ښکل کړ، هغه انځور تراوسه پوري زموږ د سترګو په وړاندې. وړاندې وروسته کېږي او داسې بریښي چې د صدام حسین پانسي د پرون خبره وي. د صدام حسین پر پانسي به کال او پېړۍ تېرې شي، هغه به هله هم ژوندی وي. د صدام له پالیسیو سره اختلاف کولای شو، هغه به هم د هر حکومت په شان سیاسي اشتباهات کړي وي؛ مګر پر یوې خبرې باندې د نړۍ درست خلک ګډ دریځ لري چې د صدام د دور په عراق کې نه دومره اختلاس و او نه دومره لوټمار (لکه چې په اوسني عراق کې دي)، د مذهبي اختلافاتو عفریت سر نه و رااوچت کړی او ټول عراق یې ترپښو لاندې نه و کړی، حال دا چې اوس په عراق کې هرې خواته د اختلاس بازار ګرم دی، ښايي دا د امریکا د کرلي تخم ثمره ده چې هدف یې د عراق بربادول او پر عربي نړۍ باندې د امریکا د کنټرول مضبوطول دي.

د غور او فکر خبره دا ده چې صدام ولې پر سولي وخېژول شو؟ پر هغه چې کوم تورونه لګول شوي و او، په هغو تورونو کې د امریکا جمهور رییس ورسره اوږه په اوږه پرمخ تلو، امریکا چې عراق ته یې کلستر او کیمیاوي بمونه ورکړه چې د عراق پر شیعه مذهبو پرګنو او همدارنګه پر سني مذهبي کردانو استعمال کړی شو، په حقیقت کې دا ټوله سریزه (مقدمه) یوه ډرامه وه. صدام ته یې د هغه مخالفت سزا ورکړه چې له امریکې او اسرائیل سره یې درلوده، امریکایانو ته پته لګېدلې وه چې صدام حسین د اسرائیلو پرضد د یوې پرېکندې جګړې لپاره خپل پوځ منظم کوي او هغه هر وخت کولای شي چې پر اسرائیل یرغل وکړي. په امریکا کې میشت یهودي اجنټان د ۲۰۰۱م کال د سپتامبر د یوولسمې له پېښو نه په استفادې سره د امریکایانو د غم او غصې بهیر صدام حسین ته واړول، په داسې حال کې چې ۹/۱۱ د پلان جوړوونکو له جملې نه یو تن هم له صدام سره اړیکې نه درلودې. امریکا پر عراق باندې د کیمیاوي وسلو د جوړولو تور ولګاوه او حمله یې پرې وکړه، له هغې ورځې راهیسې چې امریکا پر عراق باندې ولکه کړې، ترننه پورې یو نیم ملیون عراقیان وژل شوي دي، آیا ملګري ملتونه او متمدنه نړۍ به د هغو یو نیم ملیون عراقیانو د عامې وژنې له کبله د امریکا پر جمهور رییس مقدمه وچلوي (هغه به نړیوالې محاکمې ته راکاږي؟) او هغه به هم پر سولي وخېژوي؟

کوم جنګ چې امریکا او اسرائیل د مسلمانانو پرخلاف پیل کړی دی، صدام حسین په دغه جګړه کې په بشپړه زړورتیا او استقامت


سره د هغوی د جوړجاړو مقابله وکړه. له مرګ سره غاړه غجي شوه خو امریکا ته يې سر ټيټ نکړ. کوم خلک چې د صدام مخالفين وو، هغوی هم وايي چې صدام د زړورتيا تاريخ انځور کړ، مسلمان له مرګه نه وېرېږي؛ حضرت علی کرم الله وجهه وايي: «له دې نه مخکې چې مرګ پرتا راشي، ته پر مرګ ولوېږه!»

نن سبا د اسلامي نړۍ ټول اوسېدونکي د امريکا او اسرائيل د مقابلې لپاره مرګ ته پر ژوند ترجيح ورکوي. صدام حسين اوس د ټولې نړۍ د آزادي بخښونکو غورځنګونو اتل ګرځېدلی دی. بنايي چې موږ دا خبره ياد وساتو چې د صدام حسين مبارزه د کوم شيعه، کُردي يا سني پرخلاف نه و، بلکې د امريکا او اسرائيل پرخلاف و. موږ بنايي چې په خپلو صفونو کې يووالی راولو. امريکا او اسرائيل خو غواړي چې اسلامي نړۍ په سني او شيعه ډلو ووېشي او د اسلامي امت يووالی تس نس کړي.

ما دا کتاب په اروپا او عربي نړۍ کې د خپرو شوو رپوټونو او اسنادو له مخې ليکلی، په دې کتاب کې ډېر داسې انکشافات شته چې تاسې يې د لوستلو لپاره لولئ.

په پای کې زه د لوړپوړي ژورناليست او د ندای ملت د اونيزې (نوای وقت ګروپ) علی جاويد نقوي صاحب نه مننه کوم چې هغه په دې لاره کې وهڅولم او زه يې د صدام حسين په باب د کتاب ليکلو په جهت کې ډېر ترغيب کړم، که چېرې هغه ماته لارښوونه نه کوله، ما ته شونې نه وه چې داسې کتاب وليکم.

ډاکټر نديم احمد




د صدام حسین د پانسي کولو د حکمنامې عکس

لومړی باب

# تور سباوون

(د ۲۰۰۲ میلادي کال د دسمبر ۳۰ مه)

دا د ۲۰۰۲ میلادي کال د دسامبر د میاشتې د ۳۰ مې نیټې سباوون و، پوره ۲ بجې او پنځه منټه د عراق د انتهایي امنیتي سیمې (ګرین زون) په ډګر کې صدام حسین په سولي وخېژول شو. د صدام حسین پانسي یو سیاسي قتل و چې مسؤولیت یې مستقیماً امریکا ته راجع کېږي. د لویدیځو او عربي خبري رسنیو له رپوټونو سره سم کله چې صدام حسین پر سولي وخېژول شو، د هغه خورا توندلاري مخالف مقتدی الصدر هم هلته موجود و او هغه د صدام حسین د پانسي کولو انځور په خپلو سترګو ولیده. د عراق جمهور رییس او صدراعظم غوښتل چې صدام له اختر نه وروسته پر سولي وخېژوي؛ مګر په عراق کې میشت د امریکا سفیر (زلمی خلیلزاد) ټینګار کاوه چې صدام حسین دې د اختر د ورځې په سباوون کې اعدام شي. د خلیلزاد په باب ویل کېږي چې هغه له آره د سی آی ای ایجنټ دی او د سی آی

اې له دستور سره سم کار کوي. زلمی خلیلزاد په افغانستان کې هم سفیر پاتې شوی دي او په هغه وخت کې یې د پاکستان پرضد پروپاګنډا کې ټول ریکارډونه مات کړی وو.


صدام حسین د امریکي پوځ تر حراست لاندې و، د ۲۰۰۶ میلادي کال د دسامبر د میاشتې په پنځمه نېټه هغه ته د پانسي د سزا له اورولو نه وروسته، عراقي حکومت له امریکایانو نه دا غوښته چې صدام د عراق حکومت ته وسپارل شي؛ مګر امریکایان په دې وېره کې و چې که چېرې صدام عراق حکومت ته وسپاري، کېدای شي چې د عراق حکومت د عربي هیوادونو تر فشار لاندې راشي او د هغه د پانسي سزا په ابدي حبس (بند) بدل کړي. په دې توګه د عراق د امنیت فضا نه خرابېږي؛ مګر د امریکا سفیر خلیلزاد ته چې کوم پټ ریوټونه ورکړ شوي وو د هغه له مخې دا جوتېده چې د صدام حسین ملاتړي دا پلان جوړوي چې د زندان دروازې خلاصې کړي او صدام له هغه ځایه وتښتوي. کېدای شي چې هر وخت پردې، پلان باندې عمل وشي. په دې لړ کې امریکایي پوځ د بعث د ګوند پنځوس تنه غړي هم نیولي وو چې له هغوی سره د ((ګرین زون)) د زندان نقشه هم وه. له پلان سره سم په ((ګرین زون)) کې، په یو وخت کې ۲۵ انتحاري حملې کېدې چې په نتیجه کې لویه ګډوډي رامنځ ته کېدله، او بله ډله به پر زندان حمله کوله او صدام حسین یې تښتاوه. زلمی خلیلزاد او امریکایي جنرال عراقي حکومت ته د صدام د ورسپارلو خبره رده کړه چې په نتیجه کې د عراق د حکومت او امریکایي پوځ

ترمنځ حالات ترینګلی شول. د دسامبر د ۲۹ په شپه کې د عراق جمهور رئیس او صدراعظم المالکی یوځل بیا له امریکایي پوځ نه وغوښتل چې صدام وروسپاري چې زلمی خلیلزاد او امریکایي جنرال یوځل بیا ددوی غوښتنه رده کړه. د عراق د حکومت دا وېره هم وه چې امریکایان پردوی باندې د فشار اچولو لپاره صدام حسین خوشې نکړي.

وخت په بېړه تېرېده، د دسامبر ۲۹ او ۳۰ مه شپه پیل شوې وه، د شپې دوه بجو ته نږدې امریکایي جنرال د عراق جمهور رئیس او صدراعظم دواړه له خوبه پاڅاوه او خبر یې ورکړ چې صدام حسین څو ساعته پس پر دار ځړول کېږي. د عراق جمهور رئیس پردې ناڅاپي فیصلې باندې حیران پاتې شو، تر وروستي وخته پورې صدام یې عراقي ځواکونو ته ونه سپاره. څو کسانو ته یې نقابونه اغوستي وو او د هغه په شاوخوا کې امریکایي پوځ کړۍ جوړه کړې وه. کوم سړی چې صدام حسین یې پر دار ځېژاوه، هغه یې هم له ځان سره راوستي وو او د صدام له اعدام نه صرف څو منټه مخکې ورته وویل شو چې هغه به د عراق پخواني جمهور رئیس پر دار ځړوي. هغه ددې خبرې په اورېدو سره ووېرېده: مګر امریکایي پوځ هغه ته ډاډ ورکاوه چې تور نقاب واغوندي، څو په دې توګه، څوک یې ونه پېژني او د هغه خپل خپلوان او ځان د صدام د حامیانو له ټکر نه محفوظ پاتې شي. کله چې د صدام د اعدام خبر خپور شو، د عراق د حکومت لوړپوړي مامورین هڅه وکړه چې زندان ته ځان ورسوي، مګر هغوی ته اجازه ورنکړای

شوه. له صدام حسين سره د وروستي ملاقات کوونکو په جمله کې امريکايي لوړ رتبه مامورين هم شامل وو. هغوی صدام ته دا وړانديز وکړ چې که چېرې اوس هم له امريکا سره مرسته وکړي نو د مرګ جزا يې په دايمي حبس بدلېدی شي؛ مګر صدام حسين د هغوی په وړاندې له سر ټيټولو نه انکار وکړ. امريکايي افسرانو وويل چې هغه به ډېر ژر اعدام شي او هغه دې دا خبره صرف اخطار نه انګېري؛ مګر صدام ځواب ورکړ چې له مرګه نه وېرېږي، امريکا چې څه غواړي ودې کړي.

له اعدام نه مخکې امريکايي جنرال پنټاګون او د امريکايي سفير له سټېټ ډيپارټمنټ سره تماس ونيو. له اعدام نه وروسته د پيدا کېدونکي احتمالي وضعې سره د مقابلې لپاره لازم تدابير غوره شول، د امريکا عالي قيادت وويل چې هغه تردې زيات نور د صدام حسين زغملو ته تيار نه دی، له همدې لامله دا کيسه ژرترژره پای ته ورسوئ. په دې وخت کې ټول بغداد په ترورېزمو کې ډوب و، د امريکا پوځي او، زغره وال ټانکونه او هيلي کاپټرونه ((ګرين زون)) او د بغداد ځينو نورو سيمو ته رسېدلي وو، او د حالاتو څارنه يې کوله.



د صدام حسین هغه تصویر چې له پانسي کیدونه څو ورځې مخکې اخیستل شوی

دوهم باب

# کله چې صدام حسين د اعدام لپاره له خوبه پاڅول شو

کله چې امريکايي پوځ بغداد هوايي ډګر ته څېرمه زندان ته لاړ او له نيمې شپې وروسته يې په ۳ بجو او ۵۵ دقيقو صدام حسين له خوبه پاڅاوه او ورته يې وويل چې د بغداد د سفر لپاره تيار شه، نو هغه يې همدغسې په هيلي کوپټر کې واچاوه او له ځان سره يې يوړ لکه چې په تېرو څوارلسو مياشتو کې د محاکمې په سلسله کې ځانګړې محکمې ته وړل راوړل. يوه امريکايي جريده له صدام حسين سره د مؤظفو امريکايي پوځيانو په حواله يو بل ريپوټ هم ورکړی دی. امريکايان دا هم وايي چې د امريکا سفير زلمی خليلزاد او امريکايي جنرال «جورج کيسي» دواړه له وظيفې نه پر رخصتۍ تللي وو. له همدې لامله د صدام په اعدام کې د هغوی لاس نشته؛ مګر دا ټول د يو غلط داستان توکي دي؛ دا څنګه ممکن دي چې صدام حسين اعدام کړی شي او امريکايي جنرال او امريکايي سفير له دغسې معاملې سره اړيکې ونه لري،

په داسې حال کې چې صدام هم د امريکايي پوځ په ولکه کې وي امريکايي سفير خو په بغداد کې د وايسراى داسې دنده ترسره کوي، د عراق جمهور رييس او صدراعظم ځان ته غواړي، او لازم هدايات ورکوي. د امريکايي پوځ «ضربتي ګروپ» ۱۳۴ يونټ چې د بنديانو په چارو کې د څارونکي دنده ترسره کوي له وينا سره سم، صدام حسين پردې باور نه و چې اعدامېږي؛ مګر کله چې امريکايي پوځ هغه د عراق د پوځ و هغو وګړو ته حواله کړ چې وينې ته يې تږي وو، نو صدام پوه شو چې اوس يې پر دار ځړوي. د ډګرمن (کيرکيون) له وينا سره سم صدام حسين له زندان نه د روانېدو پرمهال د زندان د ساتونکو او طبي عملې مننه وکړه چې د هغه په خدمت کې يې نه ستړي کېدونکي هلې ځلې کړې وې. وروسته يې بيا هغه په بليک هاک هيلي کوپټر کې کېناوه او د شمالي بغداد نه د لسو منټو په واټن کې پروت زندان (استخبارات) ته يوړ. هلته چې د عراقي پوځ څو تنو پاسوالو د داريا سولي تختې ته ورساوه؛ مګر صدام حسين په دې نه پوهېده چې د لوى اختر په اوله ورځ کې دده د پانسي پر موضوع باندې د امريکايي مقاماتو ترمنځ اختلاف موجود وو، له بله پلوه کله چې د صدام په غاړه کې د پانسي کړۍ اچول کېده، جلادانو ډېرې سپکې سپورې ورته وويل چې په ټوله نړۍ کې يې ډېر بد انعکاس وکړ. له امريکا نه په رسېدلو رپوټونو کې ويل شوي وو چې امريکايي پوځي قوماندانانو او سفارتي ديپلوماتانو تر نيمې شپې پورې د صدام د اعدامولو د مخنيوي لپاره ټينګار کاوه؛

مګر څرنګه چې پردې مهال د امريکا دوه مهم شخصيتونه (زلمی خليلزاد او د امريکا د پوځ جنرال قوماندان جورج کيسی) دواړه له عراق نه بهر وو، حقيقت دا و چې امريکا غوښته د صدام د اعدامولو تور پر هغوی پورې نشي؛ مګر دا کله شونی و؟ د اعدام مسؤول په خپله امريکا ده. د صدام حسين د اعدام په معامله کې په خپله د عراقيانو په منځ کې هم اختلافات موجود وو. د صدام د مقدمې اورېدونکي قاضيانو کې هم يو قاضي د هغه د اعدام سخت مخالف و؛ مګر مبصرين وايي چې د عراقي حاکمانو له خوا نه د صدام حسين پانسي کول تعويق ته غورځول، يا منسوخول په اصل کې د خپلو په وينو لړلو لاسونو د پاکولو بې ځايه هڅه وه، حال دا چې د صدام په اعدامولو کې دواړه يوشان شريک وو. د صدام حسين د مقدمې اورېدونکي قاضی القضات رؤف عبدالرحمن ويلي وو چې د صدام د اعدامولو لپاره د نوامبر له پنځمې راهيسې معکوسه شمېرنه **countdoun** پيل شوې وه؛ خو عام تاثر دا و چې د هغه د مقدمې پرخلاف دعوی کې څو مياشتې نور هم لګېږي چې وروسته دا تاثر غلط ثابت شو. جمهور رئيس بش هم د صدام حسين د اعدام حکم په دايمې بند د بدلولو مخالفت وکړ.

دریم باب

# د صدام د ژوند وروستي شېبې

د سنډې ټیلي ګراف له ریپوټ سره سم د صدام لاسونه یې ترشا تړلي وو او پښې یې هم سره تړلې وې او په سره رنګ، رنګ شوی د اوسپنې غرفې ته یې د اعدام لپاره راوست. پانسي کوونکو د هغه اوږد تور بالاپوش ونه ویستل، مګر خوله یې له سره لرې کړه.

مخکې له دې چې د اعدام غرفې ته یې راولي، ترې پوښتنه وشوه: «آیا هغه څه غواړي؟»، «نه!» بوډا صدام ځواب ورکړ. راشه او هغه پوره کړه (د صدام اشاره د دار حلقې ته وه.) کله چې د دارې تختې ته یې راوست. هغه دا خبره زمزمه کوله: «له مانه پرته عراق هېڅ نه دی.»، د پانسي کولو ګارډ پوښتنه وکړه چې آیا هغه غواړي چې د خوله پټولو لپاره څه واغوندي؟ نو صدام ځواب ورکړ: «نه!».

هغوی د صدام غاړه پر یوه توره ټوټه کې ونغاړل او د رسی حلقه یې پرې برابره کړه. نو اوس د رسی غوټه د هغه پر کینې اوږې اېښودل شوې وه.

ځو شېبې وروسته د هغه تر پښو لاندې اېښودل شوی مېز یې لرې کړه او د دار حلقه ورو ورو د هغه ستونی په ګروټ کې ونیو او بالاخره د هغه سر زوړند شو. هلته ځینو موجودو خلکو ددې صحنې په لیدلو خوښي شول او ونڅېدل. لس دقیقې وروسته ډاکټر راغی او د صدام د جسد وروستی معاینه یې وکړه، په بغداد کې د ورځې شپږ بجې وې او پر عراق باندې ۲۴ کاله واکمن صدام مړ شوی و.

د صدام دغه پانسي د هغه د دور د نظامي استخباراتو د دفتر په یوه تنګه خونه کې تر تتې رڼا لاندې ترسره شوه، چېرته چې صدام خپل سیاسي مخالفین اعداماوه.

د صدام د مرګ پر دوسیه د جمعې شپې په ماښام امضا شوې وه. د امریکایي خبري منابعو په حواله د صدام جسد د امریکایي پوځ ترڅارنې لاندې، په نیمه شپه کې د یو پوځي هیلي کوپټر په وسیله د عراق حکومت ته سپارل شوی و چې هغوی د صدام جسد د خادمیه اولسوالۍ په یوه دوه پوړیزه کانکریټي ودانۍ کې اېښي وو.

صدام حسین د خپل ژوند په وروستي شپه کې د پخ کړي چرګ خوړل رد کړي او د قرآن کریم نسخه یې غوښتې وه، د شپې یوه بجه ویده کېده.

د صدام حسین ګارډ په لوړ آواز پرې طنز کاوه او ملنډې یې پرې وهلې. امریکایي ګارډ سنډې ټیلي ګراف ته وویل: «له ګارډ سره هغه رسۍ موجوده وه چې صدام یې پرې اعداماوه، او هغوی



جلاد د صدام پر غاړه دستمال تړي

صدام ته ویل: دا هغه رسی ده چې ستا انتظار کوي. امریکایي او عراقي ګارډ د صدام په شاوخوا کې رقص کاوه. هغوی وویل چې موږ صدام خوب ته پرې نښود، موږ هغه ښه ذلیل کړی و، سبا پنځو بجو نه وروسته ځینې حکومتي مامورین زندان ته ورغلل، صدام له سبا نهاري نه انکار وکړ، هغه له یوه ګارډ نه سګرټ وغوښت، خو غوښتنه یې رد شوه او بیا یې لاسونه وروتړل او دننه یې راووست، قاضي ورته د مرګ د جزا تفصیل واوراوه.

قاضي وویل: «صدام ته د هغه جرم په بدل کې چې په «دوجیل» کې یې ۱۴۸ کلیوال شیعه ګان وژلي و د مرګ سزا اورول کېږي.» په ۱۹۸۲ میلادي کال کې د همدغه دوجیل په سیمه کې د صدام د ترور ناکامه هڅه شوې وه.

پخوانی جمهور رئیس ۶۹ کلن بوډا صدام، هلته خپل قرآنکریم یوچا ته ورکړ او ویې ویل: «دا زما دوست ته ورکړئ.»

د صدام حسین لاسونه یې خوشې کړل او بیا یې د هغه ترشا وتړل او د هغه پښې یې هم وتړلې او بیا یې د پانسي غرفې ته راوستل. هلته څلور تنه جلادان چې مخونه یې په تورو نقابونو پوښولي وو دهغه د پانسي کولو لپاره تیار ولاړ وو. صدام په لوړ آواز «الله اکبر» وویل: ملت به فاتح شي، فلسطین عرب دی. هلته یو قاضي (منیر حداد) وویل چې صدام حسین وویل: «هغه له هېڅچا، نه وېرېږي.»

دا خورا بوږنوونکی او وحشتناکه صحنه وه، له دې سره سره صدام حسین ډېر مطمئن و او بالکل نه وډار شوی. زما دا تمه

ترې نه وه، کله چې هلته یوچا پوښتنه ترې وکړه چې آیا ته په وېره کې یې «د خوف احساس کوې»؟ صدام ځواب ورکړ: «په ژوند کې له هیچا، نه یم ډار شوی، ما د هغه مجاهد په شان ژوند تېر کړې چې هره شېبه له مرګ سره مخامخ کېدای شي.»

صدام حسین د شهادت کلمه ویله چې پانسي ورکوونکي ګارډ ددار د تختې رسۍ کش کړه او د تختې په لرې کېدو سره لاندې خلا پیدا شوه او د صدام پښې لاندې په خلا کې زوړندې پاتې شوې او د پانسي کړۍ وار په وار تنګېده. قاضي وویل: «موږ د ورمېږ د هډوکو د ماتېدو آواز واورېد.» له مرګ نه مخکې د صدام جسد ولړزېد او کرخ شو. د صدام حسین مړی یې په یو سپینه ټوټه کې تاو کړ، په امبولانس کې یې کېښود او د بغداد خورا امنیتي سیمې «ګرین زون» ته یې ورساوه.

د صدام حسین لبناني وکیل بشر الخالي وویل: له هغه ځایه د صدام حسین جسد د امریکایي الوتکې په وسیله د هغه پلارني قصبې تکریت ته د تدفین لپاره یوړ.

د عراق حکومت چې د صدام حسین د اعدامولو ویډیو ټیپ ښودلی و، په هغه کې د صدام هغه وضعیت ښودل شوی و چې له پانسي نه مخکې و. په دې ویډیو کې آواز نه و او دا ویډیو هغه وخت پای ته ورسېده چې پانسي کوونکو د صدام په غاړه کې د دار کړۍ واچوله. په ویډیو کې ښودل شوې صحنه، د یو عام او مهذب پانسي ورکولو تماشا وړاندې کوله.

د صدام حسین د اعدامولو پر مهال یو نامعلوم عیني شاهد،

دا ټوله صحنه د موبايل ټيلي فون په وسيله عكاسي كړې وه او ويډيو يي تصويرونه يې اخيستي وو. كه څه هم ددې ويډيو تصويرونه دومره روښانه نه دي؛ خو د عراق حكومت چې كوم سلوك له صدام حسين سره كړی و، كومې ملنډې يې چې پرې وهلې وې. دا ټول انكشافات په كې موجود وو. په دې ويډيو كې د صدام د توهينولو ټولې صحنې عكاسي شوې وې او هغه له سخره ډكې خبرې او آوازونه هم په كې ثبت شوي دي چې صدام ته شوې وې.

له دې ويډيو نه څرګندېږي چې صدام ته په مهذبه طريقه پانسي نه و وركړ شوی، بلكې د اعدام تر وروستيو شېبو پورې هلته ټولو حاضرينو عيني شاهدانو پرې ټوكې ټكالي او ملنډې وهلي دي؛ او په دې توګه هغه د مرګ پر مهال هم اذيت شوی دی. تر وروستيو شېبو پورې د صدام دښمنانو دا شعار وركاوه چې: «هغه به اوس جهنم ته لاړ شي.»

په دې ويډيو كې ښودل كېږي چې صدام د دار پر تختې باندې ولاړ دی او يو نقاب والا جلاد د هغه په غاړه كې د دار كړی اچوي؛ په دې وخت كې د عيني شاهدانو د ملنډو آوازونه راځي.

د ټولو نه مخكې د عراق د شيعه ګانو لارښود مقتدی الصدر په پلوي شعار وركول كېږي، مقتدی الصدر د مهدی لښكر مشر او د صدام حسين ډېر سخت دښمن ګڼل كېږي.

د صدام سا نيولی آواز پورته كېږي او وايي: «آيا دا انسانيت دی؟»

مګر بیا په اوچت آواز وایي: «ته جهنم ته رسېږې»

بیا هلته یو اند ښمن عیني شاهد وایي: «غلی شه، اوس مړ کېږي.»

په دې وخت کې صدام حسین بیا خپل فکر اسلام ته اړوي او د شهادت کلمه لولي؛ مګر کله چې د شهادت په کلمه کې د «محمد» صلی الله علیه و آله و سلم کلمې ته رسېږي، نو جلاد د کلمې له پوره کولو نه مخکې د دار د تختې رسۍ کش کاږي او پر دار یې ځړوي. له یو سخت ټکان نه وروسته د صدام حسین جسم آرام او کرخت شي او د دار په کړۍ ځوړند ښکاري .....

بیا په ویډیو کې د هغه مړی په دار ځړولی ښکاري.

د عراق چارواکو غوښتل چې د صدام حسین اعدام په تعویق ولوېږي؛ هغوی په دې وېره کې وو چې د صدام له اعدامولو سره سم به په عراق کې د مذهبي ټکرونو لړۍ پیل شي او د فتنو اور به هرڅه وسوځوي. د سني او شیعه ډلو ترمنځ به لاتاوتریخوالی او نفرت راشي؛ په داسې حال کې چې امریکایي چارواکي دا غوښتل چې صدام دې ژر ترژره اعدام شي.

د عراقي چارواکو له قوله ویل شوي دي چې امریکا د عراق حکومت ته تحریري ضمانت ورکړی و چې د صدام اعدام به د عراق د قوانینو له مخې سرته رسېږي.

د صدام حسین د اعدام په وړاندې وروستی خنډ د عراق سنی کُرد جمهور رئیس جلال طالباني کېدای شوای؛ ځکه چې هغه صدام حسین ته د مرګ د سزا فیصله غلطه ګڼلې وه؛ له همدې

لامله هغه د صدام حسین د مرګ یا اعدام پر دوسیې باندې له امضا کولو نه ډډه کړې وه. د صدام له اعدام نه مخکې د امریکا لوړ پوړي چارواکي د عراق له صدراعظم المالکي سره ددې لپاره کتلي وو چې د صدام حسین د جسد د لېږدولو او تکفین او تجهیز اهتمام وکړي.


په دې وخت کې عراقي چارواکو خبري رسنیو ته ویلي وو چې المالکي د صدام د مرګ پردوسیې باندې امضا کړې دی.....

د اختر په ورځ صدام ته د پانسي ورکولو په غبرګون کې عراق، منځنۍ ختیځ او نورو اسلامي هیوادونو د سخت غم او خفګان څرګندونه کړې وه.....

د صدام حسین د محاکمې له بهیر نه ګوښه کړی شوی کرد قاضي محمد امین خبري رسنیو ته وویل چې د لوی اختر په ورځو کې چاته پانسي ورکول د عراق له قوانینو نه خلاف کار دی. محمد امین وویل: د عراق له قوانینو سره سم د ملي او مذهبي مراسمو په ورځو کې پر هېڅ سزا باندې عمل نه کېږي.....

د صدام حسین د اعدام پر مهال موجود یو مؤظف امنیتي وګړي وویل چې پر صدام باندې نقاب والاو وګړو، ملنډې نه دي وهلي؛ بلکې دا د هغو کسانو کار کېدای شي چې د اعدام له کوټې نه بهر ولاړ وو.

د نوري المالکي د حکومت ځینې لوړ پوړي مامورین د صدام حسین د ژر ترژره پانسي کېدو هیله من وو. په موبایل ټیلیفون باندې د عکاسي شوې ویډیو. فلم د لومړي ځل لپاره د هماغې



جلاد، د صدام حسین په غاړه کې د پانسي کړۍ کېکاږي

ورځې په ماښام د انټرنټ پر شبکې باندې خپور شو. الجزیره تلویزیون هم دغه فلم ته ځانګړې ارزښت ورکړی و او خپلو لېوالو ته یې ننداري ته وړاندې کړی و.

دا ویډیو فلم ددې لپاره غیر معمولي او د اهمیت وړ دی چې په کې نه یوازې د صدام حسین د مخالفینو شعارونه واورول شو؛ بلکې په هغه کې د پانسي د تختې له لرې کولو نه وروسته د صدام زوړند او شتېدلی جسد ښودل شوی و، د هغه سترګې خلاصې پاتې وې او ورمېږ یې پر اوږې باندې زوړند ښودل شوی و .....

د عراق لوی څارنوال الفاروق چې صدام یې مجرم ثابت کړی و هم د هغه د اعدامېدو پرمهال هلته موجود و. هغه وویل چې هلته له دوو لوړپوړو دولتي چارواکو سره موبایل ټیلیفون موجود و، سره له دې چې امریکایي چارواکې له «ګرین زون» نه د خاصو وګړو د لېږد په لومړي مرحله کې چې هیلي کوپټر ته ختل د یو یوتن تلاشي اخیستې وه.

الفاروق د دوو تنو موبایل والاو نوم وانه خیست؛ مګر دا یې وویل چې کېدای شي نامعلوم سړي د پیسو لپاره دا ویډیو فلم جوړ کړی وي (چې د هغه په بدل کې له میډیا او نورو دوست او دښمنو ډلو نه پیسې لاس ته راوړي).

الفاروق یو ډنمارکي تلویزیوني شبکې ته د مرکې په ترڅ کې وویل: «زما په عقیده دا ضروري نه ده چې ددې فلم د جوړولو په باب تحقیق وشي، چې دا فلم چا جوړ کړی؟ دا فلم یې صرف د پیسو د لاسته راوړلو لپاره تهیه کړی - هرچا چې کړی، کړی به یې وي ...»

که څه هم دا پانسي د فلم یا ډرامې کوم پاڼکی څپرکی یا سکرېټ نه و؛ خو فلم جوړول د قانون خلاف کار نه دی. د عراق حکومتي اډوایزر یا مشاور سمی العسکري وویل: د عراق صدراعظم نوری المالکی د داخلي چارو وزارت ته هدایت ورکړی چې د هغو پېښو د پلټنې لپاره دې یو تحقیقاتي ټیم جوړ کړي چې چا دغه ویډیو فلم جوړ کړی و او په ویډیو فلم کې د صدام پرضد شعار ورکوونکی او هغه کسان چې پر صدام یې ملنډې کړي دي، څوک دي؟

الفاروق وویل: هغه هلته د صدام حسین له اعدام نه مخکې د شعار ورکوونکو افرادو پرضد احتجاج کړی و. هغه زیاته کړه چې «د فلم په سناریو کې دا اورېدل کېده چې الله تعالی پر محمد صلی الله علیه و آله و سلم او د هغه سپېڅلې کورنۍ ته دعا غوښتونکو باندې خپل رحمت نازل کړي او الله دې زموږ مرسته وکړي او الله دې د هغوی پر دښمنانو خپل عذاب نازل کاندي او د هغه د څوی (مقتدی) مرسته وکړي.»

پر هماغه مهال صدام ویلي دي چې «تاته انسانیت همدغه درزده کړي؟» یو بل شعار داسې اورېدل کېده چې «محمد باقر الصدر زنده باد!» د دعوی ګوند شیعه بنسټګر لاربښود چې د صدام په دور کې شهید کړی شوی و، همدغه محمد باقر الصدر و. له دې شعار نه وروسته د الفاروق آواز پورته کېده چې دوی ته یې ویل: «مهرباني وکړئ چوپ شئ، دا سړی مري؛ مهرباني وکړئ چوپ شئ زه له تاسې نه سوال کوم!»

کله چې صدام د دار د تختې له کشولو نه وروسته د دار پر سر خوړند و او جسد یې دې خوا او هاخوا کېده؛ نو یو آواز داسې اورېدل کېده: ((مه تښته، ببرته راشه!)) چې دا حقیقت یې څرګندا وه چې خلک د صدام د جسد په لوو په منډه و، نو چا هغوی ته د ببرته ګرځېدو خبره کړې وه.

د صدام د پانسی پرمهال د ګارډ د شمېر پته ونه لګېده، په دولتي ویډیو فلم کې، د صدام ترڅنګ اووه (۷) تنه موجود وو چې د هغو له جملې نه ۴ تنو نقاب اغوستي وو.

پردې ټولو پېښو باندې د امریکا یو پوځي نطاق تبصره وکړه او ویې ویل چې که چېرې د صدام د اعدامولو کار امریکایي پوځ ته سپارل کېده، نو په سهي توګه به یې ترسره کاوه.

((ایټالین ډیلي)) انکشاف کړی دی چې د صدام حسین د پانسي پرمهال د هغه سخت مخالف شیعه لارښود مقتدی الصدر هم هلته موجود و؛ هغه په خپله دا غوښته چې د صدام مرګ په خپلو سترګو وګوري.

د سعودي دوې ورځپاڼې ((الریاض)) او ((الوطن)) د هغو صحنو د عیني شاهدانو په حواله لیکلي دي چې هغوی هلته د پانسي په غرفه کې مقتدی الصدر په داسې حال کې لیدلي وو چې نقاب یې اغوستی و.

((د عراق د اسلامي انقلاب عالي شوری)) (Scirt) لارښود عبدالعزیز هم د صدام د اعدام پرمهال هلته موجود و. دا دواړه په نقاب اغوستونکو افرادو کې شامل وو؛ مګر ماته دا خبره

امریکایي پروپاګندا معلومېږي، دا څنګه ممکن دی چې امریکا ته مطلوب مقتدی الصدر د صدام په څنګ کې موجود وي او په دې وخت کې د امریکا سفیر او جنرال له عراق نه غایب وي (هلته حاضر نه وي)؟ ددې پروپاګندې هدف دا دی چې د امریکا پرخلاف د مسلمانانو د غبرګون مخه ونیسي. عیني شاهدانو وویل چې په ویډیو فلم کې د صدام حسین شاته، مقتدی الصدر هغه وخت د نقاب اغوستلو په حالت کې لیدل کېده چې یو ګارډ د صدام په غاړه کې د دار کړۍ اچوله.

د اردن یو زده کوونکی احمد ضیوسی ((انټر پریس سرویس)) ته په خپلو څرګندونو کې وویل چې صدام حسین ددې پېړۍ تر ټولو سترشهید دی. د بغداد یو تن اوسیدونکې چې پنځوس کلن و، وویل چې امریکایان او ایرانیان غواړي چې د صدام په اعدامولو سره عربان بې عزته او بې پته کړي. یو بل ۵۵ کلن بغدادي بوډا وویل چې زه د صدام پر انجام خوښ یم، زما به د هغه په اړه نوره پریشاني نه وي، ځکه چې هغه سپېڅلی مرګ موندلی دی، ددې کال تر ټولو نه په زیات مبارک وخت کې کله چې حاجیان په مکه مکرمه کې تقریباً حج پای ته رسولی وي او د الله اکبر شعارونه ورکوي. صَدام حسین دشهادت ویاړ ترلاسه کړی دی.

لیبیا د صدام پر اعدام د سخت غم او غصې له اظهار سره سره درې ورځې ملي ماتم اعلان کړ او سعودي هم د لوی اختر په ورځ د صدام پر اعدامولو باندې سخت انتقاد وکړ. ډېرو عراقیانو شکایت وکړ چې د صدام حسین د اعدامولو د ویډیو په لیدلو سره

دوی ډیر غمجن شوي دي. څلویښت کلنه ام یحیی د بغداد اوسېدونکې ووېل چې «موږ ته یې دغه ویډیو فلم وښوده، سخت یې ولړځولو، ماپه هماغه مهال خپلو مېلمنو ته د اختر د ورځې خواږه برابرول چې زما د بچیانو چیغې کوکارې پورته شوې، هغوی هم دا ویډیو لیدلی وه، ټول ډهشت ځپلي وو.»

د فلوجې ته (۹) کلنه نجلۍ چې د جنګ له لامله بغداد کې پناه اخیستې ده ویډیو فلم په باب ووېل: «کله چې ما دا فلم په تلویزیون کې وکوت په ژړا شوم، هغوی ولې د اختر په ورځ داسې وکړه؟ هغوی ولې دا فلم په تلویزیون کې وښود او ولې یې په وېره او ترهه کې واچولو؟»

په موبایل کې جوړ شوی فلم د شیعه اوسني ترمنځ نور هم نفرت ته لمن ووهه چې دا هم د امریکایانو کارنامه وه.

کله چې د عراق ملت دا ویډیو فلم وکوت له صدام سره یې همدردي زیاته شوه؛ خصوصاً هغه مهال چې مخالفینو یې ملنډې پرې وهلې. د سني علماو اتحادیه د صدام حسین د اعدامولو سخته غندنه وکړه. دغې اتحادیې ووېل چې د عراق صدراعظم نوري المالکي دا کار د امریکایانو د خوشالولو لپاره کړی. د صدام حسین یو مدافع وکیل نجیب النیومی د هغه د پانسي کېدو په دوهمه ورځ ووېل چې د صدام د اعدام پرمهال هېڅ وکیل ته هلته د حضور اجازه نه وه ورکړه شوې. هغه ووېل چې دا پانسي انتقامي عمل دی او د سیاسي موخو د پوره کولو لپاره یې صدام پانسي کړی دی.

په رمادي کې یو سني عالم وویل چې د عراق حکومت او د هغه اتحادي امریکا، صدام حسین ته د دغسې پانسي په تجویز سره ډېر احمقانه کار کړی دی. هغوی صدام حسین ته د خورا غوره مرګ ډالۍ وړاندې کړې او د کال په دغو مبارکو ورځو کې د صدام د اعدامولو غندنه کړې. د بغداد په لوېدیځ کې د وشاوش د کلي اوسېدونکې ۲۵ کلنې ښځې په دې اړه وویله چې صدام حسین شهید دی، ځکه چې هغه یې د اختر په ورځو کې اعدام کړی دی.

د عرب ټایم له رپوټ سره سم یو کویټي لوی تجار ویلي دي چې د صدام حسین د پانسي کولو رسۍ په لوړه بیه پېري، د هغه استازو د عراق د داخلي چارو وزارت ته د هغه دا وړاندیز وړاندې کړی. نوموړي ویلي دي چې په هره بیه وي اخیستلو ته یې تیار دی. د خبري منابعو له قوله مقتدی الصدر او کویټي تجار دواړو د عراق د داخلي چارو له وزارت سره په دې هکله خبرې کړي دي. همدغه کویټي تجار مخکې د صدام حسین هغه مجسمه هم پېرلې وه چې په «...» اینښودل شوی و. ویل کېږي چې نوموړی تجار د دغې مجسمې سر د خپل اوسېدو په کوټه کې اینښی دی.

د رویټر له رپوټ سره سم ویل شوي دي چې د امریکا پوځي نطاق ډګر جنرال ویلیم کلاډویل د یو مطبوعاتي کانفرانس په ترځ کې وویل چې صدام له امریکایي ګارډ سره تل اخلاقي سلوک کاوه. هغه زیاته کړه: کله چې صدام حسین یې د امریکایانو له تحویل نه پانسي ته بیول، نو هغه له امریکایي چارواکو نه مننه

وکړه چې په زندان کې يې ښه رويه ورسره کړی....

په زندان کې د صدام حسين د پالنې لپاره مامور نرس وويل چې صدام د خپل احتمالي مرګ لپاره په بشپړه توګه تيار و او هېڅکله يې له خپل قسمت نه ګله نه وه کړې. هغه په خپلو وروستيو وختو کې د بوټو او الوتونکو مرغانو په پالنه کې مشغول و....



په اردن کې د صدام حسین لور له خپلو پلویانو سره دخپل پلار د پانسی کیدلو پر ضد احتجاجي مظاهره کوي

## څلورم باب

# آیا پانسي شوی صدام اصلي صدام نه دی؟

د صدام حسین له اعدامېدو نه یوه اونۍ وروسته یوې انګلیسي ورځپاڼې ادعا وکړه چې صدام حسین ژوندی دی، امریکا اصلي صدام ته پانسي نه دی ورکړی؛ بلکې هغه له امریکایي سفیر زلمی خلیلزاد سره غایب شوی دی او د هغه پرځای یې د صدام هم شکله سړی په دار ځړولی. له ریپوټ سره سم د صدام هم شکله سړی په تېرولو چارو کې له صدام سره شریک و. د صدام حسین کډه او د کور خدمتګاره هم ددې خبرې تصدیق کړی دی چې پانسي شوی شخص د صدام حسین هم شکله و. د انګلیسي اخبار له ریپوټ سره سم ویل شوي دي چې د انټرنېټ ډېرو ویب سایټونو دا خبر خپور کړی چې د صدام د اعدامولو په ویډیو کې چې کوم شخص ښودل شوی د عراق پخوانی جمهور رئیس نه و او دا ادعا هم شوې چې امریکایانو د صدام حسین د ټیولو ډرامه جوړه کړې وه او د هغه هم شکله یې میډیا ته وړاندې کړه، بیا یې مقدمه پرې وچلوله او بیا یې پر دار وځړاوه. د صدام حسین کډه هاجره او کورنۍ خدمتګاره

((بیره سوله لینس)) هم ددې خبرې تصدیق کړی او ویلی یې دي چې پانسي شوی شخص صدام حسین نه و. د هغوی له خبرو سره سم د صدام حسین په کیڼ لاس باندې ځانګړې نښه وه چې له اعدام نه وروسته ویډیو کې ونه ښودل شوه او د زنداني غاښونه هسې نه ښودل کېده. یا نه لیدل کېده لکه چې د صدام په پخوانیو تصویرونو کې لیدل کېږي. د یو ویب سایټ له خبر سره سم صدام حسین د امریکا نږدې دوست و، هغه د بش د کورنۍ او همدارنګه د (CIA) د عملیاتو په اړه له هرچا نه ښه پوهېده. په دې صورت کې هغه له نیول کېدو نه وروسته، ددې حقایقو نه ولې ستر ګې پټې کړې، او ولې ددې حقایقو له انکشاف نه پرته پر دار وځړول شو (یعنې ښایي دغه رازونه یې ټول افشا کړي وای) په داسې حال کې چې هغه علناً په خلاصه فضا کې محاکمه شوی و.

## د صدام حسین د اعدامېدو یوه بله ویډیو

د کاوه ګوښه کړی شوی د عراق پخواني جمهور رئیس صدام حسین ته د دسامبر د میاشتې په دېرشم تاریخ کې پانسي ورکړای شو. له دې نېټې نه څو ورځې وروسته د ۲۰۰۷ کال د جنوري په ۹ مه نېټه پر انټرنټ باندې د هغه د اعدامولو یوبل غیر رسمي ویډیو وښودله شوه. دا نوی ویډیو هم د پخواني ویډیو په شان د موبایل ټیلیفون په وسیله جوړه شوې وه. په دې فلم کې د صدام حسین د اعدام ټول مراحل ښودل شوي دي. په دې نوي فلم کې د صدام جسد په کفن کې پېچل شوی او د روغتون یا د مړو د خونې

پر ګرځنده چپر کټ لیدل کېږي. د هغه پر ورمېږ باندې د ټپ نښه ده او سر یې یو خوا ته کوږ شوی دی. د هغه د غمبورو نه لاندې پر ورمېږ باندې د درې سانتي مترو په اندازه ژور ټپ دی چې کېدای شي د اعدام پرمهال د رسۍ د کشولو په پایله کې پیدا شوی وي. د هغه پرمخ باندې د وینو سرې نښې لیدل کېږي چې د زخم له لامله رامنځ ته شوي دي او د هغه پر کفن باندې هم د وینې سره داغونه له ورایه معلومېږي. په دې ۲۷ سکنډیزه کلپ کې مختلف آوازونه اورېدل کېږي چې په ظاهره کې د هغو خلکو آواز معلومېږي چې د هغه ویډیو یې جوړه کړې ده. یو سړی چې ویډیویي کامره یې په لاس کې ده د صدام له مخې نه کفن لرې کوي، په دې وخت کې د نامعلومو خلکو داسې آوازونه اورېدل کېږي چې وایي: ((ژر کوه! ژره کوه!))

یو بل سړی وایي: ((زه به تر څلورو بجو پورې په محکمه کې یم، راشه حبیبه ته به موږ ته کوم مصیبت جوړ کړې!))

دریم سړی وایي: ((زه راځم، زه راځم!))

دوهم سړی وایي: ((ابوعلي! ابوعلي! ته پردې پام کوه! حبیبه! حبیبه!))

دریم وایي: ((یوه دقیقه، فقط یوه دقیقه!))

لومړی چغه کوي وایي: ((زما دوسته، زما عزیزه، خدای پامان!))

دغه غیر رسمي ویډیو له ټولو نه مخکې لومړی په هغه عربي ویب سایټ کې خپره شوه چې ویل کېږي د بعث ګوند ویب سایټ

دي. دا ویډیو فلم تر دې عنوان لاندې خپور شو: «ابدي شهید جمهور رئیس صدام حسین».

د بی بی سی خبریال وایي چې د هغه پر ورمېږ باندې د ټپ نښه د پانسي له لامله کېدای شي؛ مګر هغه زیاته کړه چې د دې نوي ویډیو په لیدلو سره د صدام حسین د اعدام په حواله د اولس په غصه او نفرت کې زیاتوالی راشي.

د دې ویډیو نه مخکې د صدام د پانسي کولو غیر رسمي ویډیو په نړۍ کې د غم، غصې او پارېدلو احساساتو یو بهیر رامنځ ته کړی و او څو نړیوالو رهبرانو د هغه د اعدام پر طریقې باندې انتقادونه کړي وو.

د مصر جمهور رییس حسني مبارک ویلي و چې د اعدام پټه ویډیو فلم صدام ته د شهید مقام ورکړی دی.

د صدام د پانسي کولو لومړی غیر رسمي ویډیو فلم، د هغه له اعدام نه لږ وروسته په انټرنټ کې وښودل شو، په داسې حال کې چې له هغه نه مخکې په رسمي ویډیو فلم کې د چا هېڅ غږ یا آواز شامل نه و او د صدام د اعدام جریان یې په ډېر وقار سره ښودلی و....

پنځم باب

# د صدام حسین اعدام

## د اسلامي هیوادونو واکمنانو ته د امریکا د خطر زنګ

د صدام حسین اعدام د اسلامي نړۍ چارواکو ته دا پیغام ورکوي چې که چېرې د امریکا له اجنډا سره سم پرمخ ولاړ نشي نو د صدام په برخلیک به اخته شي. صدام چې د خپلې واکمنۍ په دوران کې څه وکړل د امریکا د شاباسۍ په پایله کې یې وکړل د عراق پر شیعه ګانو باندې مظالم او که پر کرد نژادو سنیانو باندې د کیمیاوي وسلو استعمال، په دې ټولو جنایاتو کې امریکا هغه حمایه کاوه. تر هغه پورې چې صدام حسین له امریکایي اجنډا سره سم پرمخ لاړ، د امریکا د سترګو توری و؛ مګر کله چې یې د امریکا له اجنډا سره سم له کارکولو نه ډډه وکړه؛ نو د دار تختې ته یې ورساوه. صدام حسین اوس زموږ په منځ کې نشته؛ مګر د عراقیانو په زړونو کې ژوندی دی، په عراق او ټوله نړۍ کې د هغه د اعدام پرخلاف مظاهرې وشوې او امریکا په کې وغندل شوه. صدام حسین د امریکا په خوښه اعدام شو، دا امریکا ده چې صدام یې له قدرت نه ګوښه کړ او پر دار یې وځړاوه. د عراق

حکومت په خپله واک نه لري؛ بلکې د امریکا په نغوته کار کوي، د عراق جمهور رئیس او صدراعظم هغه څه کوي چې امریکایي چارواکي ورته لارښوونه کوي. که چېرې امریکا غوښتی وای نو د صدام حسین د اعدام حکم په ابدي حبس یا له زندان نه په خلاصېدو بدلېدای شوای، مګر امریکایان اوس صدام ته اړتیا نه لري، امریکا ته د عراق د نویو چارواکو په بڼه ډېر صدامان لاس ته ورغلي دي. هغوی هغه کار کوي چې امریکا یې غواړي. د صدام حسین زوال هغه وخت پیل شو چې امریکا او اسرائیل یې وګواښه. صدام حسین د اتوم بم د جوړولو هڅه هم پیل کړې وه؛ مګر اسرائیل د امریکا په مرسته د هغه اتومي بټۍ تر سختې بمبارۍ لاندې له منځه یوړه. پر کویټ او ایران باندې د صدام حمله خورا ستر جنایت ګڼل کېږي؛ مګر دا امریکایان وو چې هغه ته یې پر ایران او کویټ د حملې قوماندې ورکړه. د ایران او عراق په جنګ کې امریکا ورته وسلې برابرولې او سعودي حکومت به ورسره د پیسو مرسته کوله. کله چې د ایران او عراق جګړه پای ته ورسېدله؛ نو صدام پر کویټ وخوت. په بغداد کې د امریکا سفیر وویل چې که چېرې عراق پر کویټ حمله وکړه؛ نو امریکا به بې پرې پاتې شي؛ مګر د سي آی ای چارواکو له صدام سره د کتنو په دوران کې هغه دې کار ته وهڅاوه: خو کله چې عراق پر کویټ حمله وکړه، نو امریکا د صدام مخالفت پیل کړه، تردې چې د ملګرو ملتو په امنیت شورۍ کې یې د عراق پرخلاف یو قرارداد منظور کړ چې عراق دې کویټ پرېږدي چې له هغه نه وروسته اتحادي ځواکونو د

امریکا په مشري، پر عراق پراخه حمله وکړه او هرڅه یې ورته نس نس کړه؛ عراق یې په څو زونونو وویشل، هسې خو پر عراق باندې اقتصادي، پوځي او تجارتي بندیزونو لا پخوا لګېدلي وو، امریکا غوښته چې په عراق کې د صدام پرځای د خپلې خوښې خلک قدرت ته ورسوي؛ مګر پر عراق باندې د صدام او بعث ګوند د ولکې له لامله د امریکا ټولې دسیسې ناکامې شوې. تردې وروسته د ۹/۱۱ پېښه رامنځ ته شوه. ددې پېښو له پای ته رسیدو وروسته امریکا د عراق پرضد د هغو وسلو د درلودلو پروپاګنډا پیل کړه چې په پراخه پیمانه تباهي راولي او بیا یې ددې بهانې په ترڅ کې پر عراق حمله وکړه. اصلاً امریکا په وېره کې وه چې که چېرې د عراق پوځي ځواک درې ورې نشي نو یو وخت نه یو وخت پر اسرائیل باندې پراخه حمله کولای شي چې امریکا ته به هېڅ شان د منلو او زغم وړ نه و. د اسرائیل د تباهي هیله د صدام د اعدام لامل شو. امریکا نه د عراق له شیعه وګړو سره همدردي لري او نه له کردانو سره. هغې ته خپلې ګټې عزیز دي. امریکا تر پرونه پورې د صدام پرضد عراقي اولس پاڅون ته هڅاوه؛ مګر نن د ایران اولس د ایران د جمهور رئیس محمود احمدي نژاد پرضد هڅوي، ځکه چې احمدي نژاد هم د اسرائیلو د ځپلو او د مځکې له مخې نه د هغوی د بشپړ جرړو ایستلو خبره کړې ده. آیا اوس به د احمدي نژاد انجام هم د صدام په شان وي؟ د عراق له بشپړ ایلولو نه پس د امریکا راتلونکی هدف ایران او بیا پاکستان دی. د ایران پرخلاف د ملګرو ملتو د امنیت شورى یو بل قرارداد

منظور کړی دی؛ داسې انګېرل کېږي چې په راتلونکو څو میاشتو کې به پر ایران اقتصادي او تجارتي بندیزونه ولګېږي او په بل پړاو کې به احمدي نژاد ته د اقتدار پرېښودلو اخطارونه ورکوي، او بیا به پر ایران باندې هم د عراق په شان حمله کېږي.

په اوسني مهال کې د امریکا په وړاندې د سني او شیعه دریځ یو شان دی، دواړه پر اسلامي هیوادونو او د هغوی پر وسایلو د امریکا د ښکېلاک او زبېښاک پرخلاف دي. سني او شیعه پر فلسطین باندې د یهودانو د مظالمو سخت مخالفین دي. امریکا او یهودان په دې پوهېږي چې که چېرې همدا اوس شیعه او سني مسلمانان سره خپلو منځو کې ونه جنګوي، نو سبا به د امریکا او اسرائیل د ګټو جنازه له اسلامي هیوادو نه پورته کېږي. امریکا د صدام په پانسي کولو سره د شیعه او سني مسلمانانو د ویش توطیه په لاره اچولې ده. امریکا د صدام په اعدامولو ددې جنایت بهیر شیعه مسلمانانو ته اړوي او هغوی ددې کار مسؤول ګڼي. له بله پلوه شیعه ګانو ته وایي چې سنیان د هغوی پر مقدسو ځایونو باندې حملې کوي ... اوس په عراق کې د کورني جګړې په شان یو حالت دی. سني او شیعه چې تر پرونه پورې سره ډېرې ښې اړیکې درلودې، نن یو پربل باندې ښکمن ښکاري. په عراق کې یو نه په زرهاو کورونه داسې دي چې هلته شیعه او سني په یو کور کې ګډ ژوند کوي؛ مګر اوس د هغوی ترمنځ هم واټن رامنځ ته کېږي. دا خطر هم احساسېږي چې په نوره اسلامي نړۍ کې، چېرته چې سنیان او شیعه ګان ګډ ژوند لري د عراق په شان حالت رامنځ ته نکړای شي.

سی آی ای چې د اسلامي هیوادونو د وګړو په باب کوم پلان جوړ کړی، له هغه سره سم تر ۲۰۱۵ میلادي کاله پورې دغه هیوادونه په پوځي او اقتصادي لحاظ کمزوري کوي، د ځینو اسلامي هیوادونو نقشه به هم بدله شي، په ټولو اسلامي هیوادونو کې به د امریکا د خوښې خلک سیاسي قدرت ته رسول کېږي، د صدام حسین اعدامول ددغې توطیې په لور خورا اوچت ګام دی.

د صدام حسین پانسي د پاکستان په شمول د اسلامي هیوادونو هغو ټولو واکمنانو ته یو زیګنال دی چې په اوسني مهال کې د امریکا له اجنډا سره سم کار کوي. د عراق په شمول د ډېرو اسلامي هیوادونو مستقبل په خطر کې دی، د صدام له اعدامولو نه وروسته د عراق یووالی، یا د یو موټي عراق تصویر تت ښکاري او ممکن نه دی چې دا هیواد د تخریب په لور لاړ نه شي. د عراق ګاونډي هیوادونه هریو د خپلو ګټو ساتنه غواړي او په خپلو ګټو پسې دي، په دې فکر کې نه دي چې سبا ددوی برخلیک هم د عراق په شان کېدای شي.

داسې انګېرل کېږي چې سبا ته د باجوړ او وزیرستان په جنګونو کې د وژل شوو خلکو دوسیه ددې هیواد د چارواکو پرضد وڅېړل شي او په همدغه بهانه دوی هم د صدام په شان محاکمې ته راکاږي؛ ځکه چې امریکا او امریکایي چارواکي د هېچا دوستان نه دي په افغانستان کې هم کټ مټ همدغه نقشه عملي شوه، د جهاد په دوران کې امریکا له مجاهدینو سره مرسته وکړه خو چې کله اهداف یې د روسانو د ماتې په صورت کې ترسره

شول، مجاهدین ترهه ګر شول او په نامه د حقوق بشر پلویان چې په حقیقت کې ټول جنایتکاران دي اوس د مجاهدینو د محاکمې خبره کوي او هغوی جنګي مجرمان بولي)

د ذوالفقار علی بوټو او صدام حسین ترمنځ یو ګډ امتیاز دا دی چې دواړه د اسرائیلو سخت مخالفین و او دواړو غوښتل چې خپل هیواد ته اتومي ځواک ورکړي او دواړه یې د خپلو هیوادو د عدلي نظام په وسیله د دار پر سر وځړول، هغه حکومتونه چې دوي یې پر دار وځړول دواړه د امریکا د حمایي په ترڅ کې په نوموړي هیوادو کې د امریکا جوړې مضبوطې کړې، د صدام حسین پر دار ځړول د هغو عربي هیوادونو چارواکو ته هم یو زیګنال دی (یوه نغوته ده، یوه اشاره ده، د خطر یو زنګ دی) چې که چېرې دوی د امریکا له اجنډا سره سم کار ونکړل، نو امریکا، هغوی هم د صدام خسین په برخلیک اخته کوي

**شپږم باب**

# ولې صدام حسین په بیړه اعدام شو؟

د صدام حسین په بیړنی پانسي کې داسې احساسېږي لکه چې د مجرمانو یو ټولی د کوم جرم اصلي ګواه، د اعدامولو په ترڅ کې غلی کړی وي؛ «رابرټ شییر» وایي چې د عراق پخواني جمهور رئیس یې د دې لپاره په ابدي خوب ویده کړ چې هغه په عراق کې د امریکا په کارنامو او د جورج واکر بش د پلار د ډېرو پټو توافقاتو او جوړ جاړو په باب ډېر ښه او ډېر څه پوهېده. شییر په یو آزاد ویب سایټ (Afternet) کې دا مطلب خپور کړی چې امریکا پر عراق باندې د حملې په ترڅ کې خورا خوفناکه لوبه دود کړی چې هغه پر هر هیواد باندې د درواغو تورونو په لګولو سره یرغل کولای شي، د هغه هیواد چارواکي ګوښه کولای شي او بیا ترته له دې چې هغه ته په نړیواله محکمه کې د دعوې دایرولو یا استغاثې حق ورکړي، کولای شي چې هغه په یوه مختصره محکمه کې محکوم کاندي او په دار یې وځړوي. حال دا چې دا تګلاره د غچ اخیستلو ده؛ د عدالت او انصاف غوښتنه نه ده. که چېرې په دې هکله پر



د صدام حسین قبر چې اوس د مزار حیثیت لري ( خلک یې زیارت ته ورځي)

عدالت عمل شوی وای؛ نو ښايي چې د هغه نړيوالې غوښتنې يې په نظر کې نيولای وای. د نوموړي مقدمې څارنه نړيواله محکمه کړې وای او دا دعوی يې په هغسې هيواد کې دايروله چې هلته مدافعو وکيلانو ته د دفاع آسانتياوې مهيا وای او همدارنګه د هغوی بشپړ امنيت تأمين وای. تر ټولو ستر ظلم او تيری دا ده چې په کوم جرم باندې صدام ته پانسي ورکړی شو هغه د رمز فيلډ د پنځلسو مياشتو مخکې سفر په پايله کې چې عراق ته يې سفر کړی و جوت شوی و، چې په هغه کې رمز فيلډ صدام حسين ته يوځل بيا د ايران پرخلاف د جنګ په باب ويلي وو. شيير ويلي دي چې له دوهمې نړيوالې جګړې نه وروسته امريکا دا اعلان کړی و چې د نازيانو په څير د درنو جرمونو مجرمانو د محاکمې پر مهال هم د عدالت او انصاف ټولې غوښتنې په نظر کې نيسي؛ مګر د عراق د پخواني جمهور رئيس په اړه يې ددې معيار هېڅ پروا ونکړه او پرهغه يې د «ستالين» د نمايشي محاکمو د سياسي ننداړتون په توګه مقدمه وچلوله.

يوازې د عراق حکومت نه، بلکې د هغه باداران هم د صدام حسين په اعدامولو کې له ډېرې عجلې نه کار واخيست او په دې مهم کار کې يې ډېره بيړه وکړه؛ ځکه تراوسه پورې پر صدام باندې د ورو جرمونو تور لګول شوی او فيصله پرې شوې وه چې هغه يې پر دار وځړاوه او پر نورو ټولو درنو جرمونو باندې يې قانوني چارچلند منسوخ کړی شو. که چېرې د عراق پر ديکتاتور باندې ددغو درنو جرمونو له لامله هم مقدمې چلېدې، نو په هغه صورت

کې اوسني عراقي حکومت ته د هیڅ شي د پټولو اړتیا نه پېښېده؛ مګر د امریکا لپاره اړین و چې پر هغو ټولو جرمونو باندې پرده واچوي؛ ځکه چې په خپله امریکا هم په هغو ټولو وحشیانه مظالمو کې شریک و.

د ۲۰۰۳ میلادي کال د مارچ د میاشتې په اړه لږ غور وکړئ؛ چې کله په همدغه نېټه امریکا په عراق حمله وکړه؛ نو پر عراق باندې یې د پراخې پیمانې تباهي کوونکو وسلو (WMDS) د لرلو تور ولګاوه. په هغه وخت کې یې په عراق کې د ډیموکراسي د راوستو یوه خبره هم نه وه کړې. پر عراق باندې له حملې نه مخکې د امریکا اولس ته ویل شوي وو چې د صدام حسین وسلې د ټولې نړۍ لپاره خورا لوی خطر دی. هغوی ته یې دا هم وویل چې صدام حسین هغه شیطان صفته انسان دی چې د خپل هیواد وګړي په زهرجنو ګازونو وژني.

امریکا ددغو ټولو خبرو په بهانه پر عراق وختله؛ مګر هلته یې په پراخه پیمانه تباهي کوونکي هیڅ ډول وسله ونه موندله. له همدې لامله یې د خپلې حملې بهانه بدله کړه او دا چیغې یې پیل کړې چې موږ غواړو د عراق اولس ته د ډیموکراسي ډالۍ وړاندې کړو. ددې نوی هدف لپاره هم امریکا ته دا په کار و چې صدام حسین د یو ویروونکي بدمعاش په توګه ډګر ته وباسي؛ له همدې لامله یې نړیوالو ته د هغه د مظالمو داستانونه واورول؛ لکه په ۱۹۸۸ میلادي کال کې پر کرد باغیانو باندې د زهرجنو ګازونو حمله، بیا یې دا ویتیله چې د هغو کردانو مقدمه وچلوي او صدام

تـه د اعـدام حکـم واوروي. مگـر وروستـه دا فیصلـه وشـوه چې پر صدام بانـدې د «دجیـل» د قصـبې د ۱۴۴ تنـو کلیوالـو د عـامې وژنې دعوی دایره کړي چې په ۱۹۸۲ کـال کې یې وژلي وو او یا ددوی د وژلو په دسیسه کې شریک و.

هو! د همدغې مقدمې په ترځ کې صدام تـه د مرگ سزا وارول شـوه او هغـه یې په ډېره بیړه پـر دار وځړاوه. پر کُردانـود زهرجنو گازونو د استعمال دعوی دوه میاشتې مخکې دایره شوې وه، په داسې حال کې چې په ۱۹۸۸ میلادي کال کې د کُردانو او پـه ۱۹۹۱ میلادي کال کې د شیعه گانو د پاڅون د ټکولو لـه لامله چې کومه عامه وژنه شوې وه د هغو پېښو د دعوی لپـاره د ۲۰۰۹ کـال نېټه په پلان کې وه؛ مگر امریکا د هغو وېرجنو او وېروونکو جرمونو د مقدمو تر طرحې او بنې پورې هم خلکو ته وراندې نکړ او پرې یې نښوده چې د خلکو په عام محضر کې مطرح شي.

«دجیل» هغه سیمه ده چې صدام حسین د ۱۹۷۰ پـه لسیزه کې د لومړی ځل لپاره د قدرت پر زینه لومړی قدم کېښود.

همدغه شخص په ۱۹۸۸ میلادي کال کې د ایران پرضد جگړه پیل کړه چې پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) کسـان پـه کې ووژل شول. همدغـه شـخص پـه ۱۹۸۹ – ۱۹۸۸ میـلادي کلونـو کې د کُردانو عامه وژنه وکړه؛ دا ځکه چې د کُردانو ځینې مشران د ایران په گټه خبرې کړې وې. همدغه شخص په ۱۹۹۵ میـلادي کـال کې کویټ تر پښو لاندې کړ او پـه ۱۹۹۱ کـال کې یې د عـراق د شیعـه گانو عـامه وژنه وکړه. علت یې دا و چې د ایران او عراق لـه جگړې وروسته

د هغه د ظالمانه حکومت پرضد آواز پورته کړي وو. دا ټول جرایم یې شاته وغورځاوه او هغه یې د «دوجیل» د پېښې په مقدمه کې د مرګ سزا ورکړه.

لوید یځوالو ته دا خبره داسې پوهولای شو چې که چېرې په ۱۹۴۵ میلادي کال کې هټلر ژوندی نیول شوی وای او پر هغه باندې د دوهمې نړیوالې جګړې د پیلولو او د یهودانو د عامې وژنې پېښې شاته غورځول شوی وای؛ مګر پر هغه د ۱۹۴۴ کال د بم د توطیې په دوسیه کې د شریک کېدو له لامله مقدمه چلېدلی وای؛ لوید یځوال به د هغه بهیر په باب څه فکر کاوه؟ آخر امریکا د کوم لامل له مخې د صدام حسین دومره درانه جرمونه یوې خواته پرېښوده او پر هغه یې یوازې د «دوجیل» د غمیزې مقدمه وچلوله؟ دا ځکه چې هغه د صدام یوازینی جرم و چې امریکا په کې ګډون نه درلود، نور نو هغه ټول جرایم یې د امریکا په نغوته او اشاره ترسره کړي و. امریکا د عراق د کمونستانو په عامه وژنه کې هم ککړ و. د امریکا (CIA) د کمونست ګوند د غړو فهرست صدام ته ورکړی ؤ، صدام و چې د امریکا په اشاره یې د ایران پرخلاف جګړه پیل کړه، ددې جګړې په دوران کې امریکا نه یوازې دا چې عراق ته عادي وسلې ورکړې، بلکې د زهرجنو وسلو د جوړولو لپاره یې کیمیاوي مواد هم ورته ورکړل. امریکا وه چې صدام ته یې د سټلایټ او اواکس الوتکو په وسیله د اخیستل شوو تصویرونو له مخې ایراني اهداف په ګوته کړل. همدغه امریکا وه چې د خپل هوایي ځواکونو هغه کارپوهان عراق ته ولېږل چې

نومورې تصویرونه عراقي پیلوټانو ته تشریح کړي او هغوی د هماغو نقشو له مخې پر ایراني مورچلونو باندې زهرجن ګازونه استعمال کړي او له منځه یې یوسي. د ریګن رژیم د زهرجنو ګازونو د استعمال په معامله کې د صدام پرخلاف د کانګریس غندنیز قرارداد ویټو کړی و او یا یې نه و پرېښې چې له سره دا قرارداد پاس شي او په ۱۹۸۸ میلادي کال کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هڅه کړې وه چې صدام حسین پرخپلو وطنوالو کردانو د زهرجن ګازونو د استعمال له الزام نه وژغوري؛ نو دا درواغ خبرونه یې خپاره کړل چې پر کردانو خو ایراني الوتکو زهرجن ګازونه استعمال کړي وو. امریکا وه چې د صدام حکومت د ژغورنې لپاره، له خلیج نه د هغو د تیلو د ټانکرونو د تېرېدو او ساتنې په خاطر خپل سمندري بېړۍ مؤظف کړي وو او د عراق جنګي الوتکو ته یې بالکل لاره خلاصه پرېښې وه چې د ایران په بندرونو کې د ایران د تېلو ټانکرونه په نښه کړي؛ تردې چې په ۱۹۸۹ میلادي کال کې کله چې د صدام الوتکو په غلطۍ سره د امریکا پر یوې سمندري بېړۍ حمله وکړه او د هغې ۳۷ تنه کارمندان یې ووژل، نو واشنګټن هغوی معاف کړ!!!

او بیا هغه د جورج واکر بش پلار و چې په ۱۹۹۱ میلادي کال کې، وروسته تر هغې چې صدام یې له کویټ نه وخغلاوه، نو د عراق شیعه ګان او کُردان یې د هغه پرضد بغاوت او پاڅون ته وهڅاوه، او کله چې شیعه ګان د هغه په وینا خوځښت پیل کړ، نو امریکایي هوایي ځواکونه د هغوی په ساتنه کې ناکام شول؛ لنډه دا

چې امریکا د صدام په ټولو لویو جرمونو کې شریک و . همدا وجه وه چې د هغه پرخلاف یې دداسې مقدمې د چلولو په مخ کې خنډ شو چې د مقدمې د اوریدلو پرمهال دده خپل جنایتونه رابرسېره نشي او د مقدمو د توضیح او څېړنې په دوران کې د جرایمو تفصیلات او توکي د عامو خلکو په حلقه کې مطرح نشي.

له همدې لامله د اوسني بش رژیم د ټولو دوسیو نه مخکې لومړی د «دجیل» دوسیه برسېره کړه او پر همدغې دوسیې باندې یې پر صدام مقدمه وچلوله او نور درانه جرمونه یې مستقبل ته ملتوي کړ؛ ځکه چې امریکا پوهېده چې د «دجیل» په مقدمه کې صدام ته د مرګ له سزا اوړولو نه وروسته، هغه پاتې ټولې دوسیې منسوخ بولي او د هغې خپل وېروونکي جرمونه د خلکو له نظره پټ پاتې کېږي.

اووم باب

# د سوبمن (فاتح) غج

د صدام حسین د ژوند شرمېدلی داستان پای ته ورسېد ... د هغه نیول کېدل، مقدمه او د مرګ سزا، پر عراق د امریکا د واکمنۍ یو افسوسناکه استعاره شوه، کوم کار چې په ډېرې ښې طریقې سره ترسره کېده، هغه یې په ډېره بده توګه ترسره کړه. دا خبره نشو هېرولای چې صدام کوم عادي واکمن نه و، هغه چې په نوي تاریخ کې کوم حکومت جوړ کړ، هغه د شوروي اتحاد د «ستالین» د چین د «ماوزي تونګ» او د شمالي کوریا د دوهم «کم جانګ» له حکومت سره مقایسه کولای شو؛ لکه چې امریکا د هغه د نسکورولو لپاره چې کوم تدبیر غوره کړه، په لومړۍ پړاو کې لوېدیځوالو هغه د عراق لپاره نېک شګون وګاڼه.

مګر د بش رژیم پر صدام باندې د بین المللي قانون له مخې یا په هغې محکمې کې چې د پراخو اختیاراتو خاوند دی ډېر ژر د مقدمې چلولو یا محاکمه کولو تصمیم پرېښود. هغې به ولې داسې نه کوله، آخر هغه پر عراق باندې د حملې لپاره او پر هغه

باندې د تسلط په جهت کې د ملګرو ملتو حمايت حاصلول يې هم بې کاره هڅه ګڼلې وه. هغه د صدام د برخليک فيصله د هغه عراقي حکومت په لاس کې ورکړه چې هلته امريکايان واکمن دي او برلاسي د هغوی ده.

دا هرڅه حتمي نه وه، ډېرو عراقيانو غوښته چې صدام له قدرت نه ګوښه کړای شي، د امريکا له حملې نه څو مياشتې وروسته نوي حکومت ته د اولس په سلو کې ۷۰ وګړي حمايت حاصل و، د عراق سني عربان هم په همدې اندازه د نوي حکومت پلويان وو، کله چې په لومړيو مياشتو کې د امريکايي پوځ پرخلاف حملې پيل شوې، صرف په سلو کې ۱۴ تنه عراقيانو يې پلوي وکړه؛ مګر نن په سلو کې ۷۰ تنه عراقي وګړي يې ملګرتيا کوي. په دې ورځو کې د امريکايانو پرخلاف د جهاد مرکز د سني ميشتو سيمه (فلوجه) نه ده، بلکې د جهاد پيل د شيعه ګانو له مقدس ښار نجف اشرف نه شوی و.

په پيل کې د هغو قيامت جوړوونکو مياشتو په دوران کې امريکا د عراق پوځ غير قانوني وباله او پنځوس زره تنه دولتي مامورين يې له کاره ګوښه کړه چې په پايله کې يې دولتي تشکيلات ګډوډ شول، د امنيت ژوره خلا رامنځ ته شوه، دولتي ماشين له بحران سره مخامخ شو او په لکونو عراقيان وزګار شول. د صدام په دور کې د عراق هيوادني چارې د سني طبقې د لوړو شخصيتونو په لاس کې و؛ هغوی د امريکايي ښکېلاکګرو دا کار داسې انقلاب وګڼل چې په هغه کې يې يوه نوې برلاسې طبقه

رامنځ ته کړې وه، د هغې لپاره نوی عراق د یو نوي دیکتاتوري په بنه رابرسېره شوه.

## د صدام ناسکه ورور او پخواني قاضي القضات هم اعدام شول

د ۲۰۰۷ میلادي کال د جنوري د میاشتې په ۱۵مه نېټه د صدام ناسکه ورور برزان التکریتي او پخواني قاضي القضات «عواد حامد البندر» هم اعدام شول. د اعدام له ځای نه د یو رپوټ په ترځ کې ویل شوي دي چې د پانسي پرمهال د صدام حسین د ناسکه ورور برزان التکریتي سر له تن نه بېل شو او د هغه جسد تر ډېر ځنډه پورې شتېده. د امنیتي مسؤول منقط الفارون له وینا سره سم ویل شوي دي چې دواړه کسان سباوون مهال اعدام شول. هغه وویل چې حکومت راوبللم او ماته یې وویل چې د پانسي د مشاهدې لپاره یوڅوک له ځان سره بوځه؛ نو ما یو قاضي هلته ولېږه. هغه ماته وویل چې هغه دواړه له پروګرام سره سم عدام شول..... د پخواني جمهور رییس صدام حسین د اعدام پر کړندود باندې په ټوله نړۍ کې سخت تنقیدونه وشول او عراقي چارواکی د صدام د اعدام په هکله متضاد اعلانونه وکړل ... «نو له همدې لامله ددې دوو تنو د اعدام لپاره یې ډېر کسان بونه تلل.» د برزان التکریتي او عواد البندر جسدونه یې د امریکایي هلي کوپټر په وسیله د صدام حسین پلرني قصبې (تکریت) ته واستول او هغوی یې د هغوی له وصیت سره سم په «اوجا» کې د صدام حسین د قبر په چاپېریال کې خاورو ته وسپارل.



د صدام حسین هغه تاریخی ( یادگاری) تصویر چې له خپلو دوو ځامنو (عدی او قصی) سره یې اخیستی

د انسـاني حقوقـو نړیـوال سـازمان (ایمنسـتي انټرنیشـنل) د صدام حسین د دواړو ملګرو اعدام ظالمانه وباله او ویې غانده د برطانیې حکومت ویاند ددوی د مرګ سزا تایید کړ او ویې ویل چې دا د ((یو خودمختاره آزاد حکومت)) فیصله وه؛ په داسې حال کـې چـې د اروپـایي ټولنې غـړي، ایټالیـا یـې غندنـه کـړې ده. د ملګرو ملتـو د بشـري حقوقـو لـوی کمشـنر ((لـویس آربرنـی)) ددې دواړو تنو پر اعدام د افسوس څرګندونه کړې اوویلي یې دي چې دا اقدام، د قضایي محکمې کتارې ته د خطرناکو مجرمـانو راوستل او پر هغوی مقدمه چلولو ته زیان رسولی دی. همدارنګه د ملګرو ملتو عمومي منشي (بانکیمون) هم د پانسي اقدام او په ضمن کې د ملګرو ملتو د سازمان د غوښتنو ردول یې غندلی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې کنډولیزارایس د اعدام معامله د عراق د حکومت داخلي معامله بللې او په دې توګه یې د ځان د خلاصولو هڅه کړې او ویلي یې دي چې اوس به په عراق کې حالات مخ په ښه کېدو شي.

((الجمهوریه)) عربي اونیزې لیکلي دي چې امریکـایي چـارواکو پـر عراقـي واکمنو ټینګـار کـاوه چـې د صـدام ناسـکه ورور دې ژر ترژره اعدام شي؛ امریکایي چارواکي وایـي چې اوس بـه پـه عـراق کې حالات ښه شي.

**اتم باب**

## د صدام حسين مقدمه؛
## کوم مهال، څه وشو؟

پر صدام حسين او د هغه د اووه تنو ملګرو پر خلاف د دوجيل د پېښې له لامله چې په ۱۹۸۲ ميلادي کال کې هلته د ۱۴۸ تنو شيعه ګانو ډله ايزه وژنه شوې وه محاکمه دايره شوه؛ دلته د هغې محاکمې د مهمو پېښو لنډيز چې په څانګړو نېټو کې ترسره شوي، په دې توګه وړاندې کوو:

**يکشنبه د ۲۰۰٦ ميلادي کال د نومبر د مياشتې پنځمه**

پر صدام حسين باندې د انسانيت پر خلاف جرمونه ثابتېږي، پر هغه دا الزام و چې په ۱۹۸۲ ميلادي کال کې يې د دوجيل په سيمه کې ۱۴۸ تنه شيعه وګړي په ډله ايزه توګه اعدام کړي دي. په دې ترڅ کې صدام حسين ته د پانسي له لارې د اعدامولو حکم اورول کېږي.



د صدام حسین هغه تصویر چې له نیول کېدو نه څو شیبې وروسته اخیستل شوی

**یکشنبه د اکتوبر ۲۹ مه**

د حکومتي مدافعو وکیلانو مشر (لوی څارنوال) جعفر النمساوي وایي: څرنګه چې تراوسه لا د صدام حسین د محاکمې ځینې قضایي مرحلې بشپړ شوي نه دي د صدام حسین محاکمه چې د نومبر په پنځمه کېدونکې ده، په هغه کې دوه اونۍ تاخیر راتلای شي.

**پنجشنبه د جولای ۲۷ مه**

صدام حسین په خپل وروستي محاکمه کې، محکمې ته نه وړاندې کېږي؛ مګر دوه نور تورنان (د پخواني جمهور رئیس مرستیال طه یاسین رمضان او عود حماد البندر محکمې ته حاضرېږي. نن دا ویل کېږي چې د صدام حسین د برخلیک فیصله په اکتوبر کې کېږي.

**٤ شنبه د جولای ۲٦ مه**

صدام حسین بیا محکمې ته حاضرېږي؛ مګر وایي چې په زوره له روغتون نه راوستل شوی دی. هغه وایي چې که چېرې محکمه ورته د مرګ جزا اوروي؛ نو غواړي چې د پانسي پرځای په ګولیو وویشتل شي؛ ما غوندې پوځي سړي ته د مرګ د سزا ورکولو غوره لاره په ګولیو ویشتل دي. صدام حسین د لوږې د اعتصاب له لامله کمزوری ښکاري؛ مګر نن، پس ته ویل کېږي چې په خوړلو چښلو راغلی دی.

**دوشنبه د جولای ۲٤ مه**

د محکمې بهير لـه سره پيـل کېږي؛ مگر صدام حسين د غذايي اعتصاب له لامله ناروغ دی او محکمې ته حاضرېږي. پر صدام سربېره نور تورن اشخاص هم ددې لپاره د محاکمې په بهير کې برخه نه اخلي چې د هغوی پر خلاف محاکمه په عادلانه توگه نه ترسره کېږي.

نن قاضي القضات «رؤف عبدالرحمان»، د صدام ناسکه ورور د عراق د پخواني حکومت د استخباراتو رئيس ابراهيم التکريتی ته وايي چې د هغه لاسونه په وينو سره دي.

**سه شنبه د جولای ۱۱ مه**

قاضی القضات د محکمې بهير په تعويق اچوي، او صدام او د هغه د ملگرو مدافعو وکيلانو ته تېنگار کوي چې د محکمې بايکاټ پای ته ورسوي، له دوو ورو مجرمانو پرته صدام او د هغه ملگري هم محکمې ته نه راځي.

**دوشنبه دجولای ۱۰ مه**

صدام حسين محکمې ته د بايکاټ اعلان کوي؛ هغه وايي چې د محاکمې بهير پر بين المللي او عراقي قوانينو له ملنډو پرته بل څه نه دی او د هغې شاته شوم اهداف دي.

صدام دا څرگندونې نن هغه مهال کوي چې محکمه د مدافعو وکيلانو دلايل سره ټولوي.

پر صدام سربېره د نورو لویو مجرمانو مدافع وکیلان هم وايي چې ترهغه پورې ددوی د امنیت سهي او په زړه پوری اهتمام نه وي شوی، دوی هم له محکمې نه بایکاټ کوي.

**دوشنبه د جولای ۱۹ مه**

د استغاثې د وکیلانو مشر (لوی څارنوال) د تورنو پرضد خپل دلایل سره ټولوي؛ له محکمې نه غواړي چې صدام حسین، د هغه ناسکه ورور او طه یاسین رمضان ته د مرګ سزا ورکړي.

هغه ویل چې دغو خلکو د مځکې پرمخ فساد خورول آن چې ونې هم ددوی د ظلم او تیرې نه محفوظې نه وې. د محکمې بهیر د جولای تر لسمې پورې په تعویق لوېږي. پر هغه مهال به د برأت وکیل خپل دلایل وړاندې کوي، له دې نه وروسته د پنځو قاضیانو په شمول غنډه به د فیصلې د لیکلو لپاره له خلکو نه ګوښې ته شي.

ن ن حکومتي مدافع وکیل وایي چې د بعث ګوند د غړی محمد عزام عزاوي پرخلاف تورونه بېرته اخیستل کېږي او دی له محکمې نه غواړي چې عزاوي ته برائت ورکړي.

**سه شنبه د جون د میاشتې ۱۲ مه**


قاضي القضات د محاکمې بهیر پیلوي او وایي چې د تبرئې د وکیلانو لپاره وروستی چانس ورکول کېږي. قاضي القضات، تورنان او د هغوی مدافع وکیلان ګواښي چې اوږدې بیانیې

بند کړئ، تاسو ۲۲ شاهدان هېر کړي دي، که چېرې دا کافي نه وي نو که زه سل تنه شاهدان هم وغواړم نو تاسې به یې کافي نه بولئ.

**۲ شنبه د جون ۱۲ مه**

د محاکمې د بهیر په پیل کې ګډوډي جوړېږي، د صدام حسین ناسکه ورور برزان التکریتي له قاضي سره شخړه پیلوي، چې په پایله کې د امنیت مؤظف کسان راځي او هغه د قضا له انګړ نه بهر وباسي. د تبرئې وکیل له محکمې نه زیات وخت غواړي؛ مدافع وکیل «کرټس ډوبلر» وایي چې په دې توګه د محاکمې بهیر د تبرئې وکیلان له سختو ستونځو سره مخامخ کوي. هغه وایي چې مدعی العموم یا د استغاثې وکیل ته د دلایلو د بشپړولو لپاره پنځه میاشتې وخت ورکوي حال دا چې مدافعو وکیلانو ته وایي چې هغوی دې په څو اونیو کې خپل دلایل بشپړ کړي.

قاضي عبدالرحمن وایي چې د هغه د څلورو شاهدانو پرخلاف محکمه دایرېږي؛ شاهدان چې تېره اونۍ یې ویلي وو چې د استغاثې وکیل د مدعی العموم (لوی څارنوال) هغوی ته د غلط شهادت ورکولو لپاره د رشوت وړاندیز کړی و، د څلورو شاهدانو له جملې نه دریو تنو ویلي وو چې د کومو خلکو د وژلو تور پر صدام حسین او د هغه پر ملګرو پورې کېږي او مقدمه پرې چلېږي، له هغې جملې نه ډېر کسان ژوندي دي. قاضي وویل موږ



د محکمې گارډ، صدام نه پرېږدي چې د محاکمې پر وخت خبرې وکړي

ته معلوم دی چې دا خلک درواغ ویل، نو ځکه د هغوی پر خلاف محاکمه دایرېږي.

**دوشنبه د جون پنځمه**

مدافع وکیلان په محکمه کې د هغو د مؤکلانو پر خلاف د لاسوندو ثبوتونو وړاندې کول چلنج کوي، د هغوی دا غوښتنه ده چې د محاکمې بهیر دې ودرول شي اول دې دا فیصله وشي چې دا لاسوندونه سهي دي که غلط؟

**٤ شنبه د مې ۳۱ مه**

مدافع وکیلان ادعا کوي چې د استغاثې وکیلان محکمې ته غلط ثبوت وړاندې کوي؛ خو هغوی ددې الزام تردید کوي. د صدام حسین او نورو تورنو له خوا یو شاهد وایي چې د استغاثې وکیل هغوی ته د خپل بیان بدلولو خبره کړې ده او هغوی ته یې د رشوت وړاندیز هم وکړ.

**۳ شنبه د مې ۳۰ مه**

د صدام او د هغه د ملګرو د تبرئې یو ګواه محکمې ته وایي، هغه ۱۴۸ کسان چې د هغو د وژلو په تور صدام محاکمه کېږي د هغو له جملې نه ۲۳ کسان ژوندي دي.

په دې وخت کې قاضي مدافعو وکیلانو ته وایي چې هغوی دې د خپلو ګواهانو شمېر کم کاندي، ځکه چې محکمه معیاري ګواهي غواړي نه د ګواهانو د شمیر زیاتونه.

**٤ شنبه د مې ۲٤ مه**

د عـراق د پخـواني جمهـور رییـس مرسـتیال طـارق عزیـز د صدام حسـین د ګواه په توګـه محکمې تـه وړاندې کېږي. هغـه ـه خپلو څرګندونو کې وایي چې صـدام حسـین ترڅـو لسـیزو پـورې د هغه ملګری پاتې شوی دی.

**دوشنبه د مې ۱۵ مه**

نن د استغاثې د وکیـل د دلایلو لـه بشـپړېدو سره سـم، صـدام حسین د ځان په برائت کې له څه ویلو نه ډډه کوي، کله چې پوښتنه تـرې کېـږي چې دی ددغـو الزامـاتو پـه بـاب څه ویـل غـواړي؟ نـو صـدام حسـین وایـي چـې زه ددغـو الزامـاتو پـه اړه هـو او نـه نشـم ویلای، زه د عراق د خلکو پـه خوښـه د هغـوی جمهـور رئـیس ټاکل شوی یم او اوس هم د عراق جمهور رئیس یم.

**دوشنبه د اپریل ۲٤ مه**

د استغاثې، دولتـي وکیـل، مـدعی العمـوم د یـو ډیـالوګ یـا خبرو اترو ریکارډنګ خلکو ته اوروي او وایي چې دا هغه ټیلفوني خبرې اترې دي چې په دوجیل کې له وژنو وروسته د صدام او دهغه د پخواني مرستیال ترمنځ شوې وې.

**دوشنبه د اپریل ۱۷ مه**

د اسـتغاثې وکیـل ادعـا کـوي چـې پـه دوجیـل کـې د ۱۴۸



د زندان‌ګاره د صدام حسین لاسونه په زولنو تړي

کسانو د وژلو پر دوسیه باندې په خپله د صدام حسین امضا ثبت شوې ده.

د تبرئې وکیلان یا د محکومانو مدافع وکیلان وایي چې نوموړي کارپوهان آزاد نه دي، ځکه چې هغوی د داخلي چارو له وزارت سره اړیکې لري، په دې باندې محکمه کارپوهانوته ددغو امضاګانو د تشخیص لپاره نور هم وخت ورکوي.

**٤ شنبه د اپریل پنځمه**

نن پر صدام باندې د جرحې پیل وشو، صدام حسین د ځان پرخلاف وړاندې کړی شوي ثبوتونه ټول جعلي وبلل او رد یې کړ. سربېره پردې هغه تور لګوي چې د استغاثې وکیل دده پرخلاف ګواهانو باندې فشار اچوي او د خپلې خوښې اعتراف پرې کوي.

**٤ شنبه د مارچ ١٥ مه**

صدام حسین خپله اصولي دفاع پیلوي او محکمه مازې ملتوي بولي.

په دې وخت کې، هغه په سمارا کې د یوه شیعه زیارت په هکله چې حمله پرې شوې خلکو ته خبرداری ورکوي چې په دې هیواد کې مذهبي جګړه پیلېدلای شي؛ مګر هغه د امریکا پرخلاف د خلکو پاڅون ستایي او تاییدوي. قاضي صدام حسین ته اخطار ورکوي چې محکمه د سیاسي بیانیو لپاره نشي استعمالولای چې تردې وروسته د میډیا وګړو ته هم له محکمې نه د وتلو خبرې کېږي.

**دوشنبه د مارچ ۱۳مه**

یو تورن عواد حامد البندر ددې خبرې اعتراف کوي چې هغه په دوجیل کې ۱۴۸ تنه شیعه ګانو ته د مرګ سزا ورکړې ده؛ مګر هغه وایي چې په دې کار کې یې د قانون له حدودو نه تیری نه دی کړی.

البندر چې د یو انقلابي محکمې مشر و، ویل چې پر ټولو تورنو کسانو باندې اصولي مقدمه چلېدلې ده، د هغه په ځواب کې د استغاثې وکیل وایي چې هیڅ یو داسې کار نه و شوی (تورن کسان له محاکمې پرته پر دار زړول شوي او وژل شوي دي).

**٤ شنبه د مارچ لومړۍ نیټه**

نن په محکمه کې د ډرامې په شان کیفیت پیدا شو. صدام حسین ناڅاپه اعلان وکړ چې د هغه د اقتدار په دور کې چې څه شوي دي، یا څه وشول د هغه مسؤول یوازې دی، دی؛ له همدې لامله نور تورن کسان دې بري کړی شي. هغه په دوجیل کې د وژل شوو کسانو د فصلونو د تباه کولو اعتراف هم وکړ؛ مګر هغه ټینګار کاوه چې دا اقدام غیر قانوني نه و.

**دوشنبه د فبروري د میاشتې ۱۳مه**

کله چې صدام یې له بایکاټ نه وروسته په زوره محکمې ته راوستل، ډېر شورماشور یې جوړ کړ. هغه د امریکا او نوي قاضي پرخلاف شعارونه ورکول او ویل یې: «دا محکمه نه ده، دا مازې

یوه ډرامه ده ›› ددې له خبرو سره جوخت قاضي وویل: قانون وايي چې که تورن په خپله خوښه محکمې ته حاضر نه شو؛ نو کولای شئ چې په زوره يې محکمې ته راولئ.

**پنجشنبه د فبروري د میاشتې ۲ مه**

د صدام او د هغه د ملګرو د بایکاټ له امله هیڅ یو تورن محکمې ته حاضر نه شو.

**٤ شنبه د فبروري لومړۍ نېټه**

قاضي القضات وویل چې که چېرې صدام او د هغه ملګري محکمې ته حاضر هم نشي هغه د مقدمې بهیر پرمخ بیایي.

**یکشنبه د جنوري ۲۹مه**

د محاکمې له پیلېدو نه څو دقیقې وروسته، صدام حسین له محکمې نه بهر ووت، قاضي د تبرئې یا صفایي وکیلان تنبیه کړ چې هغوی خپل موکلان وپوهوي، قاضي پر هغوی تور ولګاوه چې هغوی خپل موکلان د محاکمې د بهیر د سبوتاژولو لپاره هڅوي.

**سه شنبه د جنوري ۲٤مه**

د تورنو کسانو د بایکاټ او غیرحاضرئ له امله د مقدمې بهیر په تعویق اچول کېږي.

**٤ شنبه د دسامبر ۲۱ (۲۰۰۵ میلادي کال)**

صدام حسین محکمې ته وویل چې امریکایي پوځیانو له نیولو نه وروسته شکنجه کړي وو، هغه وویل چې پر ټول بدن یې د شکنجې نښې اوس هم شته، محکمه د هغه دا خبرې ملنډې وبللې

نن د استغاثې د وکیل له پلوه شاهد، ګواهي ته وړاندې شو، هغه وویل چې د هغه پر والدینو دده په وړاندې تشدد کړی شوی و او د هغو له جملې نه یې ځینې وګړي وژلي وو؛ ددې خبرې په اوریدو سره برزان التکریتی ودرید، چیغه یې کړه او ویې وویل چې هغه سیاستمدار دی مجرم نه دی، زما لاس بالکل صاف دی.

**٤ شنبه د دسامبر اوومه**

نن د محکمې ډیر وخت په دې کې تېر شو چې صدام حسین د محاکمې د بهیر په دوران کې له بایکاټ نه ایسار کړي.

**سه شنبه د دسامبر د میاشتې ۶مه (۲۰۰۵ میلادي کال)**

محکمه د دوجیل د دریو تنو شاهدانو څرګندونې واوریدې، هغوی ته اجازه شوې وه چې د خپل پېژند ګلوۍ نه پرته کولای شي د پردې له شانه خپلې خبرې ریکارډ کړي.

وروسته بیا چې کله قاضي وویل د مقدمې اوریدل او سماعت به د ۴ سبې په ورځ هم جاري وي؛ نو صدام غصه شو او قاضي ته یې په خطاب کې وویل: ((ته جهنم ته لاړ شه!))

**دوشنبه د دسامبر ۵ مه**

نن د استغاثې د وکیل له خوا یو ګواه وړاندې شو؛ د ګواه له څرګندونو سره جوخت، صدام حسین هم خبرې پیل کړې او ویې ویل چې هغه د مرګ له سزا نه، نه وېرېږي.

**دوشنبه د نومبر د میاشتې ۲۸ مه**

محکمه د هغه شاهد څرګندونې واورېدې چې په ۱۹۸۲ میلادي کال کې د دوجیل د وژنو پرمهال د خفیه پولیسو افسر و او په دې وخت کې د صدام حسین له پلوه څلور تنه ګواهان وړاندې کېدونکي وو.

**٤ شنبه د اکتوبر ۱۹مه (۲۰۰۵)**

د صدام حسین او نورو د مقدمې بهیر د سختو امنیتي تدابیرو په ترځ کې پیل شو، صدام حسین د محکمې له منلو نه انکار وکړ، له دریو ساعتونو کار نه وروسته د مقدمې بهیر د نومبر تر ۲۸مې پورې په تعویق ولوېد.


## نهم باب

# کوم یو صدام خطرناک دی؟

پر عراق باندې د امریکا او د هغې د متحدینو له ولکې نه وروسته کله چې صدام حسین او ملګرو یې مخفي شوي وو، د درستې اسلامي نړۍ مسلمانانو دا پوښتنه کوله چې له صدام سره به څه وشي، او امریکا چې په پای کې خپل ګوډاګي چارواکي نورو ته د عبرت ښې جوړوي، د صدام لپاره به کومه لاره غوره کړي؟

په دې لړ کې د هغو خلکو هم کمی نه وچې پر دې باندې متیقن و چې صدام لامخکې امریکا ته لېږل شوی دی او په امریکا کې دی، امریکا نه غوښتله چې صدام حسین وړاندې شي او ټولې نړۍ ته و وايي چې امریکا د کومې تباه کوونکې وسلې د درلودلو په جرم چې پر عراق یرغل کړی و، هغه د ایران او کردانو پر خلاف د استعمال شوو کیمیاوي وسلو په شان په خپله د امریکې او انګلستان جوړې کړي وسلې وې.

مګر په عراق کې موجود امریکايي اتحادي پوځونه خلکو ته



د عراق پخوانی جمهور رئیس صدام حسین په محکمه کې قرآن په لاس خپلې خبرې ثبتوي

ددې تأثر په ورکولو کامیاب پاتې شوي دي چې په عراق کې ددوی پرضد جګړه د صدام حسین د ملګرو کار دی او که چېرې د هغه د اعتماد وړ ملګري ونیول شي، نو په عراق کې به د مقاومت غورځنګ پای ته ورسېږي، ددې خبرې د ثبوت لپاره د پال بریمر دا خبرې په یاد کې ساتل په کار دي چې ویلي یې دي: «اوس دې ټول عراقیان مخالفت پرېږدي او د عراق د بیا رغاونې په چارو کې برخه واخلي.» ددې خبرو نه بالکل ځرګندېږي چې هغه د مقاومت د ډلو په باب څه نظر لري.په دې اړه له فکر کولو نه پرته چې د مقاومت د ډلې غړي څوک دي، او اوس هم هغوی ته وسایل او امکانات له کومه ترلاسه کېږي، دا خبره اوس برېنده شوې ده چې ددوی د مقاومت لامل صدام نه و؛ بلکې د مقاومت ډلو ته د عربي هیوادونو خصوصاً د سعودي عربستان مرستې جاري دي او هماغوی یې حمایه کوي؛ له همدې لامله د صدام له اعدام نه وروسته هم د مقاومت د ډلو جګړه د امریکا پرخلاف روانه ده.

ښکاره خبره ده چې د صدام د پانسي پر ورځ په بغداد کې ځای، ځای چاودنې وشوې چې د هغو چاودنو له لامله اویا تنه ووژل شول او پر دوهمه ورځ د موټر بم د چاودنې له لامله ۸۰ تنه ووژل شول او یو موټر بم له چاودلو نه مخکې خنثی کړی شو.

د اکثرو مبصرینو دا نظر دی چې پر عراق د حملې هدف یوازې د صدام اعداماول او نیول نه و، بلکې د عراق اشغال و چې د هغو عملیاتو تسلسل بلل کېږي چې پر کویټ باندې یې لومړی صدام وهڅاوه او بیا یې پر عراق حمله وکړه، او دا چې په پایله کې

یې په ارزان قیمت د تیل د ترلاسه کولو او د اسرائیل لپاره یې د احتمالي خطراتو د کمولو هدف ترلاسه کړی و.

د امریکا جمهور رئیس جورج واکر بش د صدام حسین له نیول کېدو نه وروسته په مطبوعاتي کنفرانس کې ویلي وو: «له صدام حسین سره چې هرڅه وشي پر هغه عدالت به مبني وي چې نړیوالې غوښتنې به پوره کاندي.»

د امریکا دجمهور رییس دا ټکي د هر څه وایي. ښکاره خبره ده چې پردې خبرې باندې به له امریکا نه څوک ښه پوه شي چې د امریکا پر کړنو باندې نړیوال څه وایي، څه سوچ کوي او تر کومه حده پورې د نړیوالو توقعات پوره کولای شي. په اوسني مهال کې د امریکا او د بش د رژیم لپاره دا ضروري ده چې نړیوال پر خپلو کړنو باندې ډاډمن کړي؟ آیا ریښتیا هم امریکا د نړیوالو رایو او انګېرنو ته دومره اهمیت ورکوي چې د هغه له لامله خپلې ګټې شاته وغورځوي؟ تراوسه پورې د تاریخ بهیر ددې خبرې په مخالف سمت کې پرمخ ځي.

مبصرین وایي، امریکا چې په عراق کې له کومو حالاتو سره مخامخ شوه، هغه ټول ددې د غوښتنو پر خلاف وو، له همدې لامله ټوله معامله تاخیر شوه، ولې داسې وشو؟ او هغه خلک څه شول چې خپل نوي باداران یې د ګلانو په هارونو بدرګه کول، دا بېل بحث دی، مګر د توقع پر خلاف حالاتو د هر څه تبدیل کړو، کنه اوس به په سیمه کې نورې د برې پېښې رامنځ ته شوې وې.....

د هماغو مبصرینو په اند اوس صدام حسین موجود نه، بلکې

یوه ننبه ده، یوه علامه ده. امریکایان هڅه کوي چې هغه د جبر او ظلم یو سمبول ثابت کړي چې د خلکو په اذهانو کې د نفرت وړ وګرځي او دا د هغو عراقیانو غوښتنه هم ده چې د ښکېلاکګرو ملګرتیا کوي.

د همدغو مبصرینو په عقیده، په دې کې خو له سره شک نشته چې صدام جابر او ظالم واکمن و، هغه پر کویټ باندې له حملې نه وروسته پر باغي شیعه ګانو سخت ظلمونه وکړ، هغه پر کردانو باندې هم کیمیاوي ګازونه استعمال کړ او د هغوی له حملې نه یې ډېر خلک دې ته اړ ویسته چې خپل هیواد پرېږدي او بل چېرته پناه واخلي؛ مګر دا ټولې خبرې اوس پر عراقیانو باندې بې اغېزې شوي دي او په ځانګړي توګه د عراق له اشغال نه وروسته د صدام پرضد د نفرت پیدا کولو لپاره دا حربه اغېزمنه ثابت نشوه.

همدغه مبصرین وایي: امریکا او د هغه اتحادي ملګري باید پوه شي چې له واکمن (برسر اقتدار) صدام نه مخفي صدام ډېر خطرناک دی او تردې هم خطرناک صدام، مقتول صدام دی، ځکه چې د امریکایانو د حملې او دده د وژل کېدو ترمنځ موده، هغه ټول داغونه پرې مینځل چې هغه د خپل اقتدار په دور کې پر خپل لمن پورې کړي وو.

اوس چې کوم صدام اعدام شوی دی، هغه د خپل ملت لپاره د آزادۍ د غورځنګ لاربنود او د امریکا له ښکېلاک نه د ژغورنې اتل دی. لویدیځوال تراوسه په دې پوه نشول چې مسلمان په فکري

او اخلاقي لحاظ هغه واکمن د ډېر خوښوي او ستایي چې د کمزورتیا پـر مهـال هـم زورور مـدبر وي او د عـراق تـاریخ خـو پـه دې اړه نـه ردېدونکي حواله لري.

سربېره پردې دا خبره هم ښایي هېره نشي چې د صدام حسین د نیول کېدو پرخلاف په ټوله نړۍ کې مظاهرې وشوې او پـه کروړونو مسلمانان پـه اوس مهال کې د غـم پـر تغـر ناسـت دي. ښـایي ددې لپاره هم چې د صدام په دور کې د عراق یو دینار دری نیم امریکایي ډالر ارزښت درلود او دا هم چې عـراق یـو داسـې تیـل تولیـدوونکی هېواد دی چې نړۍ یې له زراعت، مدنیت او علـم سره آشنا کړی، دداسې ویاړلی ملت بچي به ترکومه غلام پاتې شي، ښـکېلاکګرو ته به ترکومه پورې ددې ملت د بچیانو د غلامولـو ځـواک پـاتې وي او دا کار به ترکومه حده پورې ممکن وي؟

لسم باب

# په دجیل کې څه شوي وو؟

پر صدام حسین باندې په هغه وخت کې، د ۱۹۸۸ میلادي کال د حلبچه د کیمیاوي بمباري او د هغې په ترڅ کې د پنځو زرو کردانو د وژلو تور او له هغې نه وروسته د خلیج له لومړي جګړې نه وروسته د زرګونو شیعه ګانو او کردانو د وژلو تور د عراق د پخواني جمهور رئیس او د هغه د شپږو تنو ملګرو پرخلاف د لومړي مقدمې په باره کې د پر لړ معلومات په لاس کې دي. دا مقدمه په دجیل کې د ۱۴۸ تنو په وژلو پورې اړونده ده، دا سیمه د سني او شیعي عربانو ګډه کلي دی او د بغداد له شمال نه په اتیا کیلومتري واټن کې موقعیت لري. دا د هغه وخت خبره ده چې دجیل د پر وګړي د ایران پرخلاف په هغه جګړه کې شریک وو چې صدام اتلس میاشتې مخکې پیل کړې وه، په دې وخت کې د جنګ وضعه د عراق پرخلاف وه او صدام حسین مرستې ته اړتیا درلوده.

د ۱۹۸۲ میلادي کال د جولای په اتمه صدام دغې سیمې ته

د دورې فيصله وکړه او ددې دورې فلم د حکومت يو فوټوګرافر جوړ کړ؛ دا فلم اوس، اوس د خلکو په اختيار کې لويدلی، په دې فلم کې صدام حسين د يوې کورنۍ له غړو سره، په کوڅو کې له خلکو سره او همدارنګه د بعث ګوند له غړو سره د خبرو اترو په حال کې ليدل کېږي او دا ښيي چې صدام د بعث ګوند د انګړ مخې ته خلکو ته بيانيه ورکوي او په جنګ کې د ګډون له لامله د دجيل د خلکو مننه کوي.

له دې بيانيې نه وروسته صحنه بالکل بدلېږي، کله چې د جمهور رئيس د بدرګې قافله له کلي نه وځي د خرما له ځنګله نه د ګوليو باران پرې جوړېږي، کمره مين د هغې صحنې فلم وانه خيست، مګر د پېښې ديو عيني شاهد (محمد الختاوي) هغه ټول جريانات ښه په ياد دي.

د وژنو ددې هڅې په حواله د عراق د لاربښود غبرګون (عکس العمل) له توقع نه ډېره لرې وه او هغه بغداد ته د تګ پرحال بېرته دجيل ته ورغی، په دې مهال صدام يوه بله بيانيه واوروله چې د هغه په ترڅ کې يې د کلي نه د تروريستانو د وړې ډلې د پوره جرړو د ايستلو وعده وکړه. دغې ډلې ته هغه د بهرنيانو د ايجنټ خطاب وکړ، له بهرنيانو نه يې مقصد ايران و.

ددې پېښې نه وروسته په راتلونکو څو ورځو کې د تروريستانو د نيولو لپاره يو لوی پوځي عمليات ترسره شو او د هغه په ترڅ کې ډېر کسان د جمهور رئيس د وژلو د توطيې په جرم ونيول شول؛ په دې عملياتو کې ټانکونو او جنګي الوتکو

هم برخه واخيستل. په نيول شوو کسانو کې د بادي ګارډ کريم پلار خادم جعفري هم شامل و؛ هغه ويل: ((هغوی زموږ د کورني ټول غړي له ځان سره بوتلل؛ موږ نږدې ۱۵۰ کسان وو. هغوی د استخباراتو مرکزي دفتر ته بوتللو، هلته يو مياشت پاتې شو او بيا دوه کاله د ابوغريب زندان کې وو او بيا يې صحرا ته ولېږدولو.))

د خادم په خبر نور ډېر کسان ښېرته دجيل ته رانغلل؛ بلکې ممکن دی چې هغوی يې د ۱۹۸۵ ميلادي کال ترپايه وژلي وي.

د صدام په محاکمه کې د استغاثې وکيل هڅه داوه چې ثابت کړي، په دې ټولو پېښو کې صدام حسين په خپله ملوث و.

د قضايي چارو کارپوه وکيل پروفيسور مايکل شارف ويلي: ((د استغاثې وکيل چې د کومې دعوی ثابتول غواړي، هغه دا ده چې صدام په دې ټولو پېښو کې شريک و او د دې ټولو کړنو احکام همدغه صدام ورکړي دي؛ مګر دا کار ددې لپاره ستونځمن دی چې ويل کېږي هغه تحريري احکام نه صادراوه، ځکه چې نه يې غوښته کومه نښه پرځای پرېږدي.))

پروفيسور ويل چې د استغاثې وکيل قضيه ځکه د لومړي دوسيې په توګه غوره کړه چې د هغه په عقيده د صدام په اړه په دې دوسيه کې پوره قوت شته او په دې لړ کې پر ټولو شهادتونو او کاغذي ثبوتونو باندې ترڅو مياشتو پورې پلټونکو کار کاوه.

کله چې د غه ثبوتونه محکمې ته وړاندې شول دا پته ولګېده چې دا دوسیه کبافي مضبوطه ده او تردې وروسته د دجیل خلک په دې پوه شول چې ددوی خپلوان څنګه مړه شول؛ د هغو کلیو ډېر کسان لاتراوسه پورې په دې تمه وو چې ددوی خپلوان او عزیزان ژوندي دي او د عراق په کوم لرې جیل کې پراته دي؛ مګر له شهادتونو او ثبوتونو وروسته هغوی ته وویل شو چې ټول نیول شوي کسان وژل شوي وو.



صدام حسین د محکمې په خونه کې د قاضي پر کومې خبرې پورې خاندي

**يوولسم باب**

# هغو ګومانونه چې په حقيقت بدل شول

يـو انګليسـي ژورناليسـت جـان سيمسـن (Jon Semson) ليکي: دا د درې کالو مخکې، پر عراق باندې له حملو نه څو اونۍ مخکې خبره ده، مـا د قـاهرې پـه يـو لـوی هوټـل کـې د سـعودي د بهرنيو چارو وزير شهزاده سعود الفيصل سره مرکه کوله، د مرکې په دوران کې يې هغـو خطراتـو تـه ګوتـه ونيولـه چې لـه حملې نـه وروسته پيدا کېدل. هغه ويل: ((امريکايي او انګليسـي پوځونـه بـه څو کلونه په عراق کې بند پاتې شي (لکه څوک چې د سربښـو پـه ډنډ کـې پـاتې کېـږي)، د شـيعه او سـني تـرمنځ بـه کـورنۍ جګړې نښلي، ددې ټولـو ښـښـو ګټـه بـه د ايـران حکومـت اخلـي.)) مـا تـرې پوښتنه وکړه چې کله ته امريکايانو ته دغې خبرې کوې، هغـوی تـا ته په خواب کې څه وايي؟ سعود الفيصل وويل: ((هغوی زما خبرې اوري هم نه، [نو ځواب به څنګه راکوي؟!]).

ما په بغداد کـې د تېـرو دريـو کلونـو د اسـېدو پـه دوران کـې د هغه وړاندوينې يو يو داسې ليدلې چې په حقيقت بدل شوې. د

هغه لومړی کړې لوټمارو، کله چې صدام له بغداد نه وتښتېده، خلک د زاړه رژیم د هرې يوه نښې ماتول پيل کړل. هغوی ددې هم پام ونه ساتل چې ددوی دا کار زيانونه هم لري. ما د خلکو ګڼه ګونه ولیده چې پر يو روغتون يې حمله کړې وه، هغوی به داسې سامان آلات هم لوټول چې د هغوی د کار نه و خو د روغتون لپاره ضروري وو.

تر هغه دمه خلکو انګېرلي ووچې امريکا ترټولو زيات ځواکمنه ده او د هغوی د مرستې لپاره دلته راغلي ده، د هماغو شېبو نه د خلکو انګېرنې په بدلېدو شوې. راتلونکي يو کال، تا کولای شوای چې په لږ احتياط سره په ټول بغداد کې چکر ووهې او ددې هيواد نورو سيمو ته دې هم سفر کولای شوای.

کله چې به موږ د ژورنالستيکو دندو د ترسره کولو لپاره له اردن نه د فلوجه په لور وخوځېدو او يا له کويټ نه د حله او ناصريه پر لارې بغداد ته روانېدو، موږ ته به کله کله وېره پيدا شوه، مګر موږ همېشه په دې بريالي شو چې د سفر منزل ته ورسېږو؛ مګر اوس حالات داسې دي چې د سفر يوازينی وسيله الوتکه پاتې شوې ده.

د نورو خبري رسنيو په شان د BBC اداره هم د بغداد د مرکز په امنيتي ګرين زون کې موقعيت نه لري؛ مګر زموږ په دفتر باندې سخته پهره ده او هلته زموږ د دفتر سخت امنيتي تدابير غوره شوي دي.

د ۲۰۰۴م کال د اپريل په مياشت کې، پر فلوجه باندې د

امریکا له حملې سره جوخت په عراق کې هرڅه تبدیل شو، ښار کوچنی دی؛ مګر د جنګیالیو د کنټرولولو لپاره ډېر وخت ولګېده؛ خو سره له هغې هم بشپړه بری ترلاسه نشوه. د امریکایي پوځونو خونړی عملیات د عراقي اولس نظر په غصې باندې تبدیله کړه.


بالکل پرهمدغه مهال امریکایانو د عراق د سیاستپوهانو او سیاستمدارانو خبرې وانه ورېدې او د شیعه ګانو د راډیکال لارښود مقتدی الصدر پرخلاف یې عملیات ترسره کړل. له هغه نه وروسته د مرکزي عراق ښارونه او قصبې له خطره ډک شول. موږ په وار وار د «آی ای ډی» مخفف لوځ واورېدل چې د هغه مطلب لاسي بم دی. وړاندې ډېرې مهمې کړلیچې وې، د ۲۰۰۵ کال د انتخاباتو ورځې وې، کله چې مقاومت کوونکو د خلکو ګڼه ګوڼه او د رایه ورکوونکو بیروبار وکوت، په تشدد کې کافي کموالی راغی. هغوی دې ته په انتظار کې کېناستل چې له نوي حکومت سره څه کولای شي که نه؟ مګر تر دریو میاشتو پورې هېڅ حکومت جوړ نشو، سیاستمداران یو له بل سره په شخړو او مشاجرو اخته شول، وخت تېر شو چې پسې تېر شو؛ بیا څه وشو، تشدد بېرته خپل پخواني حالت ته راغی.

تېر کال جولای کې د کورني جګړې خبرې پیل شوې، بیا پر اساسي قانون باندې یو ریفرنډم وشو او بیا انتخابات وشول، بیا هم یو اغېزمن رژیم له عراقي اولس نه په کیلومترونو لرې و، د دسامبر له عامو انتخاباتو نه وروسته، اوس هم په عراق کې د

حکومت پته نه لګېږي. خلک په چوپه خوله هجرت کوي، هلته چې د هغوی د مذهبي ډلو اوسېدونکي زیات دي، د سنیانو او شیعه ګانو ترمنځ ودونه یوه عامه خبره وه؛ مګر اوس ښایي کله کله داسې خبر اورم.

په بغداد کې د یو روغتون متخصص ماته وویل چې پخوا به په عراق کې د ذهني ناروغانو شمېر په سلو کې له دریو نه کم و؛ مګر اوس دا احصائیه اویا فیصدو ته رسېدلې ده. د روحیاتو یو بل متخصص ماته وویل چې د صدام په دور کې هم د خلکو پر اذهانو د دیکتاتورۍ بدې اغېزې لیدل کېدې او د هغوی د ذهني پریشانیو حد زیات و. هغه ویل چې د هغه ناروغان اوس بل شان شوي؛ اوس هغوی له تشدد او تېپې کېدو څخه نه وېرېږي، بلکې دا هغوی ته د ژوند ورځنۍ حقیقت ګرځېدلی دی؛ کله چې مورږ د ذهني امراضو له دغه متخصص سره مرکه کوله ما ترې پوښتلي وو چې د هغه په عقیده امریکا ولې پر عراق باندې د حملې ضد اخیستی، هغه وویل چې ما همدغه پوښتنه د امریکا د جمهور رئیس له مرستیال ډک چیني نه کړې وه، د هغه ځواب دا و چې «ځکه چې داسې کولای شو!!!».

په دې کې هېڅ شک نشته چې مسأله همدا ده چې کوم زیانونه د سعودي د خارجه چارو وزیر د سترګو په وړاندې درې کاله مخکې واضحه ښکارېدل، اوس په حقیقت کې د هغو نفی کول ډېر ګران کار دی.



د عراق پخوانی جمهور رئیس صدام حسین د حفاظتی گاډي خواته بیول کیږي

دوولسم باب

# د عراق د اولس د يووالي نوی پلان

د عـراق صـدراعظم نـوري المـالكي لـه عـراق نـه د مـذهبي اختلافاتو او تشدد د پای ته رسولو لپاره د ملي يـووالي يو پـلان وړاندې کړ چې پر ۲۴ ځلور ويشتو مهمو ټکو مشتمل دی؛ پـه پـلان کې لـه ځينو سني بـاغي ګروپونو سره مـذاکرات او د بعث ګوند د ارکانو پر حيثيت بيـا کتنـه هم شامل دي. سربېره پـردې د وسله والو پوځونو په باب له سره معلومـات راټـولېږي او دا امکـان شته چې وسله وال پوځ د حکومت تابع وګرځول شي.

داسې اټکل کېږي چې ځينې سني ګروپونـه چې پـه مقاومـت کې شريک دي دا پلان ونه مني.

له څو مياشتو راکړې ورکړې نه وروسته د مې په مياشت کې د عراق د صدارت عهده سنبالوونکی نوري المالکي چې د مذهب په لحاظ شيعه دی، تراوسه پورې له توندلارو ګروپونو سره د خبرو اترو او يا هغوی ته د ځينو امتيـازاتو د ورکولـو پـه بـاب څـه نـه دي ويلي او نه تراوسه پردې قانع دی. له همدې لاملـه پـه نـوي پـلان کې

القاعده، د صدام ملاتړو او هغو ډلو ته چې د عراق وګړي بې محابا وژني هېڅ ډول رعایت شامل نه دي؛ مګر ځیني بیا داسې عقیده لري چې د خپل پلان د کامیابولو لپاره نوري المالکي ته ښایي چې له ډېرو ډلو ټپلو سره خبرو ته کیني، په دې لړ کې د پارلمان یو سني غړي سلیم عبدالله وویل: ((دا پلان د عراق په بیا رغښت کې د ټولو ملي ځواکونو د شمولیت د ګډون لپاره ډېر ښه چانس برابروي.))

د تجویز شوي پلان په نورو اهدافو کې د عراق د خپل پوځ او امنیتي ځواکونو د اداري د تشکیل مهال ویش هم شامل دی چې ښایي د همدغه پلان له مخې وټاکل شي، د پلان ددې برخې په نظر کې نیولو سره د عراق صدراعظم نوری المالکي له اولس سره وعده کړې وه چې د اتلسو میاشتو په دوران کې د هیواد امنیتي چارې له اتحادي پوځونو اخلي او خپل پوځ او پولیس ته یې سپاري.

دلته له امریکا نه په رسېدلو رپوټونو کې چې څه ویل شوي دي له هغو نه داسې ښکاري چې پوځي چارواکو په راتلونکي یو کال کې تصمیم لري چې دلته په عراق کې د موجوده امریکایي پوځونو نیمایي برخه لږه کړي؛ مګر تراوسه پورې په دې برخه کې وروستی فیصله نه ده شوې او سربېره پردې عراق ته نور شل زره تنه تازه دم امریکایي پوځونه رارسېدلي دي. د عراق په پارلمان کې له نوري المالکي سره د نوموړي پارلمان ائتلافي غړي وایي چې د صدراعظم د ملي یووالي پلان په عراق کې د حالاتو د ښه

کولو واقعي زمینه برابروي. د عراق جمهور رییس جلال طالباني لاپخوا ویلي دي چې د مقاومت کوم ګروپونه چې تراوسه پورې له حکومت سره د خبرو اترو له کړی نه بهر پاتې دي، د همدغه پلان له مخې کولای شو چې هغوی هم له حکومت سره د مذاکراتو په بهیر کې شریک کړو؛ مګر په دې شرط چې هغوی وسله وغورځوي او نور له تخریبي فعالیتونو لاس واخلي.

په ظاهره کې د نوري المالکي د امن پلان په مهمو تجاویزو کې د بعث ګوند د هغو غړو لپاره رعایات شامل دي چې پر عراق باندې له حملې نه وروسته له حکومتي چوکیو نه لرې کړې شوي دي، د صدام حسین د بعث ګوند د غړو او د هغه د پوځ د افرادو په باره کې په پرله پسې ډول داسې ګومان کېږي چې هغوی د اتحادي ځواکونو پرخلاف د جنګیالیو مرسته کوي.

سربېره پردې په هیواد کې له هغو کسانو د وسلو ټولول د نوري المالکي د امن پلان دوهمه مهمه برخه جوړوي چې په عراق کې په تخریبي فعالیتونو کې مصروف دي، یا پر خلکو د تشدد له لارې خپل اهداف ترسره کوي.

د صدام سیاسي غوښتنې په واضحه توګه له عراقي پولو نه اووښتي وو، هغه به ځان د عربي نړۍ لارښود او په تاریخ کې د صلاح الدین ایوبي په شان سپهسالار یا لوی درستیز ګاڼه.

د هغه د کرکټر ددې اړخ په باب مؤرخ وایي: د صدام حسین تیري کوونکي انګېزې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۰ میلادي کال کې هغه وخت رابرسېره شوې چې د هغه پوځ په ګاونډي هیواد

(ایران) کې پرمختګ وکړ. د صدام د انګېرنو پرخلاف دا جنګ ورته ډېر ګران تمام شو، په دغه اته کلنۍ جګړې کې یو ملیون کسان هلاک شول، سربېره پردې دا جنګ د عراق پر اقتصاد باندې ډېر درونډ بار جوړ شو.

صدام حسین له خپلو ګاونډیو هیوادونو نه مرسته وغوښته، هغه پر کویټ باندې د عراق د تېلو د غلا تور ورګاوه او د مطلوبې معاوضې د نه میندلو په صورت کې یې په ۱۹۹۰ میلادي کال کې د عراق پوځ پر کویټ وروختل. پر صدام حسین باندې دا پوځي اقدام هم ډېر ګران تمام شو، دهغه په ګومان، پوځي زبر ځواکونو چې پر ایران باندې د حملې پرمهال د هغه ملاتړ کړي وو، او هغه ته یې وسلې او امکانات برابر کړي وو، نو پر کویټ د حملې پر مهال به که د وسلو مرسته ونکړي؛ نو لږ ترلږه به بې پرې پاتې شي او مخالفت به ونکړي.

مګر حالات بدل شوي وو، امریکا او د هغې متحدینو ته په خلیج کې د خپلو ګټو او اسرائیلو ساتنه په هر قیمت چې وه ضروري وه.

نو له همدې لامله د امریکا تر قیادت لاندې د ۱۹۹۸ کال په دسامبر کې د ((Dezertstorm)) (ډیزرت ستورم) د عملیاتو په ترڅ کې امریکا او انګلستان پر عراق باندې جنګ مسلط کړل.

مګر معامله همدلته پای ته ونه رسېدله، بلکې امریکا په پرله پسې ډول دا ټینګار کاوه چې له عراق سره د پراخې پیمانې تباهۍ لپاره خطرناکې وسلې شته او انګلستان دا ادعا کوله چې

عـراق کـولای شـي صـرف پـه ۴۵ منتـو کـې د غـه وسـله د اسـتعمال لپـاره تیـاره کـړي. سربېره پردې پر عراق باندې د اتومي وسلو د جوړولو او ترلاسه کولو تور هم پورې شـو؛ مگـر د امریکـا لـه حملـې او اشغال نه وروسته تراوسنۍ مهاله پورې د هغو تورونو نـه یـو تـور هم ثابت نشو.

که څه هم د عراق پرضد د امریکا او انگلستان په دې جوړجاړه کې د شریکو هیوادونو، دا ادعا غلطه وه او ملگري ملتونه او امنیت شورۍ او همدارنگه د ملگرو ملتونو پلټونکي ټیم نـه تاییدولـه؛ مگـر د همدغې جوړجاړې په بهانه پر عراق حمله وشوه او اوس د امریکا د جوړجاړې په پایله کې عراق اشغال شوی دی.

لـه دې اشـغال نـه وروسـته د ۲۰۰۳ کـال د جـولای پـه میاشـت کې امریکایي پوځ د عراق پر شمالي ښار موصل باندې حمله وکړه او د صدام حسین دوه زامن «اودی او قصی» یې ووژل.

د امریکایي جریدې نیوزویک (News Week) مسؤول مدیر «فرید زکریا» د صدام حسین له پانسې کېدو نه وروسـته د راپیـدا شویو حالاتو پـه اړه لیکي: «د صـدام نیـول کېـدل پرهغـه د مقـدمې چلېـدل او بیـا د هغـه ژونـد تـه د پـای ټکـی ایښـودل د امریکـایي اشغال افسوسناک اړخ دی او یو ډېر ښـه څیـز هـم د خرابي پـه لـور لاړ؛ که څه هم صدام حسین د «ستالین»، «ماوزي تونگ» او «کم دای ژنگ» په شان و؛ مگر د بش رژیم د هغـه د محـاکمې لپـاره پـه هغـه محکمـه کـې د مقـدمې لـه چلولـو نـه انکـار وکـړ چـې د بـین المللي قانون له مخې په نړۍ کې عام مقبولیت ولري. بـش رژیـم تـه

د عراق د اشغال لپاره د ملګرو ملتونو منظوري هم کوم اهمیت نه درلود؛ هغه د صدام حسین د برخلیک د ټاکلو واک د عراق د نوي حکومت په لاس کې ورکړ؛ داسې حکومت چې چارواکي یې هغه شیعه او کرد وګړي وو چې د صدام له لاسه یې زیانونه لیدلي وو. له همدې لامله دغې فیصلې د عربي نړۍ سنیانو لپاره یو وېروونکی خوب ثابت شو چې په هغه کې صرف د «فاتح غچ» لیدل کېده. ډېر عراقیان د صدام د حکومت په پای ته رسېدو باندې خوښ وو، د امریکا له حملې نه وروسته په لومړنیو میاشتو کې صرف په سلو کې ۱۴ تنه سنیان پر امریکایي پوځونو باندې د حملو پلویان وو چې اوس په سلو کې ۷۰ ته رسېدلي دي.

د امریکایي پوځونو پرخلاف مقاومت هم له سني سیمې فلوجه څخه نه، بلکې له شیعه سیمې نجف نه شوی و؛ مګر امریکایانو عراقي پوځ او د هغوی تشکیلات مات او منحل کړ، پنځوس زره افسران یې له کاره ګوښه کړه، حکومتي دفترونه یې بند کړ او د عراق د خلکو په اوزګارتیا کې یې زیاتوالی راوسته، په رژیم کې ګډوډي راغله او د امنیت لویه خلا رامنځ ته شوه. په دغو اوزګارو خلکو کې د سنیانو اکثریت و، له همدې لامله د هغوی په عقیده د رژیم بدلېدل داسې انقلاب و چې هغوی یې وچې کاسې ته کېنول. امریکا ولې داسې وکړه؟ دا د بش د رژیم د بهرنی سیاست له معمولاتو نه یو معمول دی، په داسې حال کې چې ځینې فیصلې یې په عقیدوي لحاظ وکړې، داسې چې د هغوی په عقیده د بعث ګوند «فاشیست ګوند دی» او د هغه د

ګونـد هـر معلـم «نـازي» دي او عراقيـان د ګوروئـو ماليـاتو تـه ضرورت لـري. ځينې فيصلې د شيعه ګـانو تـر اغېز لاندې وشوې چې هغـوی د هيـواد مکمـل کنټـرول غوښتـه. ډېـرې فيصلـې پـر جهالت بنا وې، ځو دا ونښيي چې بش په خپلو فيصلو کې توندلاری دی. هلتـه رژيـم پـه دې پـوه نشـو چـې مـذهبي اختلافـات ځـومره ستونځې ولاړولای شي، لـه همدې لاملـه د هغـه پاليسـي د رغـاونې پرځای تخريب راوسنت. د ملي اردو له جوړېدو نه بالکل پته لګېده چې په هغې کې به د شيعه ګـانو او کردانو اکثريت وي او غلبه به همـاغوی تـه حاصـل وي چـې توندلارې دي او پـه هيـواد کـې ډېـر سياسي ګوندونـه يـې پلوي کوي. ښـکاره خبره ده چې پـه دغسـې شرايطو کې سني وګړي له هرڅه نه مخکې ځان په باب د نه امنيت احسـاس کـوي او ځان غيـر محفوظ ګڼي. پـه دې ټولـه کيسـه کـې سنـي وګـړي ښـه خلـک ونـه بلـل شـول، اصـلاً ټکـی د امريکايـانو حماقتونه دي. دا کومه سطحي خبره نه وه، حقيقت دا و چې يوازې صدام حسين نه، بلکې په دې بهير کې د ځو پېړيـو واکمنـې طبقې اغېزه پای ته رسول شوې وه او دوی په دې کې حيران وو چې په دې اړه غبرګـون کمزوری و. ددې پـرخلاف «نلسـن منډيلا» پـه جنـوبي افريقـا کـې د چـارو واګـې پـه لاس کـې ونيـو او کـوم سـپين پوستـې پوځي صاحب منصب يا بيوروکراټ يې لـه کـاره نـه و ګوښـه کـړی داسې ځوک د عراق په دې تپل شوي انقلاب کـې ترسـترګو نـه شـو، په هره خبره کې پر عراقيانو تور لګول په واشنګټن کې موډ ګرځېدلی و. د هغوی په عقيـده، دوی عراقيـانو تـه ډيموکراسي ډالـۍ کـړه؛ مګر

هغوی یې اهل نه دي، او دوی د عراق د فرهنګ او ثقافت ساتنه هم کوي. امریکا په عراق کې له غور او فکر نه پرته داسې انقلاب راوسته چې اوس ورته حیران دی چې عراقي وګړي یې په خوښي، امنیت او سرعت سره نه هضموي، حقیقت دا دی چې دوی عراقیانو ته ډیموکراسي نه؛ بلکې کورني جګړې ډالۍ کړې دي.

## عراق د کورني جګړې په درشل کې

د عراق د هغو خلکو لپاره چې د هیواد په موجوده بدامنیو کې یې ځاني تلفات ګاللي دي، دا خبره بې مانا ده چې په عراق کې د جنګ وضعه څنګه ده؟ حقیقت دا دی چې دا جنګ داسې دی چې ډېر عراقیان یې خوابدي کړي دي، په عراق کې هر سړی دا فکر کوي چې آیا په عراق کې کورنی جګړه پیل شوې که نه؟ د عراق جمهور رئیس هم همدغه پریشانی په سر اخیستی. جلال طالبانی ملت ته په خپلې تازه بیانیه کې په هیواد کې د کورني جګړې د مخ په زیاتېدو خطر له لامله خبرداری ورکړی چې د کورني جګړې له لامله ملي یووالي ته جبران نه منونکي زیانونه رسېدلای شي.

په عراق کې د کورنیو جګړو د پیلېدو له لامله نه یوازې د مرکزي حکومت په جوړولو کې ستونځې رامنځ ته کېږي، بلکې د هغې په نتیجه کې عراق په خو برخو ویشل کېدای هم شي. د عراق کورنی جګړه به په منځني ختیځ کې د امنیت لپاره هم ښه خبر نه وي. له بده مرغه په عراق کې داسې خلک هم شته چې کورني

جګړې د ځان په ګټه بولي او هغوی له دې لیارې خپل سیاسي اهداف په ښه توګه ترلاسه کولای شي. پر زیارتونو او مقدسو ځایونو باندې حمله په هیواد کې د کورني جګړې له خپرولو نه پرته بل هدف نه لري او ښایي د هغوی په عقیده له دې لیارې ځخه کورنی جګړه په توندی او چټکی سره خپرېدلای شي.

په دې ټول بهیر کې د داډ وړ ټکی فقط هغه سیاستپوهان یا سیاسي وګړي دي چې په دې خبره پوهېږي چې پر مقدسو اماکنو حمله په عراق کې کورنیو جګړو ته لمن وهي، چې د هیواد او سیمې لپاره په هر لحاظ ښه خبره نه ده.

## په عراق کې د ښې هیلې هیڅ څرک نشته

ما د ۲۰۰۷م کال په جنوري کې له خپل یو تن ملګري سره د عراق په پایتخت بغداد کې د یو «مړیتون» ویډیو جوړه کړه. پر هغه مهال ددې هیواد امنیتي وضعه دومره خرابه وه چې موږ په دې سفر کې له ډېر سخت احتیاط نه کار واخیست.


نن سبا دا «مړیتون» کافي متنازعه ده؛ د واشنګټن پوسټ له رپوټ سره سم د ۲۰۰۶ کال د فبروری له ۲۲ نه ترننه پورې د مذهبي ډلو د نښتو په نتیجه کې ۱۳۰۰ جسدونه، دلته راوړل شوي دي؛ د ملګري ملتونو یو پخوانی مامور وایي چې ددغو اجسادو له جملې نه ډېر داسې دي چې د تعذیب او شکنجې په نتیجه کې هلاک شوي دي او ددوی د بدن په مختلفو برخو کې د تشدد نښې نښانې شته او داسې معلومېږي چې په ډېر وحشیانه

توګه وژل شوي دي. ددې پرعکس امریکایي قوماندان جنرال ډبلیو کیسي په دې ټینګار کوي چې په هغو ګډوډیو او الغا تلفا کې صرف ۳۵۰ کسان وژل شوي دي او د توندلارو په تخریبي فعالیتونو کې زیاتوالی نه دی راغلی....

د صدام له ګوښه کولو نه وروسته د عراق دا خورا بد حالت دی. موږ هلته (په مړیتون) کې فقط ۲۰ منټه پاتې شو او د همدغو شل منټو په دوران کې مو ویډیو فلم جوړ کړ. په هغه دوران کې هم په پرله پسې ډول جسدونه راوړل کېدل.

ژورنالیزم یو هنر دی او هرڅوک پوهېږي چې ځینې وختونه د همدغه ژورنالیزم له لارې حقایق څومره مسخ کېږي (خبرونه وړاندې وروسته کړي، مات یې کړي، ویې زېښني، ګډوډ یې کړي او بیا یې خلکو ته وړاندې کړي)؛ مګر په دې کې د وژرنالیست ګټه دا ده چې اوس په خپلو سترګو حقایق کتلای شي؛ مګر اوس په بغداد کې دا کار آسان نه دی چې ژورنالیست دې ورځني پېښې په خپلو سترګو وګوري، ماته تجربو ښودلې ده چې ډېر خلک د چارواکو پر خبرو باور نشي کېدای، مګر د ژورنالیست پر خبرو کیدای شي.

کله چې نن زه دا وړاندوینه کوم چې په عراق کې حالات لا د تباهي په لور ځي؛ نو ډېر پرې خوږېږم. په ایران کې له انقلاب نه د مخکې حالاتو په شان، د سیاستمدارانو، جنرالانو او ډیپلوماتانو اټکلونه بالکل د مخکنی حقایقو پرخلاف دي. په ۲۰۰۳ میلادي کال کې د عراق له اشغال نه وروسته د هغو خلکو اټکلونه په تول



د عراق شیعه لارښود مقتدی الصدر د مطبوعاتي کانفرانس پر مهال د امریکایي میډیا له رپوټ سره سم د صدام د پانسي پر مهال مقتدی الصدر هلته حاضر و

پوره وختل چې د امید پرځای د عراق د راتلونکي په باب د ناامیدی او نهیلی اندېښنه ښکاره کړه.

د اتحادي پوځونو چارواکو مورږ ته داډ راکړي وو چې د جنوري له ټولټاکنو نه وروسته به په وژنو او بمي حملو کې کموالی راځي، دا ټولې وړاندوینې غلطې ثابتې شوې او نن عراق له ډېرو ترینګلي حالاتو سره مخامخ دي.

د انتقالي دورې صدراعظم «جعفري» کردانو، سنیانو او امریکایانو ته د منلو وړ نه دی. اوس هم داسې کاندیدا نشته چې د ټولو لپاره د منلو وړ وي.

له انتخاباتو نه مخکې په تخریبي فعالیتونو کې کمی راغلی و، پر هغه مهال امریکایي او انګلیسي چارواکو داسې ګومان کاوه چې بالاخره یرغلګر مات شوي دي؛ مګر داسې نه وه، د هیواد په ډېرو سختو او بدو حالاتو کې هم سیاستمداران د خپل کار په پلان جوړولو کې له پخوا نه زیات وخت نیسي، په داسې حال کې چې دا ځل د تخریبي عملیاتو اهداف نه امریکایي پوځ دی او نه د عراق پولیس؛ بلکې په اوس مهال کې په جوماتونو کې سني او شیعه عابدان هدف ګرځي؛ په دغسې حالاتو کې څوک وایي چې د امېد لمن ټینګ ونیسه؛ نو ښایي چې زه داسې ونشم کړای، ځکه چې ماته د امېد او ښې هیلې هېڅ څرک نه ښکاري.

دیارلسم باب

# صدام له پیله تر نیول کېدو پورې

صدام حسین د بغداد په شمال کې د پروت ښار (تکریت) په یوې نشتمنې کورنۍ کې، دې نړۍ ته سترګې پرانیستې. ماچې د صدام د ژوند په باب څه لیکلي دي، د صدام د ژوند په باب له لیکل شوي کتاب نه مې اخیستې دي؛ په داسې حال کې چې یو لوید یځوال اونیزې د صدام په اړه لیکلي دي چې د هغه د پلار له وفات نه وروسته ډېر ژر د هغې مور خپل زوی خپلو خپلوانو کره پرېښوده، کوم بل کلي ته لاړه، څو کاله وروسته یې بله واده وکړه، له صدام سره د هغه د پلندر (یا ناسکه پلار) سلوک ښه نه و، صدام حسین ته ژوند ستونزمن و. یو یهودي مؤرخ ((امتیازی بیرون)) وایي چې د کلي هلکانو به په ماشوم صدام ملنډې وهلې.

د صدام حسین په اړه ویل کېږي چې ددې مودې په دوران کې هغه یرازې ژوند کاوه او له چا سره چنداني جوړ نه و او پر نورو هلکانو یې سترګې هم برګولې. د عمر په ۱۲ کلنۍ کې یې خپل

کور پرېښود او په تکریت کې خپل تره کره اوسېده. د هغه دا تره هسې خو استاذ و؛ مګر دعراق په تاریخ باندې د لیکل شوی کتاب ((د عراق نوی تاریخ)) مؤلفه ((پیبی مار)) وایي چې د هغه تیر ژوند ډېر په زړه پورې و.


صدام حسین د خپل هلکتوب په دوران کې د حکومت پرخلاف مظاهرو کې ډېر سخت مشغول پاتې شوی؛ مګر د عراقیانو په شان د انګلیستان د ښکېلاکګر د لاسپوڅي حکومت او فیوډالانو پرخلاف یې ورځ په ورځ کرکه زیاتېدله.

د ۱۹۵۱ میلادي کال له انقلاب نه وروسته کله چې هلته د انګلیستان لاسپوڅي شاهي رژیم پای ته ورسېد، په هیواد کې د تاوتریخوالی بحران پیل شو؛ مګر د صدام لپاره شپېتمه (۲۰) لسیزه ډېر مهم ثابت شو. صدام د بعث ګوند د غړي په حیث د ګوند یوه سابقه دار لاړښود او د هغه د تره نږدې خپلوان احمد حسن الباقر د توجه وړ او نږدې ملګری شو. صدام په هغه وخت کې نه کوم افسر و او نه د پوځ کوم فرد؛ مګر مؤرخ وایي چې احمد حسن باقر ته یې ډېر ګټور کارونه کول.

په ۱۹۶۸ میلادي کال کې بعث ګوند قدرت ترلاسه کړ او احمد حسن باقر د هیواد نوی جمهور رئیس شو. صدام پردې مهال د هغه د ښی لاس حیثیت درلود. د حکومت مهم او پټ کارونه ده په خپله سرته رسول چې په هغه کې د مخالفینو تصفیه هم شامله وه. د هغو مخالفینو له جملې نه ځینې ووژل شول، ځینې تبعید کړی شول او ځینې چوپ پاتې کېدو ته اړ ویستل شول.

جمهور رییس باقر د عراق نفت د حکومت په کنټرول کې راوست، د عراق پر اقتصاد باندې فشار زیات شو او حکومت په هیواد کې د پرمختګ نوی دور پیل کړ. ګلیو ته برق ورسېده او هلته ښوونځي جوړ شول. له دې سره سره د صدام حسین سیاسي هوډ هم مخ په وړاندې تګ شو او په ۱۹۷۹ میلادي کال کې بې خپل محسن احمد الباقر له جمهوري ریاست نه استعفی ته اړ ویست او په خپله د عراق جمهور رئیس شو. هغه په دې دوران کې د بر ژر د خپل ګوند په انقلابي شورا کې د ځان او حکومت پر خلاف د بغاوت توطئه کشف کړه، ددې توطئې د برینډولو لپاره صدام د شورې د ارکانو یوه غونډه راوغوښته، په دې غونډه کې صدام پر ستېيج باندې د سیګار څښلو په حالت کې لیدل کېږي او د باغیانو نومونه د لست له مخې په لوړ آواز یو، یو لوستل کېږي او هغوی هریو په خپل وار سره له غونډې نه بهر ویستل کېږي او نیول کېږي او یا وژل کېږي. ددې غونډې ګډون کوونکي د احساساتو په بهیر کې په لوړ آواز د صدام حسین ملګرتیا څرګندوي او شعارونه ورکوي. له دې غونډې نه وروسته د بعث ګوند پر حکومت باندې د جمهور رییس صدام حسین شخصیت حاوي پاتې شو او لکه چې مؤرخ «پیبی» لیکي، هلته که کوم سیاسي ایډیالوژي پاتې شو نو هغه د صدام ایزم (Saddamism) و.

په راتلونکو کلونو کې د صدام سیاسي تصمیمونه د عراق له پولو راوښتل، هغه به ځان ته د عربي نړۍ لارښود او په تاریخ کې د صلاح الدین ایوبي په شان سپه سالار وایه ... د هغه د شخصیت



صدام حسین د محکمې په خونه کې د موسکا په حال ښکاري

ددغه اړخ په باب مؤرخ وايي:

د صدام حسين تيرى كوونكى سياست هغه وخت رابرسېره شو چې د هغه پوځ په ګاونډي هيواد ايران كې پرمختګ وكړ، د جمهور رئيس د تمو پرخلاف دا جګړه ډيره ګرانه تمامه شوه. په دې اته كلن جنګ كې يو مليون انسانان له منځه لاړل، سربېره پردې دغې جګړې د عراق پر اقتصاد باندې ډېر درونډ بار وغورځاوه. صدام حسين له ګاونډيو هيوادونو نه د مرستې غوښتنه وكړه، هغه پر كويټ باندې د عراق د تيلو د غلا تور ولګاوه او د مطلوبه معاوضې د نه موندلو په صورت كې د ۱۹۹۰م كال په اګست كې يې پر كويټ حمله وكړه. صدام حسين ته دغه پوځي اقدام ډېر ګران تمام شو، د هغه دا تمه وه چې لوى، لوى مذهبي ځواكونه، هغو چې د ايران او عراق په جنګ كې دده پوره مرسته كړې وه او ده ته يې وسلې او امكانات برابرول، كه چېرې د كويټ پرخلاف جګړه كې دده مرسته نه كوي، نو مخالفت به هم نه كوي؛ مګر حالات بدل شوي وو؛ امريكا او د هغې متحدينو ته په خليج كې خپلو ګټو او اسرائيل ساتنه ډېر اهميت لاره او ددې ګټو ساتنه په هر قيمت اړينه وه. له همدې لامله د ۱۹۹۸ ميلادي كال د دسامبر په مياشت كې د امريكا تر قيادت لاندې، امريكا او انګلستان پر عراق باندې د ډيزرټ ستورم (د صحرا توپان) د عملياتو په ترڅ كې جنګ مسلط كړل؛ بلكې امريكا په پرله پسې ډول دا ټينګار كاوه چې له عراق سره د پراخې پيمانې د تباهي لپاره كيمياوي وسلې شته او انګلستان داادعا كوله چې عراق صرف په ۴۵ منتو

کې کولای شي دغه وسلې استعمال لپاره تیارکړي. سربېره پردې پر عراق باندې د اتومي وسلې د جوړولو او ترلاسه کولو تور هم پورې شو؛ مګر پر عراق باندې د امریکا له حملې نه تراوسه پورې له دې تورونو نه یو تور هم پرعراق ثابت نشو.

که څه هم د عراق پرضد د امریکا او انګلستان په دې جوړجاړه که د شریکو هیوادونو دا ادعا غلطه ده او ملګري ملتونه او د هغه امنیت شورې او همدارنګه د ملګري ملتونو پلټونکې ټیم نه تاییدوله، مګر د همدغې جوړجاړې په بهانه امریکا له خپلو متحدینو سره یوځای پر عراق حمله وکړه او دا دی د همدغې جوړجاړې په ترڅ کې عراق اشغال شوی دی.

د عراق له اشغال نه وروسته د ۲۰۰۳ میلادي کال د جولای په میاشت کې د ګوښه کړای شوي جمهور رئیس (صدام حسین) دوه زامن اودی او قصی د عراق په شمالي ښار موصل کې د امریکایي پوځ د حملې په نتیجه کې ووژل شول.

## د صدام حسین د نیول کېدو شېبه په شېبه جریان (۲۰۰۳ م)

امریکایي پوځ د یو ماموریت په دوران کې د عراق پخوانی جمهور رییس صدام حسین د هغه پلرنی کلي تکریت ته نږدې له یوې تنګې ترمځکې لاندې کوټنۍ نه ونیول. د هغه نیول کېدل چې په کوم انداز سره ترسره شو، هغه د یو فرضي سیاح داستان ته ورته ده؛ یو داسې داستان ته چې د هغه پای د ډېرو خلکو لپاره د خوښۍ لامل دی؛ خو ډېر پرې خفه دي.

امریکايي پوځ ته د (الدوار) په قصبه کې د صدام د دوو پټو ځايونو په باب خبر ترلاسه شوی و. دا رپوټ يو نيول شوی عراقي ورکړی و. له رپوټ نه وروسته امريکايي پوځ د هغو دوو پټو ځايونو نومونه ((وولورااين ون)) او ((وولورااين تو)) کېښوده. د تفصيلي پلان له مخې د ماښام له تروږمې خپرېدو نه وروسته پوره شپږ بجې ۶۰۰ تنه امريکايي پوځيان چې د صدام د نيولو ماموريت يې په غاړه لاره خپل عمليات پيل کړ.

ددې ماموريت يا ((مشن)) قوماندان کرنيل جيمز هيکي و او ددې ماموريت عنوان و ((صدام ونيسه يا يې ووژنه!))، د شپې په اتو بجو پر ((وولوراين ون)) او ((وولوراين تو)) باندې عمليات بشپړ شو؛ مګر پوځيانو ته هېڅ په لاس ورنه غلل چې له هغې نه وروسته پوره سيمه کلابند شوه او د پراخې لټونې کار پيل شو؛ د لټون په دوران کې امريکايي پوځيان يوې کوچنۍ خامې ودانۍ ته ورسېدل، د کور د شاوخوا لټون بشپړ شو او په دغه وخت کې هغوی ته د مځکې لاندې خونې دروازه ترسترګو شوه، چې په خامو خښتو، خاورو، او زړې قالينې باندې پوښلې شوې وه. کله چې پوځيانو دننه وکوت، نو يو سړی يې تر سترګو شو چې لاسونه يې پورته نيولي وو اود وسلې غورځولو اشاره يې کاوه.

صدام حسين يې په اتو بجو او شپږ د پرشو دقيقو له مځکې لاندې کوټې نه ونښکل. د هغه حالت چنداني ښه نه معلومېده، اوږده ځنګله او ګڼه ږېره، اوږده ځنګل او بېر ويښتان، پروچولي باندې د غم او پريشانۍ ژورې کرښې او په يو توپک باندې مسلح

«زما نوم صدام حسین دی، د عراق جمهور رییس یم او زه مذاکرات غواړم.» ده دا خبرې په انګلیسي ژبې وکړې؛ مګر د مذاکراتو وخت تیر شوی و.

«د جمهور رییس بش له خوا تاته نیکې هیلې» د امریکا پوځ له خوا ورته ځواب ورکړ شو!!!

ددې عملیاتو په جریان کې دوه تنه نورې هم ونیول چې د هغوی په باب ویل کېږي چې د صدام مرسته به یې کوله....

جاه و جلال، شان او شوکت او د عراق جمهور رییس په کومو حالاتو کې ژوند کاوه؟!! دا د هغه د داستان یو هولناک اړخ دی.

دا د مځکې لاندې کوټه له شپږو نه تر اتو فټو پورې ژوره وه او په هغې کې صرف دومره ځای و چې یو سړی په کې ځملاستلای شو، د هوا لپاره یو پکی او یو سوری هم و او د رڼا لپاره په کې یو ګروپ هم لګېدلی و. د هغه کور په چاپېریال کې چې دا تر مځکې لاندې کوټه وه، په هغې کې دوه وړې، وړې کوټې وې، د امریکایانو له قوله ویل کېږي چې په یوه کوټه کې د نویو او زړو جامو یوه ډېرۍ پرته وه او د کوټې په کوچنی شانی پخلنځي کې د تازه اوبو اهتمام هم شوی و. د پخلنځي حالت ډېر خراب و، پر مځکې باندې د هګیو پوستکې تیت، خواره پراته وو، په الماري کې ناولې بشقابونه وو او هغه ته نږدې یخچال کې چاکلیټ، د چنبلو لپاره د لیمو شربت، د کافي اجزا او وچه غوښه پرته وه.

د یو عرب لاربښود په عالیشانه خونه کې د ګران بیو تابلوګانو پرځای، په هغه وړه کوټه کې د حضرت نوح علیه السلام کشتی ته

ورته تابلو لګېدلې وه. د کور ترڅنګ بیت الخلا نه وه، مګر د کور نه په یوڅه واټن کې یوځای د همدې مقصد لپاره کېندل شوی و، د کور په چاپېریال کې ګند پراته وو، چې په هغو کې تش بوتلونه، خوسا مېوې او یوه ماته چوکۍ شامله وه. عام ګومان دا دی چې صدام حسین په همدې کور کې اوسېده او د امریکایي پوځ د خطرې پرمهال به ته زمیني کې پټېده، دا د ځمکې لاندې خونه دجلې ته نږدې وه او له هغه ځایه د جمهوري ریاست ماڼۍ بالکل واضح ښکاري. د عراق له پخواني جمهور رئیس سره اووه لکه او پنځوس زره امریکایي ډالر، دوه توپکونه او اسنادو او لاسوندونو یو بکس هم امریکایي پوځ ته په لاس ورغلل او د هغه کور ترڅنګ یوه نارنجي رنګه تکسي موټر هم ولاړ و.

امریکایي پوځ د عملیاتو له بشپړ کېدو نه وروسته په نهه بجو او پنځلسو دقیقو، صدام حسین یې یو پټ ځای ته یوړ. د صدام له نیول کېدو نه وروسته جیمز هیکي وویل: «موږ ته چې څه په لاس ورغلل، موږ ورته حیران یو، موږ تصور قدرې هم نشو کولای چې دا کار به دومره ساده وي!!!»

ددې داستان له پای ته رسېدو نه وروسته لا د نورو رازونو افشا کول پاتې دي، مثلاً ترهغې ځمکې لاندې کوټنۍ پورې سفر کې نور هم داسې پناه ځایونه وو چې د صدام تر استعمال لاندې و، په دې سفر کې چا د عراق د جمهور رئیس ملګرتیا وکړه او چا یې ملګرتیا ونکړه او د ټولو نه مهم دا چې د صدام حسین د انجام داستان اوس نور څومره رنګ بدلوي؟


## د صدام حسین نیول کېدل عربي نړۍ ولړزوله

عربي نړۍ د عراق د پخواني جمهور رئیس په نیولو باندې د ورته احساساتو څرګندونه کړې؛ ځینې ډېر خوښ او ځینې ډېر خفه دي. د ځینو په نظر دا اوسني پرمختګ د یوه لوی خطر پای ته رسېدل دي او ځینې نور یې بیا د یو لوی اتل زوال بولي.

که چېرې تا ته د کویتي وګړو د رایې د معلومولو چانس برابر شو؛ نو پردې خبرې به پوه شې چې هغوی صدام ته د «خوفناک مخلوق» القاب ورکوي، په داسې حال کې چې ددې پرعکس فلسطینیان صدام د یو زړور لاربنود په توګه پېژني؛ ځکه چې هغه د عربي نړۍ له دښمن سره ډغرې ووهلې.

ددې دومره متضادو خبرو سره سره یوه خبره حتمي ده او هغه دا چې کله عرب وګړي په خبري رسنیو کې د صدام د نیول کېدو تصویرونه لیدلي ډېر پریشانه دي. هغه چا چې تر ۲۴ کلونو پورې د یو ځواکمن عرب لاربنود په توګه پېژندل شوی و، د نیول کېدو پر مهال په ډېر پریشان حالت کې و او په یوه تنګې تر ځمکې لاندې کوټنۍ کې اوسېده. ان هغه خلک چې له صدام نه سخت نفرت لري، هغوی هم د عراق د پخواني جمهور رئیس په نیول کېدو چې د امریکایي پوځ له خوا نیول کېږي خوشاله نه دي او نه د هغه د ذلت زغم لري.

په دې خبرې باندې هم د چا یقین نه راځي چې صدام ولې بې له ډزو ځان امریکایي پوځ ته تسلیم کړ.



صدام حسین د محکمې د کار جریان غندي او له محکمې نه بایکاټ کوي

ځینې خلک دا ګومان کوي چې امریکایانو صدام حسین ته د نشې دوا ورکړې وه، په داسې حال کې چې نور خلک یې ډارن او ذلیل بولي. ځینې بیا په دې مسأله کې دومره مخ کې ځي چې دا ټول د امریکایي پوځ یوه ډرامه وه او نیول شوی شخص له سره صدام حسین نه دی.

د ځینو عربي مبصرینو په عقیده د صدام زوال په حقیقت کې د یوې ایډیالوژۍ زوال دی.

د عراق د پخواني جمهور رئیس اړیکې له هغه عربي نسله رهبرانو سره و چې د بغاوت او پاڅون په نتیجه کې سیاسي قدرت ته رسېدلي دي، هغه په خپل دور کې د فلسطینیانو ډېر ملاتړ وکړ؛ په ۱۹۹۰ میلادي کال کې کله چې صدام پر اسرائیلو باندې سکډ توغندي وتوغول فلسطینیان ډېر خوښ ول او د خورا زیاتې خوښۍ څرګندونه یې کوله.

مګر د صدام حسین په نیول کېدو باندې د خوښۍ او غم د ورته تأثراتو ترشا په عربي نړۍ کې یوه جذبه مشترکه ده او هغه ده له امریکا نه «نفرت»!

### د کمزورو «ټیټو» قمار

صدام حسین به یوه ورځ نیول کېده، صرف دا خبره نه وه فیصله شوې چې هغه به ژوندی ونیول شي او یا به و وژل شي او بیا به د دښمن لاس ته ورشي، په امریکا او عراق کې چې کوم خلک د صدام په ژوندي نیول کېدو خوشاله دي؛ له هغوی سره د دې

خوشالي قطعي او معقول وجوهات دي؛ مګر کوم خلک چې د هغه په نیول کېدو خفه دي، دوه علتونه د هغوی د خفګان سبب کېدلای شي؛ د ځینو خلکو به دا عقیده وي، څرنګه چې صدام نړیوالو ته د فولادي شخصیت نمونه وړاندې کړې وه، د هغوی دا تقاضا وه چې صدام حسین هم د خپلو دوو ځامنو اودی او قصی په شان ځان د دښمن په لاس واژه خو ژوندی نه وای تسلیم شوی، او د نورو غمګینو خلکو به دا عقیده وي چې ښایي د صدام حسین مړی او یا ژوندی دښمن ته په لاس نه وای ورغلای؛ څکه چې صدام په هغه وخت کې د عراق د مقاومت سمبول جوړ شوی و.

دلته د غور او فکر خبره دا ده چې آیا واقعاً د صدام حسین په داسې نیول کېدلو باندې د خوشالی او خفګان اړتیا شته؟

د BBC د اردو ډاټ کام له یو رپوټ سره سم امریکا ته د صدام حسین یا اسامه بن لادن په بڼه د کار له دوو څخه یو ترافي (جام) لاس ته ورغله چې جمهوري ګوند په انتخاباتي مبارزه کې هغه پورته کړي، خلکو ته یې وښیي او خلک پرځان مات کړي؛ مګر آیا دا وضعه د عراق د خودمختاري په اعاده کولو کې مرسته کولای شي؟ یا ددې کار په نتیجه کې به له عراق سره په نورو ګرد چاپېرو سیمو کې د استعمار خپرېدو لپاره سیکالوژیکه یا رواني فضا جوړه شي؟ که چېرې د صدام حسین له پانسي کېدو سره سره په عراق کې د روان مقاومت ملا نه ماتېږي؛ نو د هغه د جاري ساتلو لپاره کوم نوي اسباب وړاندې کولای شو؟ له بله پلوه کوم خلک چې غمجن دي آیا د هغوی د غم او خفګان ذمه وار د صدام



د عراق اولس د صدام حسین پر قبر دعاګوی

پانسي دی یا د هغو خلکو خپل فکر؟
آخر ولې په وار وار دا خبره تکرارېږي چې کوم لاربنود د احساساتو په بهیر کې ډوب شي او د لویدیځ پرضد شعار ورکړي او د خپل کرکټر د جوړولو هڅه وکړي، خلک د هغه وړاندې وروسته ګناهونه بخښي، د هغه د حکومت څرنګوالی له نظره غورځوي او د هغه وړاندې وروسته منډې وهي او بیا د هغه د عظمت یو لوی شانی بت په خپله تراشي او د هغه عبادت کوي او چې کله یو ورځ دغه بت ناڅاپه پرمخکه لوېږي، د هغو خلکو هیلې، آرزوګانې او مورال فوراً دړې وړې کېږي او پر نصیب او قسمت باندې تورونه لګوي. دا لوېدیځ و چې:
صدام حسین یې جوړ کړی و او چې کله ورته اړتیا پاتې نشوه، نو صدام حسین هم پاتې نشو؛ که چېرې لویدیځ ته د یو صدام حسین د تراشلو اړتیا پېښه شي، نو د هغه مخې ته به د کاندیدانو لوی قطار جوړ شي. په دې ډرامه کې نه د لوېدیځ تاوان دی نه د صدام حسین غوندې شخصیت تاوان؛ که چېرې تاوان دی د هغو کروړونو ساده خلکو تاوان دی چې د احساساتو له بت خانې نه هېڅ کله وتلو ته تیار نه دي او بیا د همدغو احساساتو تر بار لاندې پړمخ پرمځکه لوېږي او د وتلو توان له لاسه ورکوي.
د تاش (قیتو) په لوبه کې (یلف) یوځل چلېدلی شي، دوه ځلې چلېږي؛ مګر په مستقله توګه جاري نه پاتې کېږي. له بښو قیتو نه پرته په قمار عادي قمارباز ترډېره او تر لرې، لرې کامیاب نه دی لیدل شوی.

## په زندان کې د صدام حسین مصروفیات

صدام حسین تر وروستیو شیبو داسې ګومان کاوه چې د عراق جمهور رییس دی. پر هغه باندې د نظافت پېریان ناست وي (د خپل چاپېریال د پاکوالي ډېر خیال ساتي)، کافي ښه نشي جوړولای؛ خو چپس ډېر خوښوي. د عراق ګوښه کړای شوی جمهور رییس د قتل له مقدماتو سره مخامخ دی، خپل کالي په خپله پرېمینځي او په زندان کې د الوتونکو مرغانو ډېر خیال ساتي.

د صدام حسین د شپو ورځو په باب چې په زندان کې یې تېراوه - دا خبرې - د امریکا د ملي ګارډ شل کلن ځوان (شین اوشیا) له مشهورې مجلې ((جي کیو)) سره په یوه مرکه کې کړې وې.

د عراق پخواني جمهور رئیس صدام حسین یې د ۲۰۰۳ میلادي کال د دسامبر په میاشت کې د تکریت ښار ته په نږدې سیمه کې نیولی وو.

که څه هم په ظاهره کې صدام حسین د قانون له مخې د حکومت په تحویل کې دی؛ مګر په حقیقت کې هغه په یوه خفیه ځای کې د امریکایي پوځیانو تر څارنې لاندې د زندان شپې تېروي.

اوشیا د امریکا د ملي ګارډ له هغو پنځو کسانو څخه دي چې ((جي کیو)) ته یې د نړۍ د خورا مشهور او نامتو زنداني خپلې یادګاري شېبې واورولې او هغه یې له دې جریان څخه خبر کړ.

شین اوشیا، د صدام حسین د ورځې چارې مثلاً: بیت الخلا ته تګ، ډوډۍ خوړل او له تفریح سربېره طبي معاینې او نورو باندې

رڼا واچوله.

د شین او شیا له خبرو سره سم د صدام حسین د زندان په کوټې کې یوه بستره، یوه چوکۍ، څو کتابونه او یو مصلی ایښې و. صدام حسین ډېر ځلې خپل ډېر وخت په سکوت کې پر قانوني لاسوندو باندې په عربي ژبې د څه لیکلو په مشغلو کې تېراوه.

د امریکا د ملي ګارډ غړي دا هم وویل چې صدام حسین څه ډول هره ورځ بوټو ته اوبه ورکولې او دا چې هغه د نظافت څومره خیال ساته او په دې کار کې یې دومره احتیاط کاوه چې د خوراک لوښي یې څو څو ځلې به لمدو ټیشو کاغذونو باندې صافول. صدام حسین ته د ورزش لپاره یو کمپلکس (ټریډمل) هم ورکړی شوی و؛ مګر هغه یې نه خوښاوه او د ((ټریډمل)) پرځای یې د ټیبل ټینس غوښتنه وکړه؛ مګر د هغه دا وړاندیز رد کړی شو.

صدام ((چیتوزامي)) چپس خوښاوه؛ مګر یوه ورځ چا ورته ((ډوریتوز)) راوړ چې دومره یې خوښ شو چې د کوټې په کونج کې کېناست او هغه یې ژر ژر وخوړ.

که څه هم هغه په جسماني لحاظ کمزوری شوی و؛ مګر دا ویل به غلط نه وي چې د تکریت د دهقان بچي خپله حوصله له لاسه نه وه ورکړې.

صدام حسین د کیوبا ((سیګار)) خوښاوه او کله کله اوشیا ته له مشورې ورکولو نه هم نه وېرېده. د هغه په مشورو کې به دا هم شامله وه چې ښه ښځه څنګه لاس ته راتلای شي او بیا څنګه هغه ښځه په کنټرول کې راوستل کېدای شي؟

صدام حسین دا کیسه هم واورولـه چې د خپل زوی اودی په واده کې يې څه ډول رقاصې ښځې راوستې وې.

د امریکا د ملي امنیت غړي دا هم وویل چې کله صدام حسین د امریکایي تفتیشي ټیم سره په یو ملاقات کې خوابدی شو، خبرې اترې یې پرېښودې او خپلو وزیرانو ته یې غږ وکړ چې راشئ!

اوشین وايي چې کله يې صدام حسین ته وویل چې جمهور رئیس رونالډ ریګان چې پرده یې الوتکې او هلی کوپترونه پلورل، وفات شوی دی، نو هغه غلی غوندې شو، د هغه پرخلاف مشر بش او د هغه ځوی جورج واکر بش چې څومره شخړې رامنځ ته کړې؛ خو سره له دې چې صدام د هغوی په باب څه ډول فکر کاوه؛ مګر بیا هم له هغوی سره د مذاکراتو او خبرو اترو غوښتونکی و.

دا ټولې خبرې پرخپل ځای، مګر هغه څه چې په زندان کې صدام ورسره مخامخ و، دومره په زړه پورې نه وه. هغه سړی چې د بې ساري دولت، دبدبې، شان و شوکت او ښکلیو ماڼیو سره عادي و او په دغسې یو موقعیت کې يې ژوند کاوه، هغه اوس د طبیعي حاجت د رفع کولو لپاره د یو عادي امریکایي ګارډ په وړاندې په بیت الخلا کې کښناسته (ګویا مجبور و چې دا کار وکړي).

## صدام حسین په عادلانه توګه محاکمه شوی نه دی

په امریکا کې د بشري حقوقو سازمان «هیومن رایتس واچ» پر صدام باندې د چلېدلي مقدمې د ډېرو کمزورو ټکو ته اشاره کړې او ددې مقدمې فیصله یې بې اساسه ګڼلې ده. ددې سازمان د محققینو په عقیده پر صدام او ملګرو یې سهي مقدمه نه ده چلېدلې؛ هغوی وایي چې له ډېرو شکایتونو سره هم د هغوی مقدمه په هماغه شان پرمخ تله. د مقدمې د انتظام کومیته یې هم سهي نه وه جوړه کړې او د شاهدانو حفاظتي اقدامات هم ناقص و؛ پرځینو خلکو به فشار اچول کېده چې شاهدي ورکړي او د قاضیانو پر سر دا لوځه توره ځړېدله چې کېدای شي هغوی د بعث د ګوند غړي وبلل شي.

پردې مقدمې باندې یوه سرې د تبصرې په ترځ کې وویل: ددې مقدمې بهیر د یو ناڅاپي حملې په شان دی چې په هغې کې د لګول شوی تور د تایید په حواله اسناد، د برائت یا صفایي وکیل ته هغه وخته پورې محکمې ته نه وړاندې کیږي چې د استغاثې وکیل هغه محکمې ته د دفاع لپاره نه وي وړاندې کړي.

## د صدام د ژوند په وروستیو شېبو کې څه وشو؟

د عراق ګوښه کړای شوی جمهور رئیس صدام حسین یې د بغداد د خورا امنیتي سیمې د چاپېریال په «خادمیه» کې پر دار وځړاوه، دغه چاپېریال ته «د امریکا د محکمې مقام» یا «امریکن



عزت ابراهیم صدام حسین ته توره ورکوي، عزت ابراهیم د بعث گوند . نوی مشر ټاکل شوی دی

کمپ جستهس)) وایي ... دا پانسي د ۲۰۰۷ کال د دسامبر د میاشتې په ۳۰مه د سیمه ییز وخت په پنځو بجو او ۴۵ دقیقو ترسره شوه؛ مګر د ډېرو خبري رسنیو د پانسي وخت ۷ بجې او پنځه منټه ښوولي و؛ چې پر هغه مهال په بغداد کې د سبایي د آذان ازانګې وې.

د صدام حسین د اعدامولو پر مهال د عراقي وګړیو یوه ډلګی هلته موجوده وه چې په هغې کې د عراق د صدراعظم استازی او یو دیني عالم هم شامل وو.

کله چې صدام حسین یې د دار پر تختې ودراوه، په هغه مهال یې په لاس کې د قرآن عظیم الشان یوه نسخه وه. هغه بالکل چوپ و. هغه د قرآن نسخه یوه سړي ته ورکړه او ویې ویل: دا د هغه دوست (نوم یې هم واخیست) ته ورکړه!))

د صدام حسین د اعدام حکم واورول شو، جلاد چې اوږده توره خوله یې اغوستې وه او مخ یې پرې پټ کړی و، کله چې یې د صدام پر غاړه د پانسي رسۍ اچوله، مخکې له دې یې غوښتنه چې صدام حسین ته هم یوه اوږده توره خوله چې مخ یې وربټ کړي واغوندي؛ خو صدام د هغې له اغوستو نه انکار وکړ او ویې ویل چې هغه له مرګ سره مخامخ کتل غواړي. په دې وخت کې د عراقي ډلګی له خبرو سره سم کله چې صدام د دار تختې ته ورسېد د تکبیر شعار یې ورکړ، کلمه یې ولوسته او بیا یې شعار ورکړ ((تل ترتله دې وي عراق - فلسطین د عربانو دی!)) بیا یې د دار تخته د هغه له پښو نه کش کړه او پر عراقیانو

بانــدې نــړدې تــر درې لســيزو پـورې حــاکم او د هغـوی د تـور او سپين خاوند صدام حسين جسد د هغـه د زوړند سر په شـاوخوا کې چورلېده.

د صدام حسين د اعدامولو ويډيو فلم يې جوړ کړ، چې په تلويزيون يې خپور کړي او خلک د هغه د مرګ په باره کې باوري کاندي.

## صدام حسين پر وژنو اعتراف وکړ

د عراق جمهور رئيس جلال طالباني وايي چې د عـراق ګوښه کړای شوی جمهور رئيس صدام حسين د خپـل حکومت په دوران پر شويو جرمونو اعتراف کړی و، هغـه دا خبرې د عراق په رسمي تلويزيون کې د خبرو پر مهال وکړې. هغه وويل چې يو قاضي په دې کې کاميـاب شـوی و چې د صـدام حسـين نـه دا اعترافـات واخلي؛ مګر دا يې ونه ويـل چې صدام حسين د کومو جرمونو اعتراف کړی و، صرف دومره يې وويل چې دا تـر پلټنې (تفتيش) لاندې ده، په دې لړ کې د عراق جمهور رئيس جلال طالباني وويـل چې بنايي صدام ته لس ځلي د مرګ سزا اوروّل کېداى؛ ځکه چې هغه شل ځله زما د وژلو هڅه کړې وه.

جلال طالباني پخپله پخواني کرد لاربنود دی او هغه پخوا د صدام د مرګ مخالفت کړی و؛ مګر په دغه تلويزيوني مرکه کې يې وويل چې صدام حسين ته د مرګ سزا ورکول سل دلايل لري.


د صدام حسين پلويانو د جلال طالباني پردې ځرګندونو حيراني

 څرګنده کړه او نوموړي څرګندونې يې غير اخلاقي، غير مناسب او پر بدنيتي ولاړې وګڼلې. هغوی ويل چې د دې څرګندونو نه دا ثابتېږي چې د صدام محاکمه عادلانه او بې پرې نه وه او صدام حسين د انتقام ننبه وګرځېده ....

## د صدام حسين پرخلاف دوولس (۱۲) تورونه

د عراق حکومت ويلي دي چې د صدام پرخلاف پنځه سوه دوسيې جوړې شوي دي؛ مګر په محکمه کې د وړاندې کېدو پرمهال به صرف له دوولسو (۱۲) دوسيو سره چې هلته تورونه پرې لګېدلي دي، مخامخ کېږي. د حکومت د وياند له قوله ويل شوي دي چې د صدام حسين په اړه هغه ۱۲ دوسيې چې پرده باندې د انسانيت پرخلاف د جرمونو تاييد کوي، د وړاندې کولو لپاره بالکل تيار دي، له همدې لامله په دې خبره کې هېڅ د حکمت ټکی نشته چې پر صدام باندې د پنځه سوو دوسيو مقدمې يوځل پيل کړای شي؛ ځکه چې دا به د وخت ضايع کول وي. وياند د حکومت دا خبره هم تکرار کړه چې د صدام پرخلاف به د مقدمو سماعت په دوو مياشتو کې پيل شي. د نوموړي قضيو په باب چې کوم قاضي قضاوت کوي، هغه ويلي دي چې د پخواني ديکتاتور وانې شلېدلي دي، ځکه چې د څو مقدمو سره به مخامخ کېږي (او ځواب به وايي).

د حکومت وياند وويل: موږ پوره باور لرو چې کومې دوسيې محکمې ته د صدام د محاکمې لپاره وړاندې کېږي، هغه د صدام



د عراق جمهور رئيس جلال طلباني د امریکا د خارجه چارو له وزیرې کنډولیزرایس او رمزفیلډ سره لیدل کیږي

د محکومولو او جزا ورکولو لپاره کافي دي. د تورونو شمېر صرف تر دوولسو پورې د محدودولو په اړه وياند وويل: کوم تورونه چې محکمې ته وړاندې کېږي هغه صدام حسين ته د زياتو نه زيات سزا ورکولو ته کافي دي. که چېرې دا تورونه د هغه پرخلاف ثابتېږي نو د مرګ سزا به ورته واورول شي. د حکومت وياند د يوې بلې پوښتنې په ځواب کې وويل چې دا دوسيې ځکه تر دوولسو پورې محدودې شوې چې د صدام پرضد ژر ترژره محکمه دايره شي او د مقدمو په اورېدلو کې آسانتياوې رامنځ ته شي.

صدام حسين چې له کومو دوولسو دوسيو سره د ځواب ورکولو لپاره په محکمه کې مخامخ کېږي په هغو کې په ۱۹۸۸ ميلادي کال کې پر کردانو د کيمياوي وسلو استعمال، په ۱۹۹۵ ميلادي کال کې پر کويت حمله او په ۱۹۹۱ ميلادي کې پر شيعه وګړو باندې مظالم شامل دي.

له بله پلوه د صدام حسين د وکيلانو ټيم وياند ((عسام غزاوي)) د حکومت د وړاند پر ځرګندونو انتقاد کړی او ويلي يې دي چې ښايي د چا پرخلاف د الزاماتو په اړه اطلاع د محکمې له خوا راشي او همدارنګه ښايي چې ددې تورونو يو نقل يا يوه کاپي د تورن وکيلانو ته واستوي ... د صدام پرخلاف د تورونو په اړه چې کوم قاضي قضاوت کوي هغه د سعودي عربستان يوې ورځپاڼې ته د مرګې په ترڅ کې وويل: صدام حسين د خپلو ذهني استعدادونو د کارولو پوره واک لري، د پلټنې په دوران کې به پر هغه هېڅ ډول فشار رانه وړل شي.

## صدام حسین له سناریو پرته اتل

یو کال پخوا کله چې د صدام حسین له لاسونو نه زولنې خلاصې شوې او هغه یې د محاکمې په خونه کې ناستې څای کې کېښاوه، نو د یوې شیبې لپاره پرټول مجلس باندې مسلط شوی و، په لومړي سر کې حتی د هغه حامیان او ملګري هم ترې وډار شول؛ د امریکا په وړاندې په فدائیانه ډول وسله غورځوونکې دا هغه سړی و چې د ځان د دفاع لپاره یې هغه ته پرخپل ژوند باندې د لوبې کولو خبره کړې وه.

مګر د صدام حسین اعتماد ورو ورو زیات شو، پرخپل خاص خیاط باندې په ګنډلي بالاپوش کې ډېر ښه ښکاره کېده، خصوصاً په هغه وخت کې چې د محکمې په وړاندې یې دلایل وړاندې کول، هغه د الفاظو په بیانولو کې له کفایت سره سره د خبرو کولو په هنر هم پوهېده او په دې توګه یې د خپل مطلب ټکي هم په مستندو دلایلو ثابتاوه .....

## د مدعي العموم یا د استغاثې وکیل کمزورې دوسیه

صدام حسین د ځان پرخلاف د دواړو دوسیو چې یو یې په دوجیل کې د شیعه ګانو عامه وژنه او بل یې په انفل کې د کردانو د عامې وژنې په اړه وه، په سقم هم پوه و او له هغه نه یې هم ګټه واخیسته. په دې دواړو دوسیو کې د استغاثې د وکیل دریځ کافي کمزوری و، څکه چې هغه په دې باب کافي شواهد نه درلودل او دلایل یې هم بې وزنه وو. صدام حسین یا د مذهبي عقیدې له

مخې یا د یو سنجول شوي چال له مخې د محاکمې په خونه کې د قرآن یوه نسخه هم له ځانه سره لرله. کله کله به هغه د خپلو مخالفینو د غلي کولو لپاره په لوړ آواز د قرآن آیتونه لوستل او د هغه دا تګلاره ډېره اغېزمنه وه.

هغه څو ځلي د لوږې اعتصاب اعلان کړ؛ مګر هېڅ کله یې د عملي کولو خبر رانغی، د دجیل د قضیې مقدمه پیل شوه، خو صدام پر هغې باندې د قضایي واک منلو ته تیار نه و؛ مګر کله چې له هغه نه د جرایمو د اعتراف په باب پوښتنه وشوه. هغه له اطاعت سره انکار وکړ.

وروسته کله چې هغه پرځان ډېر باوري شو. نو هغه دا چیغې پیل کړې چې هغه د عراق ریښتینې جمهور رئیس دی. قاضي او لوی څارنوال دې له هغه سره احترامانو سلوک وکړي. د هغه پر هیواد باندې شوی حمله او د هغې په ترڅ کې دده ګوښه کېدل د بین المللي قوانینو له مخې ناجایز دي.

مګر د مقدمې په بهیر کې هېڅکله دا پته ونه لګېده چې صدام د خپلې دفاع لپاره په موضوع پورې اړوند منظم پلان لري. صدام د دجیل د مقدمې د بهیر په دوران کې له وقاره ډکه بیانیه ورکړه او د هغې په ترڅ کې یې له ده سره د زندان په چاپېریال کې پر غیر انساني سلوک باندې انتقاد وکړ؛ مګر بیا یې ځینې معمولي شکایتونه هم وکړ او ویې ویل: دا به غوره انساني سلوک وای چې که چېرې امریکایانو پرېښی وای چې د بیت الخلا دروازه وتړي؛ مګر ددې ډول شکایتونو په ځواب کې د

محکمې په خونه کې تر شونډو لاندې مسکاوې پیل شوې او نور څه نتایج یې نه درلود.

د قانوني اعتبار له مخې پر هغه باندې دواړه چلبدلي دوسيې له هغه معیار نه ډېر ټیټې وو چې ښايي هغسې وای، مګر صدام حسین هم خپل هغه رعب او دبدبه ونشو ساتلی چې د عراق اولس د هغه د واکمني په دوران کې ورسره عادي و.

## د صدام د محاکمې بین المللي حیثیت

د صدام حسین د محاکمې په باب داسې ګومان کېده چې دا به د عراق د تاریخ لپاره د تاداو ډېره ثابته شي؛ البته کله چې په دې هیواد کې د دیکتاتوري ځای دیموکراسي ونیو؛ دا خبره هم پرخپل ځای کې سهي ده چې همدغه محاکمه به په عراق کې د هغو ګډوډیو یوه کړی ثابته شي چې ټول هیواد یې په غېږه کې نیولي ده. که چېرې ددې محاکمې لرې نتایج وکتل شي؛ نو دا د بین المللي قوانینو د انکشاف په صورت کې ممکن کېدای شي چې غواړي حکومتي استبداد د خپلې واکمنۍ په کړۍ کې راولي.

دا محاکمه په عراق کې د روان جنګ پر بهیر باندې اغېزمن ثابت نشو او نه ددې اغېزې آثار چا ولیدل؛ ځکه چې ددې جګړې عوامل زښت زیات او ډېر ژور دي چې په یوې پېښې باندې نه اغېزمن کېږي، که څه هم هغه په ډېر ډرامايي انداز باندې رامنځ ته شوی وي.

که چېرې د دجیل د هغو خلکو نظر وڅېړل شي چې د هغوی

۱۴۸ تنه خپل و خپلوان د صدام د مظالمو په نتیجه کې وژل شوي دي؛ نو دا خبره د ډاډ وړ ده چې د هغوی په حق کې انصاف شوی دی. د شهادتونو پرځوا که هېڅ ډول شک نشي څرګندولای، کلیوالو د صدام په مخ کې خپل دریغ بیان کړ؛ چې دا خبره په کې ثابته شوه چې صدام په کومو وسایلو باندې پر هیواد باندې خپله واکمني ټینګه کړې وه.

د پخواني جمهور رئیس غبرګون یا عکس العمل هم د غور وړ و، هغه د خپلې تګلارې په دفاع کې دا پوښتنه وکړه چې حکومت د بغاوت د ټکولو لپاره ولې اقدام نشي کولای؟ او یوځل یې داسې وویل چې د هغه په اجنډا کې ډېر مهم کارونه وو او هغه به هروخت په دې باب غور نشو کولای چې د هغه لاس لاندې خلک څه کوي؟ هغه د محکمې د واک کړی هم مسترد کړه.

د صدام حسین پرخلاف دا مقدمه به په مستقبل کې د دغسې مقدماتو مهم مثال شي چې د یو هیواد واکمن د هیواد او وګړو په وړاندې له خپل مسؤولیت نه سترګې پټې او یا انکار پرې کوي.

ددې محاکمې یو مهم اړخ دا دی چې د هغې ټول بهیر په ظاهره کې د عراقیانو په واک کې و، له دې نه مخکې ډېرې محاکمې د نړیوالې مداخلې په نتیجه کې ترسره شوي دي، لکه په نورنبورګ او یوګوسلاویا کې چلېدلې محاکمې.

دا محاکمه دا رجحان پاللی دی چې کوم خلک د دیکتاتورانو تخت نسکوروي او یا د نورو په وسیله دا کار کوي، هغوی په خپله د خپلو مخالفینو پرخلاف محاکمې دایرولای شي.

په دې مقدمه کې د قانوني کړو وړو معیار، په هرحالت کې د هیواد نه د بهرو ادارو له خوا تر تنقید لاندې راغلی دی. د بشري حقوقو د نړیوال سازمان یو غړي (میلکم سمارټ) وویل: «د بشري حقوقو نړیواله اداره په هر حالت کې د مرګ سزا پرخلاف دی او موږ په دې مقدمه کې هم د مرګ سزا غندو. موږ په دې هم پوهېږو چې په دې مقدمه کې ډېر مهم سقم و؛ له همدې لامله د مرګ سزا خورا زیات د تشویش وړ ده.»

هغه د خپلو اعتراضاتو د یادولو په لړ کې د محکمې د خود مختارې، آزادي او سیاسي مداخلې په باب هم خبرې وکړې. هغه وویل چې د محکمې پخواني قاضي استعفی ورکړې وه او دوهم قاضي یې ددې لپاره له خپلې لارې نه لرې کړ چې د بعث ګوند رکن دی. بعث ګوند په هغه وخت کې یوازنی سیاسي ګوند و او د دریم قاضي خپلوان یې هلته وواژه چېرته چې پر کردانو باندې د صدام په حکم کیمیاوي ګاز استعمال شوی و. سمارټ وویل چې د مقدمې په دوران کې درې تنه مدافع وکیلان ووژل شول او په خپله صدام تر یو کاله پورې قانوني مشاورت نشو ترلاسه کولای. ددې محاکمې شمیر د هغه پر مختلفو نړیوالو تریبیونلونو په لست کې راځي چې نوی قانون جوړوي، داسې قانون چې پر ظالمو او مستبدو چارواکو یې اطلاق کېږي. که د غې مقدمې ته په همدې نظر وګورو، نو دا مقدمه له عراق نه زیات بین المللي قانون ته ډېر مهم دی.

## پاربدلی صدام په محکمه کې

صدام حسین د ډېرې غصې په حالت کې د بغداد د قضایي کړو وړو پر بهیر ورګډ شو. هغه ویل چې له محکمې نه د بایکاټ په صورت کې یې هم دلته راوستلی دی. صدام حسین د ((بش مرده باد!)) شعارونه ورکول او د محکمې له نوي قاضي سره په بحث کې ولوېد، صدام اصرار درلود چې نوي قاضي بې پرې نه دی، هغه دې تبدیل کړی شي.

له صدام حسین سره د هغه ملګري هم محکمې ته وړاندې کړی شوي وو، پرده تورونو باندې په ۱۹۸۲ میلادي کې د دجیل د وګړو د ۱۴۸ تنو د عامې وژنې تور دی.

د بایکاټ کولو د پرله پسې اخطارونو سره سره لوی څارنوال قاضي القضات رؤف عبدالرحمان ته وویل چې صدام حسین او ملګري یې په زوره محکمې ته وړاندې کړئ. صدام حسین قاضي ته وویل: ((زما په غیاب کې زما پرخلاف د قضایي کړو وړو حق استعمال کړئ)) هغه زیاته کړه: ((دا محکمه نه ده؛ یوه ډرامه ده!))

د عـراق پخوانـي جمهـور رئیس پـه عربـانو کې مروجه شنه (آبـی رنګـه) خولـه اغوستې وه؛ تردې مخکې بـه هغـه محکمې ته په بالاپوش کې راته، صدام حسین او د هغه ورور برزان التکریتي دواړه د غلي کیناستو او څه نه ویلو پرځای خبرې اترې کولې او په دې برخه کې یې د قاضي غوښتنې نه منلې. تکریتي قاضـي تـه شا وروا ړوله او پر مخکه کېناست او تر آخره پورې هماغسې ناست و.

قاضي ددې الزامونو تردید وکړ چې د دفـاع وکـیلان قصداً د

محاکمې له بهیر نه لرې ساتل شوي دي. هغه ویل چې دی به خپله هم نه غوښته چې په دې محاکمه کې ګډون وکړي.

تورن کسان د ټولو تورونو تردید کوي. د محکمې قاضي یې یو میاشت مخکې تبدیل کړی دی او نوی قاضي ددې مقدمې د تورنو په وړاندې خورا سخت موقف نیولی دی.

صدام او د هغه ملګري په تیرو څو محاکمو کې غیر حاضر شوي دي.

په بغداد کې د BBC خبریال جان براین وایي. که چېرې تورن کسان همدغسې د زور له لیارې محکمې ته راوستل شي؛ نو د دفاع د وکیلانو دا ادعا پوره قوت پیدا کوي چې ویل یې. د محکمې نوی قاضي ددې مقدمې په اړه بې پرې نه ده.

## صدام حسین په خپله پلارنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو

د عراق پخواني جمهور رئیس د دسامبر په ۳۱ مه د سباوون پر مهال د هغه په پلارنۍ قصبه ((عوجه)) کې خاورو ته سپارل شوی دی. د صدام د تدفین په اړ کې ویل کېږي چې په لومړي سر کې د هغه د کورنۍ غړو ویل چې د بغداد په سل کیلومتری سیمه ((رمادی)) کې خاورو ته وسپارل شي؛ مګر وروسته د هغه تدفین د تکریت د سیمې عوجه کې د صدام په پلرنۍ هدیره کې ترسره شو. د بی بی سی د عربي څانګې د خبریال له ریوټ سره سم د هغه د تدفین په مراسمو کې څو تنو نږدې خپلوانو ګډون درلود. د عوجه په کوم قبرستان کې چې صدام ښخ شوی دی هلته ددې پر زامنو

او کلیوالو سربېره د هغه د دوو زامنو قبرونه هم شته. د صدام دواړه زامن پر عراق باندې د امریکا له حملې نه وروسته د امریکایي پوځ له خوا وژل شوي وو. عوجه هغه کلی دی چې ۶۹ کاله مخکې صدام حسین په کې زېږېدلی و.

د صدام حسین یو خپلوان (موسی فَرَجُ) AFP آژانس ته وویل چې صدام له سیمه ایز وخت سره سم د سهار په څلورو بجو د عوجه په منځنۍ علاقه کې هلته خاورو ته وسپارل شو چې د هغه د اقتدار په دور کې جوړ شوی و.

د صدام حسین دوه لوڼې په اردن کې د تبعید شپې ورځې تیروي. د هغوی د ویاند له خبرو سره سم کله چې دواړه خویندې پر تلویزیون د خپل د پلار وروستي شېبې ولیدلې، ډېر غمگین او خواشیني شول؛ مګر هغوی په دې ویاړ کاوه چې صدام حسین د دار پر تختې باندې په ډېر استقامت او زړورتیا له جلاد سره مخامخ شو.

د هغه یوه لور ویلې وه چې هغه د خپل پلار جسد په موقتي ډول په یمن کې خښوي.

د صدام حسین له اعدامولو نه څو ساعته مخ کې په تکریت کې د خلکو پر گرځېدو راگرځېدو بندیز لگېدلی و. په خپله په عراق کې ډېر سخت امنیتي تدابیر نیول شوي وو او امریکا په ټوله نړۍ کې خپلو سفارتونو ته دستور ورکړی و چې د هرډول ممکنه حملو مقابلې لپاره تیار وي.

کله چې په ټول عراق کې د صدام د اعدامېدو خبر خپور شو

د صدر په ښار کې خلک سړکونو ته ووتل او د خوښۍ څرګندونه يې وکړه؛ مګر په تکريت کې د هغه له پانسي کېدو نه وروسته احتجاجي مظاهرې وشوې. په سمارا او رمادي کې هم مظاهرې وشوې او د عراق په مختلفو ښارونو کې درسته ورځ له تشدد نه ډکې پېښې رامنځ ته شوې چې په ترڅ کې يې ۲۸ کسان هلاک شول.

د عراق د ملي امنيت مشاور موافق الرباعی چې د صدام د پانسي کولو عيني شاهد و، بی بی سی ته وويل: صدام حسين يې په اولچک او زولنو کې راوستی و، په لاس کې يې قرآن کريم و او هغه داسې ښکارېده لکه چې ماتې يې خوړلې وي او هغه ځينې شعارونه هم ورکړ.»

د عراق د پخوانی جمهور رييس د مرګ پر فرمان باندې د عراق اوسنی صدراعظم نوری المالکی امضا وکړه. له پانسي نه وروسته هغه په خپلو څرګندونو کې وويل: «د صدام حسين په اعدام باندې د عراق د تاريخ يو تور باب بند شو.» د نړۍ ډېرو هيوادونو د صدام په اعدامولو کې ورته غبرګون ښود؛ اروپايي ټولنه، روسيه، ليبيا او فلسطين کې حماس د صدام د اعدامولو مخالفت کړی و؛ مګر امريکا، ايران، کويټ، اسرائيل او جاپان، نورو څو هيوادونو د صدام حسين پانسي کول يې بدرګه کړی و. ليبيا د صدام د پانسي له لامله په درست هيواد کې د درې ورځو ملي ماتم اعلان کړی و.

د عراق ملي تلويزيون «عراقيه» د صدام د خبر د خپرولو په

ترخ کې وویل: «مجرم صدام حسین یې د دار پر تخته خېژولی دی.»

د امریکا جمهور رییس جورج واکر بوش د عراق پخواني لاربښود صدام حسین ته د مرګ د سزا ورکولو فیصلې ته په عراق کې د نوی ډیموکراسی په تاریخ کې یو مهم اقدام ګڼلې چې ددې نظام بنسټ جوړوي. بش وویل: «هغه خلک چې د صدام حسین د مظالمو ښکار شوي وو؛ نن له هغوی سره انصاف وشو او خپل حق ته ورسېدل.»

هغه زیاته کړه: «د عراق د ټولنې په وړاندې لا نور سفر هم شته چې هغه به شاته غورځوي.» هغه وویل: «چې تاریخ به هغه د یو عادلانه او آزادې ټولنې د جوړېدو په لور، د یوې مهمې ورځې په توګه درج کاندي.»


د عراق صدراعظم نوری المالکی په تلویزیون کې د خپلو څرګندونو په ترخ کې د عراق دپخواني جمهور رییس اعدامېدو فیصله وستایله او ویې ویل: «دا سزا د یو شخص لپاره نه؛ بلکې د هغې د اقتدار د بشپړې تورې دورې لپاره یوه سزا ده.» نوری المالکی د خپلو خبرو په دوام کې وویل: «ممکن دا سزا د هغو یتیمانو او کونډو په درد کې کموالی راولي چې هغوی ته امر شوی و چې خپل عزیزان د خلکو له نظره لرې چېرته په کوم پټ ځای کې خښ کړي. یا د هغو خلکو په درد کې کموالی راولي چې پرځ ، د ظلم پر مهال غلي پاتې کېدو ته اړ شوي وو او یا د هغوی احساسات ډب کړی شوي وو، او یا هم د هغو خلکو غم او غصه

کم کړي چې شکنجه شوي وو ،او له وېرې څخه يې څه نشو ای ويلای.»

د انګلستان د بهرنيو چارو وزيره مارګرېټ بيکټ د صدام د پانسي کولو د بدرګه کولو په ترڅ کې وويل: «هغو خلکو د خپلو جرايمو سزا موندلې ده.» هغې زياته کړه چې د صدام په دور کې ډېر سخت جنايتونه وشول او همدغه مناسب کار و چې د هغو جناياتو مجرمين په عراق د عدالت کټهاروته راوستل شي.

په عراق کې د امريکا سفير (زلمی خليلزاد) ويلي و چې د صدام پانسي د عراق لپاره يو مهم تاريخي پړاو دی ځکه چې اوس دغه هيواد د يو داسې عادلانه او آزادې ټولنې په لور مخ په وړاندې ځي چې د هغې بنسټ به پر قانوني برلاسی اېښودل شوی وي. ښايي ځو راتلونکي اونۍ د عراق د خلکو لپاره ستونځمنې وي؛ مګر د صدام حسين او د هغه د حکومت له پای ته رسېدو سره سم، په هيواد کې به د يووالي او ښه مستقبل لارې چارې برابرې شي.

د هسپانيې صدراعظم «جوزي ليوسن سباتيرو» د پانسي کولو مخالف دی؛ مګر وايي چې صدام حسين د خپلو کړو وړو سزا موندلې ده. هغه زياته کړه چې د يو عام انسان يا سياسي لاربشود په توګه صدام حسين هم د ځان او خپل حکومت د کړو وړو مسؤول و او په دې باب به يې ځواب ورکاوه.



د عراق پخواني جمهور رئيس صدام حسين له لمانځه نه وروسته دعا کوي

## څوارلسم باب

# آیا صدام د بش د کورنۍ د دښمنۍ هدف وګرځېد؟

کله چې صدام حسین د دار پر تختې ودرېد او په غیر معمولي ډول یې د دار کړۍ ته کتل؛ نو دغه مقام ته د هغه رسوونکی شخص (جورج واکر بش) د امریکا په تکزاس ایالت کې په خپل شخصي کور کې په درانه خوب ویده و او خوند یې ترې اخیست.

لا د شپې نه (۹) بجې وې؛ مګر بش دا ویلي او ویده شوی و چې هغه دې څوک له سهار نه مخکې له خوبه نه پاڅوي. په دومره بې پروایي سره د خوب غېږې ته ورتلل د هغه شخص د وروستي ځل لپاره تحقیر او سپکاوي و چې ځان یې ثاني صلاح الدین ایوبي، د عربانو ژغورونکی او د بغداد زمری باله.

ښایي ځینې خلک دا ګومان وکړي چې بش په هغو ورځو کې سهي خوب نشوای کولای؛ ځکه چې د هغه پلویان لړ شوي دي او په عراق کې د هغه پلانونه ټول شنډ شوي دي؛ مګر کله چې په ټوله نړۍ کې تبصرې کېدې او د صدام د پانسي غندنه او بدرګه

کېدله، بش په خوا ږه خوب ویده و. هغه له خپل معمول سره سم په پنځو بجواو پنځه لسو دقیقو له خوبه پاڅېده، یو ساعت وروسته یې د ملي امنیت له مشاور ستیفن هیډلی سره د لسو منټو لپاره ملاقات وکړ او څو شېبې وروسته یې هغه بیانیه ورکړه او خپره شوه، چې دی لا مخکې تیاره کړې وه.

که د یوې حوالې له مخې وکتل شي، نو د صدام حسین مرګ په تکراس کې د بش د کورنۍ او تکریتي صدام حسین ترمنځ د «ډرامایي» دښمني د انتها ټکی و.

## هغه تعلق چې ویجاړ شو

د دښمنی دا داستان د هغو اړیکو نه پیل کېږي چې په پټه کې مخ پر زیاتېدو وه؛ مشر بش د امریکا د جمهور رئیس مرستیال و او صدام حسین له دې لامله د امریکا اتحادي ملګری و چې له ایران سره یې دښمني پاله.

په ۱۹۸۳ میلادي کال کې ډونلډ رمز فیلډ د جمهور رئیس ریګان د استازي په توګه له جمهور رئیس صدام حسین سره وکتل او هغه ته یې د ایران پرخلاف جنګ کې د مرستې وړاندیز وکړ.

دا اړیکې هغه وخت په دښمنۍ بدلې شوې چې صدام حسین پر کویټ وروخوت او مشر بش له کویټ نه د هغه د ویستلو لپاره د لویدیځو او عربي هیوادونو په شمول یو بین المللي پوځي اتحاد رامنځ ته کړ.

صدام حسين ته ((د بغداد قصاب)) وويل شو او په خواب كې صدام حسين مشر بش ته ((زهرجن مار)) او خوى (جارج واكر بش) ته يې ((د زهرجن مار بچى)) وويل.

دوه كاله وروسته صدام حسين په علني ډول د مشر بش د وژلو دسيسه جوړه كړه؛ مګر له دې سره سره سپينه ماڼۍ همېشه دا ادعا كړې ده چې پر عراق باندې حمله له شخصي دښمنۍ سره هېڅ اړيكې نه لري، مګر صدام حسين به له ځېل قبر څخه هم د بش رژيم تعقيبوي. صدام به تل دا ويل چې هغه به په چل او هنر سره امريكايان عراق ته راولي، هلته به هغوى له مقاومت او ماتې سره مخامخ كېږي.

په دې وخت كې د هېچا په وهم او ګومان كې هم دا خبره نه ګرځېده چې د صدام د قدرت په ګدۍ كې د نشتوالي په صورت كې هم امريكا به دداسې وضعې سره مخامخ كېږي.

## د ښكارې د ناستې د خونې ((د اتلولۍ كې))

پردې مهال ماته د هغه ويډيو فلم صحنې تر سترګو كېږي چې د صدام حسين له غوښتنې سره سم په ۱۹۷۹ ميلادي كال كې جوړ شوي و؛ دا هغه مهال دى چې صدام حسين د يو كودتا په ترڅ كې ځېل محسن احمد حسن الباقر د جمهوري رياست له عهدې نه لرې كړ او دى يې پرځاى جمهور رئيس شو.

كله چې صدام د جمهوري رياست له يوولس كلنې مرستيالۍ نه د جمهوري رياست مقام ته ورسېد؛ نو د بعث ګوند د مركزي

کومیټې غونډه یې جوړه کړه، په ویډیو کې ښودل شوي دي چې هال بالکل ډک دی، ځوان صدام د ستېج شاته په ډېر غرور ناست دی، یو یوّ د ټریبیون شاته راځي او د نوی جمهور رئیس پر لوېي رڼا اچوي.

صدام په خوند، خوند «سیګار» څښي او هر وینا وال ته د تحسین په سترګو ګوري. بیا په خپله صدام د ټریبیون شاته راغی، د ټول سالون وګړي ورته د احترام لپاره پاڅېدل. د چک چکو داسې شور و زوږ پورته شو، تا به ویل چې اوس به د سالون چت ولوېږي. په دې وخت کې صدام حسین خپلو مخالفینو ته د ګوند خاین، توطیه ګر او احسان هېروونکي په القابو مخاطب کوي، د هغه د هرې دوهمې او دریمې جملې په پای ته رسېدو سره ټول هال د چک چکو په شور او زوږ لړزېږي.

صدام حسین له بیانیې نه وروسته بېرته پر خپل مخصوص ځای کېني، اوس د ټریبیون له شانه یو بل پسې د اشخاصو نومونه اخیستل کېږي، دوه تنه ساتونکي راځي او د هریو له دواړو لاسونو نیسي، بهر یې وباسي، په دې توګه ډېر کسان بهر بیول کېږي او بیا داسې خبر خپرېږي چې هغوی د ګوند له رهبرۍ سره د خیانت په جرم او د وطن دښمنۍ په تور ووژل شول.

د خاینانو له تصفیې وروسته د هیواد او بعث ګوند ځوان لارښود صدام د عراق د جمهور رئیس په توګه د شان او شوکت لوړو پوړیو ته رسېږي. تر راتلونکو څلور ویشتو کلونو پورې د عراق په هر عمومي سړک، پیچومی، چوک، حکومتي دفتر، د تلویزیون

سکرين، د ورځپاڼو لومړي مخونه او نوټونو باندې فقط د عراق د جمهور رييس تصوير ليدل کېږي.

د هغه له عقابي سترګو نه هېڅوک نشي پټېدلای، هېڅوک د هغه د احترام ((يا وېرې)) له کبله د جمهوري رياست لپاره ځان نشي کانديدولای، هغه بلاشبه خورا محبوب لارښود دی، چې په هر انتخاباتو کې ۹۹/۹۹ رايې وړي.

د جمهوري رياست په دې ۲۴ کلنه دوره کې که صدام يو سفاک ديکتاتور و، خو فقط د عراق د کردانو، شيعه ګانو او مخالفو سنيانو لپاره و، د امريکا لپاره، هغه د ايراني ملايانو د سېلاب په وړاندې د بند حيثيت درلود.

د کويټ، سعودي عربستان، عربي متحده امارات، اردن او مصر د چارواکو په وړاندې صدام حسين د عجمي لښکرو په مقابل کې د دوهمې قادسيې جګړې لوی اتل و؛ مګر کله چې په ۱۹۹۰ ميلادي کال کې يې پر کويټ حمله وکړه، نو همدغه د عربو وياړ د عربو په ننګ او عار بدل شو.

د لوېديځې نړۍ نازولی روڼ انده سيکولر ديکتاتور د شيطان هار په غاړه د هټلر او موسيليني په کتار کې ودرول شو او بيا ټولو ته د عراق پر اولس د صدام حسين مظالم تر سترګو شو.

بلاشبه صدام حسين د خپلو مخالفينو لپاره د هولناک شخصيت خاوند و. هغه د بعث ګوند تر عنوان لاندې د ظالمو چاپلوسانو يوه ډله پرځان راټول کړې وه. هغه د خپلې قبيلې او کورنۍ خلک ښه ونازاوه، هغه خپلو دوو زامنو ته پر خلکو باندې د تيريو خلاص

لاس ور کړ، د ایران پرخلاف په اته کلن جنګ کې یې دوه نیم لکه عراقیان د جنګ په لمبو کې وسوځاوه او خپله وېره او خوف یې د عراقي کردانو او شیعه ګانو په هډوکو کې واچاوه.

مګر د صدام حسین د دیکتاتوري په دې سا نیوونکې دور کې هم د عراق د اولس لپاره ښوونه او روزنه او دارو درمل مفت و. پنځه اتیا فیصده (۸۵٪) خلک د لیک لوست او سواد خاوندان وو. په زرګونو تنه محصلین د سکالرشپ لپاره لوېدیځو هیوادونو ته تلل او هلته به یې د ساینسي علومو په ځانګو کې زده کړې کولې. په ټول هیواد کې د اروپایي نقشو له مخې د سړکونو پوره شبکه غوړېدلې وه. د عراق د نفوس نیمایي برخه په اقتصادي لحاظ په متوسطه طبقه کې راتلل او دا په ټوله عربي نړۍ کې خورا لویه متوسطه طبقه وه. په ماموریتونو کې د ښځو برخه په سلو کې څلوېښت و، دهقانانو ته په نیمه بیه تراکتور او تقریباً مفت تېل ورکول کېده او هغوی ته به په نیمه بیه برېښنا ورکول کېده.

که له یوه پلوه صدام د خان لپاره اویا (۷۰) بابه ماڼۍ جوړې کړې وې؛ خو له بله پلوه یې عام عراقي ته هم د ژوند بنسټیزې اړتیاوې پوره کړې وې. که څه هم د ملګرو ملتونو د ولس کلن بندیزونه د منځنۍ طبقې ملا پر ځکه ولګوله او په لکونو خلک د دوا د نه رسېدلو له لامله هلاک شول، مګر یو عراقي هم د لوږې له لامله مړ نشو.

مګر هغه انصاف او عدالت چې صدام حسین خپلو مخالفینو ته پېرزو نکړه، هغه انصاف په خپله د صدام حسین هم په نصیب کې رانغی،

د دوو کلونو په دوران کې دري قاضیان تبدیل کړې شول. کومو مدافعو وکیلانو چې د هغه د مقدمې په پلوی کار کاوه، هغوی تل تر فشار لاندې وو او د مرګ اخطارونه ورکول کېده. په ظاهره کې له مرګ نه لږ څه مخکې موده کې هغه یې د عراق حکومت ته حواله کړه او خلکو ته دا ذهنیت هم ورکړ شو چې له دې مقدمې سره د امریکا هېڅ تعلق نشته او دا مقدمه د عراق د حکومت عدلي نظام د عراق د قانون له مخې چلولې وه؛ مګر د هغه مرګ عملاً د امریکایي پوځ تر څارنې لاندې پېښ شو.

د صدام حسین مرګ د هغه د عمل مکافات دی. هغه یو سفاک دیکتاتور و؛ مګر د نوموړو په تبدیلولو سره د هغه له ګوښه کېدو نه وروسته هم دا نوم ترې لرې نه شو. په اوسني عراق کې په سلو کې د برش میندې خپل ماشومان ښوونځیو ته د لېږلو جرئت کولای شي چې هغوی په منځنۍ طبقې پورې اړه لري او د ملګرو ملتو د بندیزونو په نتیجه کې په اقتصادي لحاظ له پښو لوېدلي وو؛ مګر اوس بیخي له فقر او لوږې سره لاس او ګرېوان دي.

که څېرې د صدام په دور کې هرچېرته د جاسوسانو راج و؛ مګر اوس هرچېرته د مرګ حکومتي ټولی ((Death Squad)) پر خلکو د ژوند صحنه تنګه کړې او هرچېرته بمونه چوي او د عراق په هره ګوښه کې د مرګ پهرې دي. په اوسط ډول هره ورځ سل تنه په عراق کې وژل کېږي. که څېرې صدام حسین په ۲۴ کلونو کې یو لک نه زیات شیعه ګان، کردان او د بعث د ګوند مخالف سنیان وژلي وو، خو له نن نه درې کاله مخکې ۲ لکه عراقیان وژل شوي دي.



صدام حسین د خپلې خوښې یو یک لاندې یادونې کوي. د هغه یو یادګار انځور

له عراق نه هر میاشت یو لک کسان تښتي او په نورو هیوادو کې پناه اخلي او تراوسه پورې اتلس لکه عراقیان د هیواد پرېښودو ته اړ شوي دي. صدام یې په دې نړدیو کې، اوس، اوس په دار ځړولی، مګر ټول عراق له یوې مودې راهیسې د یو متعفن جسد په شان پر دار ځړېدلی او د دار پر سر ځانګې که مخکې د عراق په نامه کوم هیواد و؛ مګر اوس مازې د ښکارې سالون دی چې د برې په جام ((ټرافي)) باندې یې سینګار کړی!!!

## د صدام او مرګ ترمنځ واټن زیات شو

یو امریکایي پوه لیکي چې جمهور رییس صدام حسین د بغداد په کمپ کې د دار د ختلو پرمهال د مقتدی الصدر د پلویانو طعنې چې کوم اور د عراقیانو پر جذباتو او احساساتو لګولي وو د هغه حرارت ټوله نړۍ احساس کړه او د سنیانو هیجان لاپسې وپارېده.

له بله پلوه په عراق او نورو ځایونو کې شیعه وګړو د خپل برې احساس کړی، صدام حسین له خپل مرګ نه وروسته هم خپل سیاسي مخالفین هغسې منقسم ساتلي دي لکه چې په ژوند کې یې ساتلي وو، د هغه مرګ د شیعه او سني د اړیکو پر سر یو کاري ګوزار و (چې وشو او اغېزې یې پاتې شوې). په عراق کې سني وګړي په اقلیت کې دي؛ مګر د جمهور رییس صدام حسین تر قیادت لاندې د عراق پر سیاسي واکمنۍ باندې د هغوی ولکه وه چې د صدام تر ګوښه کېدو پورې پر خپل ځای پاتې وه.

کله چې صدام حسین په اتیایمه لسیزه کې، په ایران کې له اسلامي انقلاب نه وروسته پر ایران حمله وکړه، نو اسلامي نړۍ دا جنګ د سني او شیعه جنګ وباله او د خپلو خبري رسنیو په وسیله یې هم دا جنګ نشر ته وسپاره، په دې وخت کې د ډېرو اسلامي هیوادونو چارواکیو هم د صدام د حکومت مرسته وکړه. دا جنګ کومه نتیجه ورنکړه؛ مګر کله چې په ۲۰۰۳ میلادي کال کې امریکایي او برتانوي پوځ پر عراق حمله وکړه او د صدام حکومت یې نسکور کړ، نو پر عراق باندې د سني وګړو کنټرول هم پای ته ورسېد او تردې وروسته د عامو انتخاباتو په پایله کې د شیعه ګانو حکومت چې د هیواد اکثریت نفوس یې جوړاوه حکومت ټینګ شو. په منځني ختیځ کې اوس دا ذهنیت عام دی چې د عراق د حکومت کړندود به پر مذهبي اختلافاتو ولاړ وي (هغه څوک به په کې نازول کېږي چې مشران یې په قدرت کې دي) ډېر سنیان داسې انګېري چې د شیعه ګانو د اکثریتي حکومت له ټینګار نه وروسته عراق د ایران مستعمره ګرځېدلې ده.

حقیقت دا دې چې د صدام حسین د مرګ په فیصله کې چې نوري المالکي په کې بالکل شریک و د هیواد حاکم سیاست په کې ډېر ککړ ښکاري. د نوري المالکي په باب عام ذهنیت دا و چې هغه د کمزوری شخصیت خاوند دی؛ مګر د صدام د بخښنې د غوښتنلیک له مسترد کېدو نه وروسته، د صدام د پانسي کولو فیصله دا ذهنیت غلط ثابتوي.

د لوی اختر په ورځو کې صدام حسین ته د مرګ سزا د خلکو

د غم او غصې سبب شو، د مصر د جمهور رییس حسني مبارک له قوله ویل شوي دي چې هغه د امریکا جمهور رئیس (بش) ته په دې اړه خبرداري ورکړی و مګر جمهور رییس بش په ظاهره کې هېڅ ونکړ. اوس حسني مبارک اند پښمن دی، هغه وایي چې بش په څه خبرې باندې دومره په عجله کې وه، کله چې دا خلک د اختر د ورځو تیاري کاوه په هغه وخت کې صدام ته د پانسي ورکولو څه اړتیا وه؟

د مصر جمهور رییس د پانسي عمل په بربریت باندې تعبیر کړ؛ ځکه چې د هغه په عقیده امنیتي ګارډ پر صدام طنز ډوله ملنډې ووهلې او پرې یې نښوده چې د شهادت کلمه بشپړ کړي.د اردن په عمان کې یوه سرې وویل: ما د عراق پر حالت افسوس کاوه چې امریکایانو او انګریزانو تباه او برباد کړ مګر اوس خوښ یم چې هغه ددې تباهي مستحق و؛ ما ویلي دي چې صدام حسین په خپل قبر کې هم لکه د پخوا په شان خپلو مخالفینو ته خطرناک کېږي.

## دصدام حسین پانسي انتقامي عمل نه و

د عراق چارواکي وایي چې د صدام حسین اعدامول انتقامي عمل نه و. د عراق د جمهور رئیس مشاور دا څرګندونې هغه وخت خلکو ته وشوې چې د صدام حسین د پانسي کولو هغه صحنې چې د موبایل ټیلیفون د کامرې په وسیله اخیستل شوې وې، خلکو په خپلو سترګو ولیدې او دا یې هم په کې ولیدل چې په هماغو بوږنوونکو شېبو کې چا صدام حسین ته د هغه کړو وړو طعنې ورکولې.

خبريالان وايي چې د پانسي پرمهال دا منظرې په عراق کې د صدام د پلويانو او مخالفينو ترمنځ د موجوده واټن د زياتوالي سبب ګرځېدلې شي. د يادولو وړ دې چې کومې صحنې د رسمي تلويزيون له لارې هغه وخت خلکو ته وښودل شوې چې لاصدام يې پر دار نه و ځړولې. د صدام او هغو کسانو ترمنځ چې ده ته يې پانسي ورکاوه ترخې خبرې او سپکې سپورې ونه ويل شوې، او په بهرني تلويزيوني چينلونو کې غير رسمي ويډيو فلم بالکل ددې پرعکس دی

منير واحد چې د محکمې له خوا د صدام حسين د پانسي کولو څارنه ورسپارل شوې وه بي بي سي ته په خپلو څرګندونو کې وويل کله چې د صدام حسين له اعداملو نه څو منټه مخکې يو تن ګارډ صدام حسين ته وويل چې آيا هغه له مرګه وېرېږي؟ نو صدام حسين ځواب ورکړ چې هغه ټول عمر په جنګونو کې تېر کړی او هغه له مرګه نه وېرېږي. په بغداد کې د بي بي سي خبريال پيټر بايلز وايي چې د مقتدی الصدر د پلويانو له شعارونو دا معلومېږي او خلک ترې دا تأثر اخلي چې د صدام حسين اعدام يو انتقامي عمل و؛ مګر د عراق د جمهور رييس وياند ((حيوا عثمان)) د بي بي سي په ((نيوز اور)) پروګرام کې وويل چې صدام ته يوه عام سړي طعنې ورکړې وې؛ هغه وويل چې موږ ته بالکل معلومات نشته چې پر صدام چا چيغې وهلې او يا په خپله هغه چاته بدرد ويل؛ مګر زما په عقيده هغه رسمي شخص نه و، کېدای شي دا غږ پس ته امريکايانو په ويډيو کې ځای کړی وي

«او دا کار یې د دې لپاره کړی وي چې د عراق د خلکو ترمنځ تاو تریخوالی زیات شي.»

د عراق ګوښه کړی شوی جمهور رئیس ۶۹ کلن صدام د خپلو جنایاتو په بدله کې له اعدامېدو نه ۲۲ ساعته وروسته د شپې په تورږمې په خپل پلارنی هدیره کې چې په عوجه نومې قصبه کې موقعیت لري خښ کړای شو. د هغه د تدفین په مراسمو کې د هغه د قبیلې څو تنه موجود وو.

د بي بي سي خبریال «جان سپمن» وایي چې د عراق حکومت له دې لامله خواشیني نه دی چې د صدام حسین قبر د هغه د پلویانو د تجمع مرکز جوړېدای شي: بلکې د عراق وزیران داسې انګېري چې د هغه په پای ته رسېدو سره د هغه اغېزه هم بالکل ختم شوی دی؛ مګر د صدام حسین له ښخېدو نه وروسته د هغه پلویان د هغه د آبایي قصبې دوره وکړه او د هغه د مرګ د انتقام هوډ یې وکړ. ۲۴ کلن محمد عتیق ویل چې د صدام دغسې انجام خدای جل جلاله ته منظور و؛ مګر د هغه هدف او هغه لاره چې غوره کړې یې وه د تل لپاره باقي ده.

## د صدام پر خلاف تور ساقط شو

په عراق کې د کردانو د عامې وژنې دوسیه بیا پرانیستل شوه او د مقدمې اورېدل پیل شو، نو د مقدمې یو تورن او د عراق د پخواني جمهور رئیس صدام حسین له اعدام نه وروسته د عراق محکمې پر هغه باندې لګېدلي ټول تورونه ساقط کړل،

اوس د هغې عامې وژنې په ارتباط پر شپږو نورو تورنو باندې محاکمه دایره ېږي.

په لومړي مرحله کې پر صدام حسین باندې د څلورو زرو کردانو د عامې وژنې تور و چې په ۱۹۸۰ میلادي کال کې یې وژلي وو؛ مګر اوس په دجیل کې د ۱۴۸ تنو شیعه ګانو د عامې وژنې په تور کې اعدام کړی شو. او د هغه له اعدام نه وروسته د هغه نوم له دوسیې نه ایستل شوی دی.

د مقدمې په بهیر کې د صدام حسین یو تن خپلوان علي حسن الماجد له شپږو تنو تورنو سره د جنګي جرایمو، نورو انساني ضد مظالمو، او عامو وژنو له الزاماتو نه انکار وکړ او ویې ویل چې د کردانو په سیمه کې شوي عملیات د بغاوت د ټکولو لپاره یوه قانوني هڅه وه؛ ځکه چې د ایران او عراق د جنګ په دوران کې کردانو له ایران سره د عراق پرضد توطیې جوړولې او هغوی د ایران په ګټه کار کاوه.

ددې مقدمې استماع د لومړي ځل لپاره له دسامبر نه وروسته د جنوري په ۹ مه نېټه پیل شو. ددې مقدمې د بیا پیل کېدو له امله یوځل بیا نړیواله توجه د عراق پر عدلي نظام مرکوز شوه چې لامخکې د صدام حسین د اعدام په نتیجه کې د نړیوالو تر انتقاد لاندې راغلې و.

## پنځلسم باب

# د صدام حسین وروستی لیک

دلوی اختر پر سباوون، پر خپل وطن د امریکایي ښکېلاک په دوران کې د بغداد په زندان کې پر دار ځړول شوی صدام، مخکې له دې چې د تریبون له شانه د مرګ سزا وروا ورول شي، د نومبر د میاشتې په پنځمه نېټه یې خپلو وطنوالو ته یو خط لیکلی و. ده لیکلي و چې د عراق اوسني ترینګلی حالت د عراق د اولس لپاره یو نوی ازمېښت دی او دوی ته نوی درس هم ورکوي. دهمدغه ازمېښت په دور کې د تاریخي بري تادا او هم اېښودله کېږي. د هغه زړه د خپل هیواد او اولس په زړه معموره ده. هغه هېڅکله له ستونځو او ازمېښتونو ونه ډار شو، او که خدای غوښتي وي په دې لاره کې به د ځان قرباني هم ورکړي او د هغه روح به په جنت کې له شهیدانو سره وي. عراقي اولس ته ښایي چې له صبر او زغم نه کار واخلي. موږ به د جابرو هیوادونو په مقابله کې پر الله توکل کوو. موږ ته چې د عراق له انقلاب نه مخکې او وروسته کوم توفانونه او مشکلات مخې ته راغلي دي، ددغو ستونځو په



د صدام حسین هغه تصویر چې له نیول کېدو وروسته یې برزر اخیستل شوی دی

دوران کې الله تعالی موږ ته حوصله راکړی او ژوند بخښلی دی او تراوسه پورې د هماغه جل جلاله رضا ته مو د تسلیم سر ښکته کړی هماغه زموږ خالق دی او هماغه تراوسه پورې په خپل حفاظت کې ساتلي یو. د شهادت د مرتبې په حاصلولو سره به د الله تعالی په فرمان منونکو بنده ګانو کې وشمېرل شو. یوازې دی د شهادت د لارې لاروی نه دی؛ بلکې له ده نه مخکې هم په زرګونو نوي ځوانان پردې لارې تللي دي، هغه د شهادت د رتبې په حاصلولو سره د الله تعالی د لویو احساناتو ممنون دی. د تیري کوونکي دښمن په وړاندې د عراق د اولس یووالی له هرڅه نه زیات لوی خنډ دی: له همدې لامله دا دښمن اوس هڅه کوي چې د عراق د اولس ترمنځ د نفرت نوی تخم وشیندي. ما دالیک ددې لپاره ولیکل چې د هغه مدافع وکیلان ورته ویلي وو چې د اشغالګرو محکمه به هغه ته د وروستي خبرو اجازه ورکړي؛ مګر محکمه او د هغې قاضی القضات ماته د یو لفظ د ویلو اجازه هم رانکړه او له کوم وضاحت نه پرته یې خپله فیصله واوروله او پرته له دې چې د کوم شهادت شاهدي مخې ته کېږدي د اشغالګرو په لاس لیکل شوی سزا یې ولوسته.

**شپاړسم باب**

# د صدام حسین د ژوند داستان

په ۱۹۷۳ میلادي کال کې د دجلې د سیند پر غاړه یو وړوکی کلی «تکریت» آباد و چې اوس لوی ښار ترې جوړ شوی. ددې ځای ډېر اوسېدونکي بزګران وو، کرکیله د هغوی د روزګار وسیله وه، د کلي ټول کورونه له خټو جوړ شوي وو. د ۱۹۳۷ میلادي کال یوه شپه چې نوې سپېدې چاودلې وې او د کلي بزګران کروندو ته د تګ لپاره تیاري کاوه د خیرالله طلفاح په کور کې د هغه خور سیده حجه یو زوی وزېږاوه. د ماشوم ماما خیرالله طلفاح او تره حسن مجید ډېر خوشاله شول؛ مګر د ماشوم مور ډېره خفه او اندېښمنه وه؛ ځکه چې د هلک پلار په دې دنیا کې نه و. د یتیم هلک پیدایښت او د هغه پالنه سیده حجه په پریشانۍ کې اخته کړې وه. پر مفلس ورور باندې هغې په خپله هم یو بار و. ددې هلک ولادت د بار دپاسه سرباري شو. په هغه خټین کور کې ټول اوسېدونکي خوشاله وو. د ماشوم کاکا حسن مجید د ماشوم په غوږ کې آذان ووایه او د کور ټول اوسېدونکي یې مخاطب کړل،

ویې ویل ددې هلک نوم صدام (د زوال لرې کوونکی) ((صدام حسین)) دی. ماشوم صدام حسین علوي و او د نسب شجره یې حضرت علی کرم الله وجهه ته رسېده.

د ۱۹۳۷ میلادي کال هغه ورک نومی کلی چې د ختو پر کورونو مشتمله وه او ډېر نشتمن کروندګر په کې اوسېدل ((تکریت)) نومېږي تکریت یو ایتالوي لغت دی چې معنی یې ((د دجلې قلعه)) ده، نن یې بین المللي شهرت موندلی. په دې کلي کې پیدا شوی ماشوم یوازې دا کلي نه؛ بلکې ټول عراق یې د دجلې کلی، د دجلې حصار یا د دجلې جنګي قلعه جوړه کړه او په هغه وخت صهیونیستان ددې کلي دنامه په اورېده له ډېرې وېرې رېږدېدل. ډېر عجیب تصادف دی چې د بیت المقدس فاتح سلطان صلاح الدین ایوبی هم په همدغه کلي ((تکریت)) کې دغې نړۍ ته سترګې غړولې وې. په یوه کلي کې د دوه وختونو دوه لپاره فکرمند کورنۍ کې دیو ماشوم، ماشومتوب همدغسې وي لکه چې د صدام حسین و. د صدام حسین ژوند، له ستونځو، افلاس، لوږې او نورو سختو کړاوونو سره ملګری و او په ژوند کې یې د خوشالۍ ورځې نه وې لیدلې. ده چې ورو ورو د شعور سن ته ورسېده او خپل بنې او چپ لاس یې وپېژانده، د یتیمۍ احساس سخت ځوراوه. د صدام حسین مور د هغه له تره سره واده کړی وه او د هغه د مور له بطنه زېږېدلی ناسکه ورور؛ نه یوازې دا چې د هغه محبوب ورور، بلکې صمیمي دوست او په راز کې شریک ملګری هم و. د صدام په وړاندې دوې لارې وې یا دا چې ځان موجوده حالاتو ته

وسپاري او ژوند پرخپل روان بهیر همدغسې پرېږدي. لکه چې د کلي نور خلک همدغسې ژوند کوي او یادا چې پرېښږدي چې د حقارت احساس یې احساسات ورژوبل کړي. د هغه دماغ په ورکتوب کې د مشرانو په شان کار پیل کړی و او فیصله یې کړې وه چې زحمت به وګالي، له همت نه به کار اخلي او خپل شخصیت به جوړ کړي. په کوچنیوالي کې زړور او تورزن وګڼي یې خوښول، هغه پخه اراده کړې وه چې د خپلې یتیمي د لاسه دړې پرڅای، د یو حوصله مند او زړور میړه په شان به ژوند کوي او دغسې هغه په کوچنیوالي کې ځان ته په خپله د ژوند چاپېریال جوړ کړ. د هغه ناسکه ورور او صمیمي دوست ادهام وایي چې صدام په ورکتوب کې هم کوتلی او زړور هلک و. هغه ډېر د وقار خاوند او هوښیار ښکارېده. ټول هلکان ترې وېرېدل او هر وخت به د هغه په شاوخوا ورټولېدل. هغه په ورکتوب کې هم د ماشومانو لیډر جوړېده، هغه هېڅکله د چا تر اغېزې لاندې نه ورته. تاسې به داسې فکر وکړئ چې هغه په ورکتوب کې بداخلاقه یا د تونډ مزاج خاوند و، نه، داسې نه و، هغه له دې سره سره چې زړور وو او له چا یې وېره نه کېده، ډېر مهذب او د عالي اخلاقو خاوند و. ترټولو ماشومانو زیرک او ذهین و. صدام حسین د ډېر نرم زړه خاوند و. هغه په ماشومتوب کې هم د غریبو او بېچاره خلکو له حالاتو نه متاثر کېده. ډېر ځلې داسې شوي دي چې کله یې کوم نشتمن ماشوم لیدلی چې جامې یې شلېدلې دي، خپلې جامې یې له تنه ویستلي او هغه ته یې ورکړې دي. کله به چې کور ته راته نو د کورنۍ د غړو

قهر او غصې او همدارنګه د پلندر په لاس ډېلو ته بـه يې ځـان تيـار کړی و، تردې چې د کورنۍ غړو دا پوښتنه هم تر ښه کاوه چې د تـن کالي يې څه کړل؟ ځکه چې هغوی په دې باندې پوهېدل چې بيـا يې خپـل کـالي کـوم بېچـاره او غريـب ماشـوم تـه ورکـړي دي هغـه مورزادی زېږور و، ډېول او وهل د هغه فطرت نشو بدلولای.

په ماشومتوب کې د صدام حسين په زړه پورې لوبـه د آس سوارلي وه. هغه په خپله کرونده کې په ساعتونو آس ځغلاوه. هغـه لـه خپلو آسانو سره ډېره مينه لرله. په خپلو آسانو کې هغه يو عربي آس ډېر خوښاوه. وړوکی صدام په هغه وخت کې د پنځم ټولګي زده کوونکي و، يوه ورځ هغه په ښوونځي کې درس ويـل چې چـا ورتـه د هغـه د آس د مرګ خبر راوړ، هغه يوه شېبه غلی و بيـا پاڅېد او د کـور پـه لور په منډو شو. کله چې هغه په خپلو سترګو وليده چې واقعاً آس يې مړ شوی دی، نو ذهني پريشانيو غلبه پرې وکړه او په کوکو يې وژړل. هغه د آس د مړينې له امله دومره سخت روحي ټکان وخوړ چې يو لاس يې شل شو. هغه يې د معالجې لپاره ډاکټر ته يوړ، خو بيا هم تر لسو ورځو پورې په همدې درد کې مبتلا و. تر يوې مودې پورې يې لاس تر معالجې لاندې و، او په ډېر مشکل سره د هغـه پـه لاس کې د وينو دوران له سره پيل شو.

د تکريت غريب او بېچاره کروندګر په ډېر مشـکل کې ژونـد تېراوه، هغوی ددې پرځای چې خپلو ماشومانو تـه ښوونه او رزونـه ډالۍ کړي، له ځان سره به يې د بزګري په چارو کې مشـغولاوه او پـه دې توګـه ماشـومان د هلکتـوب لـه دوران نـه پـه کرکيلـه کـې

مشغولېدل او د مرګ تروخته پورې به يې په ستونځو او مشکلاتو کې ژوند کاوه. ددې کار يو علت فقر او لوږه وه او بل علت يې د ښوونځيو او تعليمي ادارو نشتوالی. کله چې صدام د ماشومتوب له مرحلې نه د هلکتوب پړاو ته ورسېد، نو د هغه تره وغوښته چې په کرکيله کې يې مشغول کاندي. د هغه د کورنۍ غړو د هغه د زده کړې تصور قدرې هم نشو کولای؛ هغوی غوښته چې صدام هم د هغوی په شان ژوند وکړي، او بيا هغه يتيم هم و. نږدې وچې صدام هم پر هماغه لار لاړ شي چې د هغه کورنۍ غوښته. د هغه د پلندر کره يو مېلمه راغی، چې له هغه سره يو هلک هم و. کله چې مشران په خبرو اترو کې مصروف شول، نو د هغوی د خبرو اترو نه بې پروا صدام له مېلمه هلک سره بهر ووت او ورسره په خبرو مشغول شو. د خبرو په دوران کې مېلمه هلک صدام ته وويل چې هغه زده کوونکی دی او هره ورځ ښوونځي ته ځي، بيا هغه د مخکې پرمخ په ګوته باندې خپل نوم وليکه او بيا يې د هيجا توري وليکلې او صدام ته يې وښودلې. کله چې لس کلن صدام دا جريان وکوت بې حده متأثر شو، هغه تر ډېره پاس آسمان ته کتل او بيا يې يوه فيصله وکړه او ودرېده، ويې ويل چې هغه هم غواړي چې ښوونځي ته لاړ شي. کله چې کور ته راغی مور ته يې خپله غوښتنه ښکاره کړه. د هغې مور د زړه له کومې دا غوښته چې زوی يې علم حاصل کړي؛ مګر هغې پوهېده چې د کور اقتصادي حالت ددې کار اجازه نه ورکوي. له همدې لامله هغه صدام ته د ډاډ ورکولو پرځای داسې خبرې وکړې چې د هغه د نهيلی سبب شو. بيا صدام خپل



صدام حسین له خپلې کورنۍ سره

پلندر ته همدغه خبره وکړه، هغه هم انکار وکړ او ورته یې په کروندو کې د کار کولو خبره وکړه. که چېرې صدام مورزاده ذهین او زړور نه وای، نو یقیناً د یو زحمتکښ بزگر په شان به یې ژوند کاوه؛ مگر د خدای کړه نور څه و، صدام حسین پر خپل عزم ټینګ ولاړ و، کله چې هغه له خپل کور والانه بالکل نهیلی شو، نو هغوی ته یې وویل چې هغه خپل ماما خیرالله کره ولیږي. هغه هیله من و چې ماما به یې حتماً خبره ومني، مگر د هغه مالي حالت هم ښه نه و، هغه په ډېر مشکل سره کولای شوای چې خپلو ماشومانو ته نفقه برابره کړي، له همدې لامله هغه هم ورته ځواب ورکړ. په هغو ورځو کې د صدام فقط همدا هیله وه چې په هر قیمت کېږي ښوونځي ته لاړ شي او د علم په زیور ښایسته شي. بالاخره له ډېر سوچ او غور نه وروسته یې یوه فیصله وکړه.

صدام یوه شپه د خوب له بستره پاڅېده، د ضرورت وړ شیان یې له ځان سره واخیستل او په چوپه خوله له کوره ووت. د هغه مخه د خپل ماما خیرالله کور خواته وه. هغه په تیزۍ سره پرمخ روان و، ځکه چې د هغه د ماما تر کوره پورې دوه ساعته پلی مزل و. سبایي مهال ماما کور ته ورسېده، دروازه یې وټکوله. ماما یې دروازه خلاصه کړه، خپل خوریه یې ولیده، هک پک شو. د صدام حسین پښې په دوړو او خاورو کې پټې او له څېرې نه یې د ستړیا آثار د هغه د ماما پر زړه سخته اغیزه وکړه. اوس نو خیرالله ته د انکار لاره پاتې نشوه او صدام په ښوونځي کې شامل شو.

صدام حسین چې په ماشومتوب او هلکتوب کې له کوم

چاپېريال سره آشنا شو؛ هلته د انګرېزي استعمار پرضد خبرې کېدې او هرچاته به دا سوال پيدا کېده چې دا سپين پوستي وګړي څنګه د سوداګر او تجار په حليه کې راغلل او د غلو په څېر دلته پر خليجي هېوادونو مسلط شول؟ هغه د خپلې کورنۍ له غړو نه د ترکانو په باب ډېر څه اورېدلي وو چې څنګه ترکان دلته راغلل او د هغوی د کورنۍ ځينې مشران يې ووژل؛ دا ددې لپاره چې هغوی د ترکانو پر خلاف وو، د هغه کورنۍ د ترکانو پر خلاف مقاومت کړی و او څوځو ځلي د ترکانو په مقابله کې جنګ ته هم اړ شوي وو. ددغو خبرو په اورېدو د صدام په زړه کې د انګرېزانو او ترکانو پرضد نفرت پيدا شو، د دواړو په خلاف دهغه وينه څوټن کاوه او د غچ او انتقام فکر همېشه ځوراوه. په وړوکتوب کې يې د ظلم پر خلاف زړه له نفرت او حسد نه ډک شو، د هغه مشرانو به ورته ويل چې ترکانو د هغوی ډېر مشران وژلي دي، د هغوی کورونه يې سيځلي دي او د هغوی د ظلم نه په تنګ شول او غرونو ته يې پناه يوړه.

صدام حسين د بغداد په يوه ښوونځي کې ثانوي تعليمات ترسره کړې، په همغو ورځو کې په بين المللي کچ حالات د بدلون په لور روان و. د برتانوي او فرانسوي استعمار ژنځيرونه يو په بل پسې ماتېدل، نه يوازې په هندوستان کې د برتانويانو ښکېلاکګرو شامت راغلی و او ورځې يې پوره شوې وې؛ بلکې په ټوله عربي نړۍ کې د آزادي غورځنګونه پارېدلي وو. د آزادي غورځنګونه په ډېر قوت سره پرمخ روان وو او د ښکېلاک د زنځيرونو کړۍ يو په

بل پسې ماتېدې. په عربو کې د آزاد ژوند جذبه د غیرت له څپو سره له ښکېلاک سره ډېرې وهلې، د جذباتو او احساساتو د غه چاپېریال پر هرڅا اغېزه ښندلې وه. د تکریت په مقابل کې بغداد خورا لوی ښار و. له همدې لامله صدام حسین دغو حالاتو ته ډېر ژر متوجه شو او هغه له تحصیل سره سره د حالاتو مطالعه هم پیل کړه. د هغه په زړه کې د څه کولو جذبه لوړو پوړو ته ورسېده. په هغو ورځو کې چې دی په بغداد کې زده کړه کاوه په ټول عراق کې دوه مهم سیاسي ګوندونو کارکاوه او په خلکو کې یې خاص مقبولیت درلود. دا ګوندونه «سوسیالست او بعث ګوندونه وو». صدام حسین د زده کړې په دوران کې په بعث ګوند کې شامل شو چې په هیواد کې یې له دیکتاتورۍ سره په زړورتیا مقابله کاوه. په هغو ورځو کې د سوسیالست ګوند حکومت و، د دیکتاتورۍ دور و، د خلکو اساسي حقوق سلب شوي وو او عراقیان مجبور و چې د غلامانو نه هم بد ژوند ولري. د ډیموکراسۍ نوم او نښان هم چا نه پېژانده او عوام د اف قدرې ویلو اجازه هم نه درلوده. ددې حالاتو په مقابله کې بعث ګوند د دیموکراسي او خلکو ته د هغوی د حقوقو د اعاده کولو خبرې کولې ... بعث ګوند په هغه وخت کې تر ېو توغ لاندې د ټولې عربي نړۍ د متحد کېدو او راټولېدو شعار ورکاوه، د سوسیالست ګوند له خوا نه عبدالکریم قاسم د عراق واکمن و.

د واکمن سوسیالست ګوند په مقابل کې بعث ګوند د خلکو په منځ کې ډېر مقبولیت درلود؛ ځکه چې خلکو د بعث ګوند د



صدام حسین له خپل ماشوم لور سره د لوبې په حال کې

خان ژغورنده ګوند تصور کاوه. په هغو ورځو کې د حاکم ګوند په کرکوک کې پر خلکو ډېر سخت ظلمونه کول، چې د عراق خلکو ته د هلاکوخان یادونه تازه شول. د بغداد خلکو د کرکوک فاجعه نشو هېرولای، لکه چې د هندوستان په امرتسر کې د «جلیانواله باغ» ظالمانه پېښه د امرتسر خلک نشي هېرولای.

حقیقت دا دی چې د کرکوک له ظالمانه پېښې سره سم د عراق د دیکتاتور عبدالکریم قاسم زوال هم پیل شو. په دې وخت کې د عبدالکریم قاسم نږدې دوست سعدون ناصري په «تکریت» کې ووژل شو. د عراق حاکم ګوند د سعدون ناصري د قتل تور پر صدام ولګاوه؛ وجه یې دا وه چې صدام حسین د خپلې زده کړې په دوران کې د بعث ګوند مشهور لاربنود و او په ټول تکریت کې د هغه د شهرت آوازې وې، له همدې لامله حکومت د سعدون ناصري د قتل په تور ونیوه او زنداني یې کړ.

د صدام له بندي کېدو نه وروسته د بعث ګوند شامت راغی او د هغه پر غړو باندې د ظلمونو سلسله پیل شوه، تردې چې د بعثیانو لپاره یوازې زندانونه د امن ځایونه پاتې شول. صدام حسین ته په جیل کې دا خبر راغی چې حکومت غواړي هغه په هرحال له منځه یوسي، له همدې لامله د هغه دوسیه یې تش په نامه ځانګړي محکمې ته راجع کړه، چې حکومت د همدغې محکمې له لارې صدام ته د پانسي کولو سزا ورکړي. ددې خبر په اورېدو سره صدام پریشان شو او له خپلو نږدې ملګرو سره له صلاح مشورې نه وروسته په دې تکل کې شو چې له زندان نه د

تېښتې لاره ولټوي. په بنديانو کې د صدام حسين ماما او تره هم شامل وو. ځوان بعثيان د صدام د فرار له پلان سره موافقه وښوده؛ مګر نورو مشرانو د صدام دا پلان د هغه پر جذباتو مبني وباله او له منلو نه يې انکار وکړ. د صدام حسين ټول خپلوان په زندان کې وو او هغوی نه غوښتل چې صدام هغوی همالته پرېږدي او په خپله له زندان څخه وتښتي او دا اندېښنه هم وه چې که چېرې صدام له زندان څخه وتښتي د هغه تره او ماما به له سختو شکنجو سره مخ شي. صدام حسين تر شپږو مياشتو پورې په زندان کې پاتې شو، حکومت ونشو کړای چې په صدام باندې په محکمه کې جرم ثابت کړي، نو خوشې يې کړ. صدام له زندان نه تر خلاصېدو وروسته بېرته خپل کلي تکريت ته لاړ او د راتلونکو پلانونو په باب يې په کار پيل وکړ. هغه د شپې له مخې په يوازې ځان له کوره ووت او پر ديوالونو به يې د بعث ګوند له خوا د حکومت پرضد شعارونه ليکل. کله چې د ورځې رڼا خپره شوه او خلکو پر ديوالونو شعارونه ليدل نو هک پک به شول چې دا څوک دی چې هره ورځ پر ديوالونو شعارونه ليکي. دا صدام حسين و چې تر ډېرو لرو سيمو پورې به پر ديوالونو شعارونه ليکل او درسته شپه به په همدغه کار کې مشغول و.

صدام حسين له زندان نه تر خلاصېدو وروسته چې لا په خپل کلي تکريت کې و چې يو ورځ د بعث د ګوند يو غړی راغی او هغه ته يې د ګوند يو مهم پيغام ورساوه. په پيغام کې د بعث ګوند مرکزي قيادت هدايت ورکړی و چې ژر تر ژره دې بغداد ته ځان ورسوي.

صدام حسین لا له پخوا نه تیار ناست و او د بعث گوند د مرکزي قیادت د هدایت انتظار یې کاوه او دا لومړی څل و چې د مرکزي قیادت له خوا ته بلنه ورکول کېده، له همدې لامله هغه خوشاله هم و. هغه له هدایت سره سم بغداد ته ورسېد او له هدایت سره سم د بعث گوند د یو مهم غړي عبدالخالق سامرایي دروازه یې وټکوله. شېبه وروسته د گوند یو بل غړي طاها احمد راغی او هغه یې له ځان سره مرکزي دفتر ته یوړ. په مرکزي دفتر کې هغه ته یو پټ ماموریت وسپارل شو. دا ماموریت د عراق د چارواکي عبدالکریم قاسم وژل و. صدام حسین بې له خنډه دا ماموریت ومانه. صدام حسین په دې وخت کې له نظامي ټریننګ نه فارغ شوی و، سره له دې هم د هغه ماموریت د هیواد د جمهور رئیس وژل و. نو ددې کار لپاره یې نور ټریننګ هم ورته ورکړ شو او هغه یې ددې مهم عملیات له وخت او تاریخ نه خبر کړ او په دې ویوهاوه چې عبدالکریم قاسم په کوم مهال او له کومې لارې نه دفتر او له دفتر نه کور ته ځي. صدام او ملگرو ته یې د عبدالکریم قاسم د تګ راتګ په لاره کې یو کور هم په کرایه واخیسته.

د ۱۹۵۹ میلادي کال د اکتوبر په میاشت کې صدام حسین له خپلو ملگرو سره د بغداد د مشهورې جادې په بس تم ځای کې مسلح ولاړ و؛ ځکه چې دا هغه لاره وه چې د عراق چارواکي هره ورځ پر هسدغې لارې باندې تګ راتګ کاوه. په دې وخت کې ټول عراق د عبدالکریم قاسم او سوسیالست گوند د ظلمونو له لاسه پوزې ته راغلي وو. د بغداد ټرافیک له معمول سره سم روان و،

خلک په خپلو چارو کې مشغول وو، د هرې ورځې په شان د «هوټر» آواز پورته شو، د عبدالکریم قاسم موټر د ګارډ د نورو موټرونو نه مخ کې روان و، کله چې د بس تم ځای ته نږدې ورسېد صدام حسین او د هغه ملګرو پرې ډزې پیل کړې، تر یوې شېبې پورې یوطرفه ډزې کېدې، صدام حسین او ملګرو یې داډه شول چې عبدالکریم قاسم او ګارډ یې وژل شوي دي، نو له همدې لامله د پېښې له ځای نه یې پښې سپکې کړې «وتښتېدل» کله چې هغوی د تېښتې په حالت کې و، د عبدالکریم قاسم ګارډ ډزې پیل کړې، یوه ګولۍ د صدام حسین په پونډۍ کې ولګېده، یو بل ملګری یې هم ولګېده چې له ډېر درده یې چیغې وهلې. صدام حسین د ګډوډۍ نه استفاده وکړه او له حملې نه وروسته ټاکلي ځای ته یې ځان ورساوه. هلته یو ګاډی ولاړ و او ده ته یې انتظار کاوه، کله چې هغه په موټر کې کېناست، موټر د هغه د خفیه ځای په لور په منډو شو او د پولیسو موټر یې دوړو ته هم ونه رسېد، په بغداد کې پر ګرځېدو راګرځېدو بندیز ولګېد «کرفیو نافذ شو»، او د صدام حسین لټون پیل شو. پر هوټلونو، دوکانونو او کورونو باندې عملیات وشول؛ مګر حکومت د صدام د خفیه ځای په پیدا کولو کې ناکام شو.

د صدام په پونډۍ کې لګېدلې ګولۍ شېبه په شېبه د صدام په درد کې زیاتوالی راوستله، د هغې ډېر ژر ویستل ضروري وه، که نه هغه ته د مرګ خطر و، دا وېره وه چې د ګولۍ زهر به یې په ټول بدن کې خپور شي؛ مګر په ښار کې پر ګرځېدو بندیز لګېدلی و،

د حکومت وګړو د هغه په لټه کې وو، د ډاکټر راتګ ناممکن و او نه هغه په خپله ډاکټر ته ورتلای شو. له همدې لامله د خواکمن اعصابو خاوند صدام حسین پرېکړه وکړه چې هغه په خپله د خپل ورون عملیات کوي. د هغه ملګري هک پک شول چې دا څه وایي؛ هغوی تېنګار کاوه چې دا کار مه کوه؛ مګر صدام بیاتي واخیست او د خپل ورانه د غوښې په پرېکولو یې لاس پورې کړ، هغه په سخت تکلیف کې و، د درد آثار د هغه له څېرې نه څرګندېدل. هغه له عالي همت نه کار واخیست او په بیاتي باندې یې غوښه پرې کړه او ګولۍ یې وښکله. د هغه له ورانه نه د وینې دارې روانې وې؛ خو هغه د هېڅ پروا ونکړه او د ګولۍ له ویستلو نه وروسته یې ټوټه وسیځله او زخم یې پرې ډک کړ. تردې دمه هغه نه پوهېده چې عبدالکریم قاسم ژندی پاتې شوی دی، کله چې پر ښاریانو باندې لګېدلي بندیز لږ نرم شو، دی له خپل پټ ځای نه ووت او خپل ماما خیرالله کره تکریت ته لاړ، هلته دی خبر شو چې ماموریت یې ناکام شوی دی، کله چې هغه د خپل ماما کور ته ننوت نو ماما ته یې وویل چې د درد ضد امپول ورترزیق کړي.

صدام حسین په دې وخت کې د لیسې د دورې د وروستي کال زده کوونکي و، اوس نو هغه ته دا مسأله په مخ کې وه چې سبا ته به ښوونځي کې حاضر وي، د هغه ورون ډېر زخمي و، هغه اړین و چې د هغه په تېپتوب څوک خبرنشي، په سبا باندې صدام حسین خپل کتابونه واخیستل او په نرږدې نارمل ټګ باندې ښوونځي ته ورسېده.

له ښوونځي نه د وتلو پرمهال صدام ته خبر ورسېد چې حکومت د هغه ملګري نيولي دي او اوس دده په لټه کې دي. هغه ډېر ژر خپل ماما ته دا خبره وکړه او په خپله د خپل يو دوست کره پټ شو. پوليس د هغه دماما پر کور حمله وکړه، مګر صدام هلته نه و، حالات ډېر خراب و، صدام حسين له هيواد نه د تېښتې پلان جوړ کړ، هغه ډېر ژر خپل ظاهري سر او صورت بدل کړ، د پتلون او يخن قاق پرځای يې د بزګرانو کالي واغوستل، شکېدلې زړه خوله يې پرسر کړه، هغه د يو مزدور دهقان په جامو کې له بغداده ووت او د خپل کلي تکريت لاره يې ونيوه. په بس کې سپور شو او له تکريت نه مخکې د يوې قصبې په تم ځای کې کوز شو. د زخم له لامله پلي نشوای تلای، ضروري وه چې ډېر ژر کور ته ورسېږي، کور لالري و، ورسره ښې پريمانې پيسې وې، هغه ډېر ژر يو آس وپېرل او يوه اندازه خورما (کجورې) يې له ځان سره واخيستل. له دوو شپو او يوې ورځې مزله نه وروسته کلي ته ورسېد، ډېره سخته يخني وه، په لاره کې له نورو ستونځو سره د نيول کېدو وېره هم ورسره وه. کله چې کلي ته نږدې شو نو هغه پرېکړه وکړه چې د کور له تګ نه مخکې له خپل ناسکه ورور او دوست (ادهام) سره وګوري، چې له کلي نه بهر په يو ابتدائيه ښوونځي کې چپړاسي و. نيمه شپه وه، صدام د ښوونځي دروازه وټکوله، ادهام دروازه پرانيسته، مخامخ يې خپل ورور صدام وليده، د جذباتو او احساساتو په بهير کې يې خپل ورور په غېږ کې ونيو او له مخ نه يې مچ کړ. صدام حسين خپل ورور ته ټول جريان په مخکې

واده کولو پرېکړه وکړه، هغه خپل تره ابراهیم ته لیک واستاوه او په لیک کې یې ورته ویلي و وچې غواړي د خپل ماما (خیرالله) له لور سره واده وکړي، له همدې لامله هغه دې د خپلوي خبره ورسره وکړي. د صدام تره د هغه لیک د هغه ماما الحاج خیرالله ته حواله کړه. الحاج خیرالله د خپلې لور (ساجده) نکاح له صدام سره په خوښۍ سره ومانه او د ېر ژر یې د کوژدې مراسم ترسره کړ، لاصدام حسین په کالج کې زده کړه کاوه، هغه یوه ورځ په خپله کوټه کې وه چې د ټیلفون زنګ راغی، د هغه ملګری کریم شیخلي غوږې پورته کړه، له بله پلوه ویونکي اطلاع ورکړه چې په عراق کې انقلاب رامنځ ته شوی دی او د عبدالکریم قاسم حکومت نسکور شوی دی. صدام حسین ددې خبر له اورېدو سره جوخت بغداد ته رهي شو، کله چې بغداد ته ورسېد؛ نو د ګوند د رهبري له پلوه، ګوند ته د هغه د خدماتو په بدله کې ډېر مهم ماموریت وسپارل شو په همدغه دوران کې د هغه واده هم وشوه، څو موده وروسته په بعث ګوند کې اختلافات رامنځ ته شول. صدام حسین په مخالف ګوند کې و، د هغه د بخت ستوری بیا په ګرځېدو شوه، لومړی هغه د سوسیالست ګوند تر عتاب لاندې و او اوس د خپلو ملګرو له لاسه څورول کېده. هغه دې ته اړ شو چې د خپل د ګوند غړي عبدالسلام عارف پرضد مورچل کې کېني. د ګوند وضع داسې وه چې یو پلو عبدالسلام عارف و او بل پلو صدام حسین. له همدې لامله صدام حسین اود هغه ملګري پلان جوړ کړ چې د عبدالسلام عارف پر کور باندې په لاسي بمونو حمله وکړي. د صدام ګروپ

ډېر منظم و؛ مګر د صدام له شامته ددې پلان له عملي کېدو نه یو ورځ مخکې، دا توطئه افشا شوه. صدام بیا مخفي شو. د ګوند مرکزي قیادت هغه ته دستور ورکړ چې بغداد پرېږدي او سوریې ته لاړ شي؛ مګر صدام انکار وکړ او ویې ویل چې په بغداد کې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي او نشي کولای چې خپل ملګري په زندان کې پرېږدي او دی په خپله سوریې ته لاړ شي. هغه وویل چې زه هغوی له زندان نه خوشې کوم او خپل ماموریت سرته رسوم. د صدام د نیولو لپاره د عراق ټولې سیمې د پولیسو تر پلټنې لاندې وې، ترهغې چې صدام ونیول شو. کله چې صدام حسین ونیول شو، امنیتي ځواکونو د امنیت مشر افسر رشید محسن ته وروست. کله چې هغه صدام ته وکتل نو په څېره کې یې فاتحانه موسکا خوره شوه:

رشید: واوروه څه حال دی (څنګه یې)؟

صدام: له نفرت نه په ډک نظر رشید ته وکتل او څه یې ونه ویل.

رشید: ووایه چې ته څه غواړې؟

صدام: خوله سمه خوځوه، که چېرې ما نسکور ځوړند هم کړې، نو زما له خولې نه به یوه خبره هم ونه ایستلای شې.

رشید: (صدام ته اخطار ورکړ او ویې ویل). له خپلو ملګرو نه پوښتنه وکړه چې د هغوی مو څه حشر کړی او هغوی هرڅه برسېره کړي دي.

صدام: مګر زما له خولې نه به یوه خبره هم وانه وري ان چې

که چېرې زما د نامه پوښتنه هم وکړې زه به هغه هم تاته ونه وایم
رشید: د هغه ملګري کریم شیخلي راولئ چې فکر یې سر ته راشي
(کریم شیخلي وړاندې شو، په مخ کې یې د تشدد نښې ځرګندې وې، صدام حسین له خپل ملګري سره تر یوې شېبې پورې خبرې اترې وکړې).
رشید: اوس ووایه څه کول غواړې؟
صدام: هماغه مې چې پخوا غوښته!
رشید: دا بوځئ لاسونه او پښې یې وتړئ او په تنګه او تروږمې کوټنۍ کې یې واچوئ!
صدام حسین یې په زنځیرونو وتړل، لاسونه یې شاته وتړل، په همدغه حالت کې تر اووه ورځو پورې تر شکنجې لاندې و، مګر هغه یوه خبره هم له خولې ونه ویسته. کله چې د زندان چارواکو ونشو کړای چې له صدام نه اعتراف واخلي، نو لوړ پوړو چارواکو ته یې د هغه ریوټ وړاندې کړ، هغوی د لوړ پوړو چارواکو یو ټیم تشکیل کړ او صدام یې هغوی ته د تحقیق لپاره وړاندې کړ. هغوی ترې وپوښتل: «آیا تا په عراق کې د انقلاب راوستو تیاری کاوه؟» صدام حسین ځواب ورکړ: «هو!» هغه یې بیا زندان ته ولېږل او له پخوا نه زیات یې تر شکنجو لاندې ونیول. د حبس په دوران کې له صدام سره پر ملاقات هم بندیز لګېدلی و (چا ورسره نشو کتلای). له بهر نه ورته چا څه نه پرېښوده، هرڅه پرې بند و. هغه په زندان کې هم د خپلو ملګرو قیادت کاوه. په همدغه دوران کې یې د لوړې په اعتصاب لاس پورې کړ، د همدغه اعتصاب په

نتیجه کې د زندان چارواکي دې ته اړ شول چې هغوی ته څه آسانتیاوې برابر کړي. هماغه و چې د هغوی پر ملاقات باندې بندیز لرې کړای شو. له دې فرصت نه په استفادې سره صدام له بهر نه داسې سامان وغوښته چې له زندان نه وتښتي، پر وخت مرسته ورسره وکړي؛ مګر په دغه بهیر کې داسې شرایط رامنځ ته شول چې هغه سامان ته اړتیا پاتې نشوه؛ ځکه چې په ټول هیواد کې د هغه د نیولو پرخلاف مظاهرې پیل شوې وې، او دا هیله پیدا شوې وه چې حکومت د هغه په خوشې کولو مجبور پرې. په دې وخت کې هغه له یوبل ازمېښت سره مخامخ شو. کیسه داسې وه چې کله د هغه ماندینه ساجده له خپل ماشوم زوی عدی سره زندان ته د صدام د پوښتنې لپاره راغله، ډېره پریشانه وه، صدام د پریشانی وجه ترې وپوښتله، هغې په ځواب کې ورته وویل چې زموږ د کور خاوند، زموږ د کور ټول سامان، له کوره بهر غورځولي دي او ویلي یې دي چې زه ستاسې په سر ځان باندې هېڅ ډول خطر نشم منلای؛ تاسې د حکومت په معتوبو خلکو کې شامل یاست او زه نه غواړم چې بې له کوم دلیله ستاسې په سر په کوم مصیبت کې ولوېږم؛ په دې توګه د صدام حسین کډه پلار کره لاړه.

په ټول عراق کې سختې مظاهرې روانې وې، له صدام او د هغه له دوو تنو ملګرو نه پرته نور ټول کسان یې له زندان نه خوشې کړي وو؛ صدام یوځل بیا له خپلو ملګرو سره له زندان نه د تېښتې پلان جوړ کړ، مګر هغوی ډېر سخت ځارل کېدل.

یوه ورځ داسې پېښه وشوه چې کله صدام او د هغه دوه تنه

ملګري يې د پلټنې او تفتيش لپاره محکمې ته بيول. هغه خپلو ملګرو سپاهيانو ته وويل چې هغه غواړي په هوټل کې ډوډۍ وخوري او هغوی ته هم ډوډۍ برابروي. له پخوا نه دا پلان جوړ شوی و چې د هوټل نه بهر به د هغوی ملګری سعدون شاکر موټر سره د هغوی انتظار کوي. د پلان له مخې دوی هوټل ته ننوتل او له بلې دروازې نه ووتل، تر هغه چې پوليس د هغوی د نيولو اقدام کاوه، هغوی تښتېدلي وو، دواړه پوليسان حيران دريان پاتې شول.

له فرار نه وروسته صدام يوځل بيا د ګوند د منظم کولو هڅې پيل کړې. د بعث ګوند اکثره غړي د هغه پلويان وو، د هغه ملګري ورځ په ورځ خواکمن کېدل او مخالفين يې کمزوري کېدل. په انتخاباتو کې هم د صدام حسين د ګروپ پلوي منتخب شو چې له همدې لامله د سوريې بعثيان ناراضه شول او د انتخاباتو د نتايجو له قبلولو نه يې انکار وکړ. دوه نيمې مياشتې لا نه وې تېرې شوې چې د سوريې راډيو د نوی منتخب شوو غړو ګوښه کول اعلان کړ، چې له دې خبرو نه وروسته د سوريې او عراق بعث ګوندونه سره بېل شول. صدام لا په زندان کې و چې د بعث ګوند د مرکزي شورا غړی منتخب شو چې تر دې پخوا د مرکزي شورى غړی نه و، بلکې پر نورو ماموريتونو ګومارل شوی و. کله چې زندان نه خوشې شو، په خپل ګوند کې يې اختلافات وليد او د هغو اختلافاتو د له منځه وړلو په تکل کې شو. پخوا د سوريې او عراق بعث ګوند يو ګوند و، مګر کله چې صدام وليده چې د دوی ترمنځ ورځ په ورځ اختلافات زياتېږي، صدام د خپل ګوند رهبري

پر غاړه واخیسته او د انقلاب لپاره یې لاره هواره کړه. بالاخره صدام حسین په هغه اپوزیشن کې راغی چې وشي کولای د مخالف ګوند تخت نسکور کاندي. په ۱۹۶۸ میلادي کال کې د صدام تر قیادت لاندې په عراق کې انقلاب راغی او د هغه ډله د چارو واګی په لاس کې ونیوه او په دې توګه صدام حسین په ۱۹۶۸ میلادي کال کې د عراق د لارښود په حیث د سیاست ډګر ته ووت.

صدام حسین د اسرائیل سخت مخالف و او له اسرائیلو سره دده دا مخالفت هغه وخت پیل شوی و چې په ځوانی کې یې سیاسي مبارزه پیل کړه. هغه چې کله سیاسي روزنه اخیسته پر فلسطین باندې د اسرائیلو ظلمونه سخت ځوراوه، په هلکتوب کې یې په زړه کې د اسرائیل پرضد نفرتونو وده وکړه، هغه غوښتل چې د فلسطین وګړي د اسرائیلو له مظالمو نه وژغوري او یو آزاد فلسطین په خپلو سترګو وګوري.

هغه د عراق د سوسیالست ګوند مخالف هم ددې لپاره و چې هغه د بیان پر آزادي بندیز لګولی و، له همدې لامله هغه په بعث ګوند کې غړیتوب ترلاسه کړی و.

د ایران او عراق له جګړې وروسته جمهور رئیس صدام حسین غوښته چې خپل ټول وسایل او امکانات د اسرائیلو پرخلاف په کار واچوي. په دې لړ کې هغه د ۱۹۹۰ کال د اګست په ۱۴ نېټه په بغداد کې د یو بین المللي اسلامي کانفرانس اهتمام وکړ چې په هغه کې د ۷۰ هیوادونو ۷۰۰ تنه غړو ګډون وکړ، دا کانفرانس په بشپړ دول د اسرائیلو پرخلاف و او د امریکا د هغه

قرارداد په خوب کې جوړ شوی و چې په هغه کې امریکا ویلي و چې «القدس» د اسرائیلو پلازمینه ده.

جمهور رئیس صدام په خپله بیانیه کې وویل چې په امریکا کې د ۱۹۹۰ کال د جون د میاشتې په ۱۰ – ۱۱ – ۱۲ نیټو کې د یهودانو یو کانفرانس جریان درلود. په دې کانفرانس کې له ۱۲ سوو تنو زیاتو یهودانو ګډون درلود. په دې کانفرانس کې نه یوازې دا چې د اسلام او مسلمانانو پرخلاف بیانیې ورکړې شوې؛ بلکې په پای کې یې یوه خطرناکه اعلامیه هم خپره شوه. صدام حسین ددې اعلامیې ځینې برخې د کانفرانس برخوالو ته واوراوه او د هغې فوټوکاپیان یې پر حضارو وویشل؛ هغه ددې اعلامیې یوه برخه واوروله چې په کې یې لیکلي وو: «جمهور رئیس صدام حسین د اسرائیلو ډېر خطرناک دښمن دی او په نږدې کې خورا درنه جګړه چې له دریمې نړیوالې جګړې سره به مشابهت لري په منځنی ختیځ کې به د اسرائیلو او عربو ترمنځ کېږي.» صدام حسین په ډېر ټینګار سره دا جمله وویله چې که په هغه وخت کې زموږ کوم ملګري له موږ سره د اسرائیلو پرضد جهاد کې برخه وانخلي، هغه له موږ څخه نه دی. صدام حسین وویل چې دا خبره په یاد کې وساتئ چې القدس به هېڅکله د یهودانو پلازمینه ونه ګرځي. موږ صهیوني ځواکونو ته خبرداري ورکوو چې فلسطین د غاصبانو په پنجو کې دی، ان شاء الله په فلسطین کې به د خلکو غصب شوي حقوق بېرته هغوی ته ورکوو او قدس به آزادوو. دا زموږ مقدسه فریضه ده او دا زموږ لپاره د عزت او شرف باعث دی

او د الله جل جلاله سره به موږ ته په کې لوړې درجې او ثوابونه وي. هغه وویل چې عراق به هېڅکله له خپل ټکنالوژی او ساینسي اصولو نه لاس وانخلي او په دې لاره کې به جهاد او مبارزه کوي. عراق به د همدغه ساینس او ټکنالوژی په وسیله قدرت ترلاسه کوي او د اعرابو او اسلامي نړۍ خدمت به کوي. هغه وویل که چېرې چا پر موږ باندې حمله وکړه، موږ به په ټول خواک سره د هغه مقابله کوو او موږ به هغوی د هغوی له ټولو جنګي وسایطو سره له منځه وړو. عراق وي که کوم عرب مسلمان هیواد، پر هریو باندې حمله یا تیری، پر عراق باندې به تیری وي او موږ به په بشپړ جرئت د هغه مقابله کوو.

د صدام حسین له اعدام نه وروسته عزت ابراهیم د بعث ګوند مشر ټاکل شوی دی. بعث ګوند اوس په ټول عراق کې د بهرني ښکیلاک پرضد مبارزه کوي، په خاصه توګه په سني مېشتو سیمو کې د هېر پلویان لري. ویل کېږي چې اوس بعث ګوند د صدام حسین فکر او ایډیالوژی پرمخ بیایي، له همدې لامله د بعث ګوند د هر غړي د امریکا په تور لست کې نیول شوي دي.

اوولسم باب

# له صدام حسین سره د هغه د شخصي ژوند په باب یوه په زړه پورې مرکه

پوښتنه: د عبدالکریم قاسم د وژلو د هڅې له ناکامۍ وروسته، سوریې ته لاړې؛ مګر درې میاشتې وروسته قاهرې ته لاړې، علت یې څه و؟

صدام حسین: واقعیت دا و چې د ګوند مرکزي قیادت په مصر کې له ما نه کار اخیست. له همدې لامله د هغوی له غوښتنې سره سم مصر ته لاړم.

پوښتنه: په قاهره کې ستا د کړو وړو په باب خلکو ته کافي معلومات نشته، آیا په دې اړه څه ویل غواړئ؟

صدام حسین: علت یې دا و چې زه یو عام زده کوونکی وم او په یو عام کور کې اوسېدم، ګالج ته تللم او چې بېرته راتلم په مطالعه کې به بوخت وم، یا به د ګوند د قیادت له خوا د راسپارلي ماموریت په ترسره کولو کې به مې هڅه کوله. زما کار به عموماً له پټ ګوند سره د اړیکو په هکله و.

پوښتنه: آیا تا د ېر وخت په قاهره کې تېر کړ او یا په نورو ښارونو کې هم پاتې شوې؟

صدام حسین: د ېر وخت مې په قاهره کې تېر کړ، البته نورو ښارونو ته هم د لږې مودې لپاره تللی یم، زه د نیل د سیند پر غاړه په یو کور کې اوسېدم، ما د ېر وخت په همدغه کور کې تېراوه.

پوښتنه: آیا ستا خاص یادښتونه شته؟

صدام حسین: موږ د «دقی» په یو سماوار کې سره ټولېدو، د میاشت په آخرو ورځو کې کله چې به زموږ جیبونه تشېدل او د ېرې لږې پیسې له موږ سره پاتې کېدې، نو موږ عموماً د میاشتې په وروستیو درې او څلورو ورځو کې پیسې اچولې او د یک به مو پخاوه او په ګډه به مو خوړه. زه دام کلثوم د موسیقی محفل ته هم یوځل تللی وم.

پوښتنه: آیا تا کله ستېج ډرامه لیدلې؟

صدام حسین: هو! یو یا دوه ځله په اسکندریه او یوځل په قاهره کې.

پوښتنه: آیا زه دا پوښتنه کولای شم چې د ژوند له ملګری سره دې تعلق څنګه دی؟

صدام حسین: کله چې زه ماشوم وم نو ساجده یې زما په نامه کړې وه او موږ مې دا خبره ماته کړې هم وه. په لس کلنی کې مې د لومړی ځل لپاره خپله چنغله ولیدله، که څه هم زه پوهېدم چې ... به زما کېدونکې ماندینه ده؛ مګر ما ورسره خبرې نه کولې؛ ځکه چې ما له هغې سره د خبرو اجازه نه درلوده. په هرحال

کله چې د ځوانۍ پړاو ته ورسېدم د مینې په جذباتو کې مې زیاتوالی راغی؛ مګر ما اجازه نه درلوده چې هغې ته د خپلو احساساتو څرګندونه وکړم. ما له دود او دستور سره سم له ساجده سره هغه مهال د واده کولو تصمیم څرګند کړ چې په قاهره کې محصل وم. دا د ۱۹۷۱ میلادي کال خبره ده. کله چې زه له قاهرې نه بغداد ته راغلم، موږ دواړه د واده له مراسمو نه وروسته ګډ ژوند پیل کړ. زموږ د واده تاریخ د ۱۹۷۳ میلادي کال د «مې» د میاشتې پنځمه نېټه ده. زه پنځه اولادونه لرم؛ ۳ لوڼې او ۲ زامن. زما له خپلو لوڼو سره ډېره مینه ده، له کوچنۍ لور سره مې زښته زیاته مینه ده، ترڅو چې کله کله یې دفتر ته هم له خانه سره وړم.

پوښتنه: آیا کله تا ته د یتیمۍ احساس نه دی شوی؟

صدام حسین: دا حقیقت دی چې زما کورنۍ ماته د یتیمۍ د احساسولو موقع رانکړه. البته دا واقعیت دی چې که چېرې مې پلار ژوندی وای، نو ژوند ډېر ښه تېرېده. په هرحال تر ډېره حده پورې زما د کورنۍ غړو دغه خلا ډکه کړه په خاصه توګه زما مور.

پوښتنه: آیا ته له خپل مور سره د ملاقات لپاره خې راخې؟

صدام حسین: هو؛ دا یو طبیعي امر دی. کله زه ورځم او کله هغه ماته راځي؛ مګر هغه کلیوالي ژوند ته ترجیح ورکوي، دلته د هغه زړه چنداني نه لګېږي.

پوښتنه: له دوستانو سره دې چار چلند څنګه دی؟

صدام حسین: زه له خپلو دوستانو سره «بې تکلف» یم، موږ

له یوبل سره یو کې ټکالي کوو، عادي حالت غوره کوو او کله کله په اوچت غږ خاندو هم.

پوښتنه: آیا ستاسې په خپل کور کې دیموکراسي ده او د کور د ریاست نظام جمهوري دی؟

صدام حسین: زما کډه د خپل کور په چارو کې آزاده ده، پخلنځي، د کرسیو، فرش او نورو ډیکوریشن او تزئین د هغې کار دی او زه په کې مداخله نه کوم، البته که چیرې په کوم کار کې سلا او مشورې ته اړتیا پېښه شي، نو موږ په خپلو منځو کې مشوره سره کوو.

پوښتنه: آیا ستا کډه په سیاسي چارو کې مداخله کوي؟

صدام حسین: هو! دا د هغې د تربیې یوه برخه ده، هغه ماته مشورې راکوي او زه هم په چارو کې له خپلو بچیانو سره مشوره کوم. ددې لپاره چې د هغوی سیاسي شعور وده وکړي، زه هغوی ته دا احساس نه ورکوم چې د کوم چارواکي زامن دي؛ بلکې زما چارچلند له هغوی سره د پلار په حیث دی. همدارنګه زه دغې خبرې ته هم پاملرنه کوم چې په هغوی کې شاهانه غرور او تکبر پیدا نشي او هغوی خان د ټولنې یوه برخه وګڼي. که چیرې هغوی ته د خدمتګارانو، موټر او ډریور آسانتیاوې مهیا دي ددې لپاره نه دي چې هغوی له عامو وګړو نه ممتاز وګرځي دي؛ بلکې لکه چې زما په اولس کې د ډېرو خلکو ته دا سهولتونه مهیا دي، هغوی ته هم مهیا دي. زه پردې خبرې ډېر غور کوم او پام ساتم چې هغوی له عام اولس نه خان اوچت ونه ګڼي؛ بلکې د

عام اولس یوه برخه وګڼي. زما دواړه زامن (عدی او قصی) په فکري لحاظ بعثي دي.

پوښتنه: عدی څو کلن دی؟

صدام حسین: هغه د ۱۹۹۱ میلادي کال د جون په ۱۸مه پوره ۳۷ کلن کېږي.

پوښتنه: آیا ته خپل پلرني کلي ته ځې راځې؟

صدام حسین: هو! اکثر اوقات زه هلته په تللو ویاړ کوم، زه په هغو کلیو کې خپلې خاطرې ژوندي کوم.

پوښتنه: د مینې په باب څه نظر لرې؟

صدام حسین: زه هېڅکله تصور قدرې هم نشم کولای چې یو سړی له مینې پرته ژوندی پاتې کېدلای شي، له خپلې ښځې سره مینه، بچیانو سره مینه او له پوره بشري نړۍ سره مینه د هر انسان د ژوند لازمي برخه ده؛ البته زما د مینې یوه لویه برخه خپل اولس ته مخصوص شوې او زما ددغې مینې کیفیت له خپلو بچیانو سره د مینې له کیفیتنز ژوره ده.

پوښتنه: آیا کله له مرګه ډار شوې یې؟

صدام حسین: زه له مرګه نه وېرېږم؛ ځکه چې ما ډېر ځلې له ډېر نږدې نه مرګ په خپلو سترګو لیدلی، زه پر الله ایمان لرم، زه بشپړ مؤمن یم، موږ له مرګه نه وېرېږو؛ مګر له مرګ نه وروسته چې کوم حالات راځي له هغو حالاتو نه وېره لرو.

**اتلسم باب**

## د صدام پر اعدامولو نړيوال غبرګون

د عراق د پخواني جمهور رئيس پر اعدام باندې نړيوالو سترو مشرانو موافق او مخالف غبرګونونه ښودلي دي؛ اروپايي ټولنې، روسيه، ليبيا او په فلسطين کې د حماس حکومت د صدام حسين د اعدام مخالفت کړی، په داسې حال کې چې امريکا، ايران، کويټ، اسرائيل او جاپان له نورو د ډېرو هيوادو سره د عراق د پخواني جمهور رئيس اعدام بدرګه کړی او موافقت يې ورسره ښودلی دی.

**ليبيا**

ليبيا د عراق د پخواني جمهور رئيس صدام حسين په اعدام باندې درې ورځې ملي ماتم اعلان کړ.

**د امريکا جمهور رئيس جورج واکر بوش**

صدام ته د يوې شفافې محاکمې په نتيجه کې د مرګ سزا واورول شوه. دا د هغه د جابرانه کړو وړو په باب انصاف دی.

صدام حسین دداسې ستونځمن کال په پای کې اعدام شو چې په هغه کې عراقیانو او زموږ پوځیانو ډېرې ستونځې وګاللې د صدام د اعدامولو مطلب دا نه دی چې هلته تشدد پای ته ورسېږي؛ مګر په عراق کې د ډیموکراسی په لور مهم ګام دی چې د هغه په سیوری کې په آرامه فضا کې له استحکام او امنیت سره حکومت کولای شي، د تروریزم پرخلاف له امریکا سره د همغږي په توګه ملګرتیا وکړي. د راتلونکي لپاره لاتولې قربانۍ او ستونځې پرخپل ځای پاتې دي؛ مګر د امریکایي اولس امنیت په دې کې دي چې په عراق کې ډیموکراتیک ارزښتونه همدغسې وده وکړي. «هره ورځ په لسګونو عراقیان ووژل شي، کورونه کنډواله شي، د عراق اقتصاد په صفر کې ضرب شي، د بهرنیو مداخلو په نتیجه کې عراق ټوټې، ټوټې شي، تجزیه شي او د یو نوی نو فلای زون په جوړولو سره د عراق د تېلو شتمنی د امریکا په ولکه کې راشي. دا د ټولې نړۍ لپاره د بش او د هغه د انډیوالانو او په مجموع کې د امریکایي قیادت دوکتورین دی او د ګلوبلایزیشن چغې هم د همدې لپاره دی.»

## واتیکان

واتیکان د صدام حسین د اعدام جزا افسوسناک خبر وباله؛ د واتیکان ویاند ویل چې د هغه د اعدام په پایله کې ددې امکان شته چې هلته د انتقامي احساساتو اور ژبغړاند شي او په تخریبي فعالیتونو کې زیاتوالی راشي.

**د انګلستان د بهرنیو چارو د وزارت سکرتري ((مارګریټ بیکټ))**


صدام حسین چې د خپل اقتدار په دور کې څه وکړ، د عراق په محکمه کې د هغه د جرایمو پرخلاف محاکمه دایره شوه، نو اوس هغه ته د خپلو اعمالو جزا ورکړ شوې ده، له همدې لامله انګلستان د عراق د محکمې دې فیصلې ته ښه راغلاست وایي د انګلستان حکومت د عراق په شمول د نړۍ په هره ګوښه کې چاته د مرګ د سزا ورکولو پلوي نه کوي، موږ په دې باره کې د عراق حکومت ته په څرګندو ټکو کې ویلي وو چې موږ د یو آزاد او خودمختار حکومت په توګه د هغه د فیصلې احترام کوو.

**د استرالیا د خارجي چارو وزیر الکزانډر ډونر**

دا معلومه نه ده چې څوک د چا د مرګ د سزا په باب څه فکر کوي؛ مګر د عراق حکومت په دې اړه د استرالیا د حکومت له دریځ نه خبر دی، موږ عراق د یو آزاد هیواد په توګه د عراق د حکومت په حدودو کې د عوامو پرخلاف د جرایمو په اړه د دغسې فیصلو احترام کوو، صدام ته د یوې شفافې محاکمې په نتیجه کې د هغه د کړنو سزا ورکړ شوې ده.

**د ایټالیا صدراعظم رومانوي پرودي**

ایټالیا د مرګ د سزا پرخلاف دی، که څه هم هغه د صدام حسین د محاکمې په شان ډرامایي محاکمه هم وي. زموږ اوس هم همدغه دریځ دی چې ښایي صدام ته د مرګ سزا نه وای ورکړ شوی.



په عراق کې د امریکا سفیر زلمی خلیلزاد د عراق له صدراعظم ابراهیم جعفری سره

## افغانستان

جمهور رییس حامد کرزی صدام ته د پانسي ورکولو پرمهال تنقید وکړ او ویې ویل چې د اختر ورځ د غچ ورځ نه د خوښیو ورځ دی.

## ایران

د عراق مهم ګاونډی او د امریکا موجوده رژیم مخالف هیواد ایران د صدام حسین اعدامول ستایلی دی؛ د ایران د بهرنیو چارو د وزارت ویاند محمد علی حسیني ویلي دي چې د صدام د اعدامولو قضایي فیصله د هغو زرګونو عراقیانو، ایرانیانو او کردانو لپاره د خوښۍ لامل دي چې د صدام د مظالمو ښکار شوي دي، د صدام په دور کې د ایران او عراق ترمنځ اته کاله جنګ روان و چې د هغه په ترڅ کې په لکونو خلک له منځه لاړل.

## کویټ

په ۱۹۹۰ کال کې پر عراق باندې تیري کوونکی صدام، په هیڅ شان د کویټ د خلکو لپاره د منلو وړ شخصیت نه و، له همدې لامله په کویټ کې هیچا او هیڅ چېرته یې پر اعدام باندې د افسوس څرګندونه ونشوه، شیخ جابر المبارک د کویټ صدراعظم ویل چې صدام حسین د عراق د ملت او اسلامي نړۍ ستر دښمن و.

## اسرائیل

اسرائیل د امریکا لاسپوڅی او څواکمن ملګری د صدام حسین د اعدام فیصله ستایي او ویلي یې دي چې دا کار د انصاف له مخې شوی دی.

## فلسطین

د حماس حکومت ویلي دي چې صدام یو جنګي اسیر و او د هغه پانسي یو سیاسي قتل دی. په دې اړه پر نړیوالو قوانینو باندې ملنډې وهل شوي دي.

## جرمني

د جرمني د بهرنیو چارو وزیر وویل چې د صدام په دوره کې د هغو خلکو په جذباتو او احساساتو د پر بنسه پوهېږي چې ظلم پرې شوی او د جبر په بتیو کې وریت شوي دي؛ خو د هغه هیواد د صدام د مرګ د فیصلې مخالفت کوي.

## فرانسه

د فرانسې د خارجه چارو وزارت د صدام د اعدام په باب ویلي دي: «فرانسه له ټولو عراقیانو دا غواړي چې د خپل راتلونکي، ملي وحدت او د خپل هیواد د بیا رغاونې په باب فکر وکړي، اوس له هرڅه نه زیات د دې خبرې اړتیا ده چې عراق د بشپړې آزادي، خودمختاري او استحکام په لور اوچت ګامونه واخلي.»

**روسیه**

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په خپلو څرګندونو کې د صدام پر اعدام باندې ژور خفګان څرګند کړی او ویلي یې دي چې د صدام د نړیوالې بخښنې وړاندیز ولې رد شوی دی؟

**جاپان**

د جاپان لومړي وزیر شینوابی وویل چې د عراق دغې فیصلې ته د احترام په نظر ګوري؛ جاپان هیله من دی چې په عراق کې ثبات راشي او حالات د امنیت خواته روان شي او په نړیواله ټولنه کې د څه کولو جوګه شي.

**ریچارډ وکر د بشري حقوقو له سازمان څخه**

د عراق د حکومت د بشري حقوقو د پرځای کولو ازمیښت دا دی چې هغه له خپلو خورا بدو مخالفینو سره څه ډول سلوک کوي. تاریخ به په خپله د دوجیل د پېښې د مقدمې او ددې بوړنوونکې پانسي په باب په خپله فیصله وکړي او د هغو نقایصو ته به ګوته ونیسي. موږ له صدام سره هېڅ همدردي نه لرو؛ مګر دا ضرور وایو چې د صدام حسین د پانسي په نتیجه کې به په عراق کې نور هم تاوتریخوالی زیات شي، او په دې پانسي کې له صدام سره انصاف ونشو. په دې باندې به نور هم په عراق کې تشدد زیات شي او موږ معتقد یو چې د صدام پانسي کول د عراق د تجزیې امریکایي پلان دی.

## نولسم باب

# د عراق د مطالعاتي ګروپ رپوټ

د امريکا د پخواني خارجه چارو د وزير جيمز بيکر په مشرۍ د عراق د مطالعاتي ګروپ غړو چې شمېر يې لسو تنو ته رسېده، جمهور رييس بش ته يو رپوټ وړاندې کړ. په رپوټ کې ليکل شوي وو چې د عراق د امنيت چارې د عراق حکومت ته وسپاره او هڅه وکړه چې امريکا له دې ستونځې نه خلاص کړې. هڅه وکړئ چې د اتلسو (۱۸) مياشتو په دوران کې د ۲۰۰۸ کال تر لومړيو مياشتو امريکايي پوځ ورو ورو له عراق نه وباسئ. د مطالعاتي ګروپ له رپوټ سره سم څرنګه چې هلته د مذهبي ډلو خپل منځي جګړې وضعه ډېره کړکيچنه کړې او حالات ډېر ترينګلي دي؛ نو امريکا نه تر ډېرې مودې پورې د هغې د زغملو توان لري او نه هلته د نژادي او ګوندي فتنو کوم جادويي حل شته. له همدې لامله اړين بولو چې د امريکا په بنسټيزو اهدافو کې بدلون راوستل شي، د مسئلې د حل لپاره ديپلوماتيکې هلې ځلې تونډې شي، امريکا نه غواړي چې په عراق کې د تېلو د ساتلو وظيفه پر غاړه

ونيسي. جيمز بيکر په دې رپوټ کې د عراق د حکومت په اړه ويلي دي چې که چېرې د عراق حکومت نشي کولای چې هلته په عراق کې امنيت تامين کړي نو پرهغوی دې مرستې بندې شي او په دې معامله کې له ايران او سوريې سره مستقيم مذاکرات پيل شي، سربېره پردې د فلسطين د مسئلې د حل په باب هم لازم اقدامات وکړي.

په دې رپوټ کې چې د The Way Forward تر عنوان لاندې ليکل شوی، ۷۹ سپارښتنې وړاندې کړی شوي دي، چې په هغه کې مطالعاتي ګروپ دا اعلان هم کړی چې که چېرې څوک له عراق نه د امريکا د ويستلو لاره ونيسي، هغه ته به ۲۵ مليونه ډالر ورکړ شي. موږ په عراق کې د سربښو په ډنډ کې ګير يو، بش پر نوموړی رپوټ د تبصرې په ترڅ کې وويل: موږ د دې رپوټ پر هر سپارښت باندې پوره غور کوو. هغه وويل چې واقعاً په رپوټ کې ډېر په زړه پورې تجاويز شامل دي. درې نيم کاله پخوا عراق ته ورتګ زما فيصله وه، خو اوس له هغه ځايه د وتلو په باب هم په پرله پسې توګه فکر کوم.

واشنګټن پوسټ د مطالعاتي ګروپ د ملاقاتونو په حواله په خپل رپوټ کې ليکلي دي چې د دې ګروپ غړي، دې نتيجې ته رسېدلي دي چې امريکا د عراق جګړه بايللې ده، امريکا دغه مطالعاتي ګروپ په کانګرس کې د دواړو ګوندونو د غړو په شمول د مارچ په مياشت کې جوړ کړی وه، په دې وخت کې د عراق په ۱۸ اتلسو ولايتونو کې صرف پر دوو ولايتونو باندې د

عراق د حکومت کنټرول دی. د هیواد د پوځ له لسو فرقو نه صرف دوه فرقې د هیواد صدراعظم نوري المالکي ته مسؤولیت لري. له بله پلوه د عراق حکومت او اتحادي خواکونه د عراق د مطالعاتي ګروپ رپوټ مسترد کړی او ویلي يې دي چې پر موږ باندې زیاتی شوی دی. د عراق د صدراعظم نوری المالکی مشاور «باسم رومانی» ددې رپوټ په اړه د خپلې رایې د څرګندولو په ترځ کې وویل: که چېرې امریکا د عراق مرسته ونکړي؛ نو خلک به داسې وانګېري چې امریکا څه وایي هغه نه کوي!

سربېره پردې امریکایي اونیزې «ټایم» د بش په باره کې د رایې د څرګندولو په ترځ کې ویلي دي چې د امریکا دری څلویښتم جمهور رئیس (بش) «له خپلو تصامیمو نه په بېرته راګرځېدو» عادی دی؛ مګر د عراق پر مسئلې باندې هغه په دې اړه ډېر خند کړی دی. اوس په امریکایي سیاسي کړیو کې دا ګرم بحث روان دی چې جمهور رئیس بش به ډېر ژر د جیمز بیکر پر پلان عمل پیل کاندي او ډېر ژر به په خپل بهرني سیاست کې ژور بدلون راولي؛ مګر د مطالعاتي ګروپ کمیسیون پردې خبرې باندې متفق دی چې د عراق د ګاونډیو هیوادونو (سعودی عرب، ایران، سوریه او ترکیې) له مرستې پرته په عراق کې حالات لاترینګلی کېږي او ورځ په ورځ له کنټروله وځي؛ ځکه چې دغه هیوادونه له سني او شیعه ډلو سره ژوندي اړیکې لري.

د عراق د مطالعاتي ګروپ کمیسیون دوه نور وړاندیزونه هم کړي دي چې له اسرائیل او فلسطین سره پر مذاکراتو سربېره، له تهران او دمشق سره هم بنسټيي مذاکرات وشي. مګر ددې



د تصویر ښی خواته د صدام حسین لور له خپل یو دوست سره غاړه به غاړه شوی . ژاړي

کمیسیون په رپوټ کې د امریکایي پوځونو په باب چې له عراق نه څه مهال وځي یا بنایي ووځي هیڅ خبره نه ده شوې او بغداد ته یې دا وړاندیز کړی چې که چېرې عراق په هیواد کې پر حالاتو کنټرول ترلاسه کړي، نو د امریکا پوځ به پړاو په پړاو، یا مرحله په مرحله عراق د امریکا په نیت بر پرېږدي.

سربېره پردې په رپوټ کې لیکل شوي دي چې جمهور رئیس بش په اوسنیو شرایطو کې د ۲۱ مې پېړۍ د «وینستن» رول لوبوي، خو حقیقت دا دی چې د جمهور رئیس بش د نورو مشاورینو مشورې هغه دې ته اړ ویستلی شي چې د عراق د ترینګلي حالاتو په نظر کې نیولو سره د هغوی خبره واوري، که څه هم جمهور رئیس بش د امریکا پوځونو د ایستلو خبره ردولای هم شي؛ خو جیمز بیکر غواړي چې د عراق د حالاتو له دلدل نه ژر تر ژره امریکایي پوځونه وباسي، له همدې لامله هغه پردې ټکي باندې ډېر ټینګار کوي چې له عراق نه د امریکایي پوځونو د ویستلو مهال ویش جوړ شي. سربېره پردې تایمز امریکایي اونیزې د بش په اړه د یوې تبصرې په ترځ کې لیکلي دي چې که چېرې جمهور رییس بش په څلویښت کلنۍ کې د شرابو له تویې نه مخکې وینښ شوی وای، نو د هغه د جسم به د نشې په پیاله کې ښه خېل شوی وای. له ۹/۱۱ نه اته (۸) میاشتې وروسته هغه د «خپل لیکلي سناریو» له اشکارلو او ښو نه هېڅ یو داسې شکل نه دی موندلی چې د هغه اکثر په خپل ماموریت «مشن» کې بریالی شوی وي. امریکا عراقیان په هېڅ شان یوې مسئلې ته نشي اړ ویستلی، په دې کې شک نشته چې په عراق کې له امنیت او ثبات سره د عراق له دلدل نه د امریکا د وتلو ټولې لارې بندې شوې دي،

د عراق د صدراعظم امن پلان هم په عراق کې د امنیت د راوستلو او ټینګولو په لاره کې بالکل ناکام شوی دی او د هغه پلان مثبت نتایج لامخې ته نه دي راغلي. البته د ۲۰۰۵ میلادي کال ټولټاکنو دا ثابته کړې ده چې د عراق اولس په نژادي او مسلکي اعتبار سره په څو برخو ویشل شوي دي. په دې انتخاباتو کې د هرې فرقې خلکو خپل کاندیداتور ته رایې ورکړې دي. هېڅ یو عراقي د عراق د ملي او نشنالستو ګوندونو کاندیداتورانو ته رایه ورنکړه. په واقع کې د عراق د کورنیو جنګونو، د حکومت د شړېدلو او د عراق د تجزیې د مخنیوي لپاره یو کال پاتې دی. له هرڅه نه زیاته اړینه خبره داده چې سني او شیعه ګروپونه سره متحد شي، د یووالي لاس ورکړي او د یو ځواکمن عراق د بقا لپاره مبارزه وکړي او د هیواد د نورو لړکیو د تحفظ لارې چارې ولټوي. له همدې تحقیقي ریوټ سره سم ویل شوي دي چې امریکا خو د عراق په پالیسیو کې د بدلون د راوستو د پر اقدامات کوي؛ مګر د همدغو اقداماتو په پایله کې په عراق کې دا امکان ځواکمن کېږي چې د فتنو اور به نور ژبغړاند شي اولا به خلک د تباهي کندې ته نږدې شي او لا به عراق په کنډوالو بدل شي. واقعیت دا دی چې عراق اوس د خطر سیمه ده؛ د واشنګټن د تپلی حل لارې چارې د عراقیانو پر ژوند مثبتې اغېزې نشې پرې ویستلې. همدارنګه نیویارک ټایمز د امریکا معتبرې ورځپاڼې په خپلې یوې تبصرې کې د جمهور رییس بش د ملي امنیت مشاور ((ستیفن هیډلي)) هغه تبصره خپره کړې چې د عراق د صدراعظم نوري المالکي په باب ده، هغه په دې تبصره کې ویلي دي چې د عراق صدراعظم په موجوده حالاتو کې په سیاسي لحاظ تجرید شوی دی، واک او اختیار نه

لري او د خپل هیواد په چارو کې د منډو ترړو په لاره کې بالکل ناکام شوی دی. پر همدغه مهال د امریکا په یو بل ایالت ویرجینیا کې د ریپبلیکن پارټي استازی (فرینک وولف) تېر کال په عراق کې له یو لنډمهالي سفر نه وروسته د امریکاپر بهرني سیاست باندې انتقاد وکړ او ویې ویل چې په عراق کې د جمهور رئیس د پالیسی پرځای د یوې نوې پالیسۍ د عملي کولو اړتیا وه، او د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې کونډو لیزا رایس د مطالعاتي ګروپ د کمیسیون د جوړېدو په هکله د تذبذب او زړه نازړه توب په حالت کې ویلي وو چې هغه په یو شرط باندې ددې کمیسیون د سپارښتونو منلو ته تیاره ده چې د جیمز بیکر مطالعاتي ګروپ (Jamesebaker Study Group) د عراق د تېرو حالاتو په باب نه؛ بلکې د امریکایي زعامت لپاره راتلونکې لارې وټاکي. د امریکا د دفاعي چارو وزیر ((رابرټ ګیټس)) چې د امریکا په پلازمینه کې تر ټولو زیات د متنازعه شخصیت خاوند دی، د دفاع وزارت د چوکۍ له سنبالولو نه وروسته، په دې اړه داسې پوښتنه ونکړه چې پېچلې وي او خواب یې ګران کار وي، حال دا چې کله هغه په ۱۹۹۱ میلادي کال کې د (CIA) رئیس وټاکل شو. نو ترڅو میاشتو پورې، هغه د امریکا محکمې ته تلو او راتلو او د سلګونو سختو او شخصي پوښتنو ځوابونه یې ویلي وو، هغه وویل چې په عراق کې د پوځ کمی نه دی؛ بلکې هلته د مېړنیو پوځیانو په شمېر کې زیاتوالی راوستل کېږي.

هلته د ملګرو ملتونو عمومي منشي ویلي دي چې هغه په دې خبرې شرمېدلی چې ویې نشوای کړای عراق له جنګه وژغوري او پرې نږدې چې پر عراق جنګ وتپل شي.

هغه وایي چې د عراق اوسني حالات له کورنیو جګړو نه څو ځلي زیات بد حالات رامنځ ته کړي دي. له همدې لامله امریکا هڅه کوي چې د عراق د قضیې سیاسي حل ولټوي لکه چې د عراق مطالعاتي ګروپ په خپل رپوټ کې پردې خبرې ډېر ټینګار کړی چې د عراق د سولې پر پلان باندې بیا کتنه وشي او په سپینه ماڼۍ کې د سني او شیعه مشرانو د لیدو کتو لړۍ جاري وساتل شي، له دې ټولو هلوځلو نه دا جوتېږي چې امریکا اوس په دې هڅه کې ده چې د عراق د قضیې په اړه خپل حیثیت وساتي او په اصطلاح د اوړو پزه ځان ته جوړه کړي.

په تېرو ورځو کې د عراق د تر ټولو شیعه ګوندونو د لوی ګوند (په عراق کې د اسلامي انقلاب عالي شورا) د مشر عبدالعزیز حکیم او د امریکا د جمهور رئیس بش ملاقات، ټول مبصرین حیران کړي دي. عبدالعزیز حکیم په عراق کې د اوسني حکومت سخت مخالف دی او له ایران سره ډېرې نږدې اړیکې لري، په ظاهره کې ددې ملاقات مقصد د عراق د حکومت استحکام دی؛ مګر د پردې شاته نورې چارې ترلاس لاندې دي!!!

## شلم باب

# د امریکا راتلونکی ښکار

د صدام حسین افسانوي جرئت او زړورتیا به اوس یوازې د تاریخ برخه نه وي؛ بلکې اوس به د هغه په وینو د عربو نوی تاریخ لیکل کېږي او مړ صدام به د ژوندي صدام نه خورا زیات خطرناک ثابت شي، ځکه چې اوس به د صدام حسین د وینې هر څاڅکی د آزادي هغه ډیوه روښانه کړي چې عربي ټولنه به روښانه کړي او هغوی به پاڅون ته وهڅوي. د صدام قرباني به هېڅکله خپل ارزښت له لاسه ورنکړي. د صدام حسین په شان جرئتمند انسان ولې امریکایانو وواژه، له نن نه پنځلس کاله پخوا له امریکا نه څوک من هېواد هم د هغه د وژلو تصور قدری هم نشو کولای؛ مګر امریکا د صدام حسین پرضد ډېرې خطرناکې توطیې جوړې کړې او په دې توطیو کې یې د عربو «میر جعفران» او «ابو داؤدان» هم شریک کړي وو چې په دې توګه صدام حسین ورو ورو او پړاو په پړاو کمزوری کړي او داسې حالت ته یې ورسوي چې په یو ګوزار له پښو ولوېږي او همدغسې هم شول. آخر دا توطیه څه وه او امریکا

په دې جوړجاړه کې څنګه کامیابه شوه (دا ټکی د اسلامي نړۍ مشرانو او د اسلامي غورځنګونو لارښود وګړو ته د عبرت لوی درس دی)؟ د صدام حسین پرضد د امریکا د توطیې لومړی باب په ۱۹۷۹ میلادي کال کې هغه وخت پیل شو چې په ایران کې د خمیني تر قیادت لاندې اسلامي انقلاب د بري پړاو ته ورسېد. دا هغه دور و چې امام خمیني د ټولې اسلامي نړۍ د اتل په شان راپورته شو او د دوست او دښمن پام یې ځان ته واړاوه. له الجزایر نه ترمالیزیا پورې د مسلمانو ځوانانو په لاسو کې د امام خمیني تصویرونه ښکته پورته کېدل او د هغوی پر ژبو د امریکا پرضد توند شعارونه؛ ښکاره خبره ده چې دا کار د امریکا لپاره د پریشانی سبب شو؛ نو اوس د امریکا لومړی هدف ایران و. د امریکا لپاره دا ممکن نه و چې پر ایران باندې مستقیماً حمله وکړي، له همدې لامله په عراق کې د امریکا سفیر د ایران پرضد د صدام په هڅولو لاس پورې کړ. امریکا په ټوله عربي نړۍ کې دا شور ګډ کړ چې د ایران اسلامي انقلاب، عجمي انقلاب دی، که مخه یې ونه نیول شي د ټولې عربي نړۍ تمدن به لاندې باندې کړي او په دې توګه امریکا د عربو او عجمو ترمنځ د نفرت په خپرولو کې کامیاب شو. په عراق کې د امریکا سفیر صدام وهڅاوه چې پر ایران حمله وکړي، هماغه و چې صدام حسین پر ایران حمله وکړه. دا هغه مهال و چې هغه وخت د امریکا د جمهور رئیس استازی رمز فیلډ و او په لسګونو ځلې عراق ته راغی او لاړ او له صدام حسین سره یې ملاقاتونه وکړ. دا هماغه رمز فیلډ دی



د صدام حسین د ښوورځو يو انځور

چې وروسته په ۲۰۰۳ میلادي کال کې پر عراق باندې د امریکا د حملې قیادت یې کاوه. لنډه دا چې د ۱۹۸۰ کال په لسیزه کې امریکا صدام د خپلو ګټو لپاره استعمال کړ او د ایران د اسلامي انقلاب ملا یې ماته کړه. پر ایران باندې د عراق له حملې نه وروسته امام خمیني د ټول مسلمان لارښود پرځای صرف د شیعه ډلې لارښود پاتې شو. اسلامي نړۍ بیا په دوو برخو ووېشل شو او همدلته و چې د امریکا د دسیسې لومړی پړاو په بریې سره سرته ورسېده چې هدف یې د ایران کمزوري کول او د امریکا په دام کې د صدام نښلول و. څرنګه چې صدام حسین احساساتي لارښود و نو امریکا د هغه په هڅولو بیا لاس پورې کړ چې ګویا دی هم د جمال عبدالناصر غوندې د ټولې عربي نړۍ لارښود کېدای شي او له همدې ځایه د صدام پرضد د امریکا د دسیسو دوهم پړاو پیل شو. اوس په دې خبرې باندې هر سړی پوهېږي چې په ۱۹۹۰ میلادي کال کې هم صدام حسین د امریکا له خوا هڅول شوی و چې پر کویټ حمله وکړي او دا کار په بغداد کې د امریکا د مقیم سفیر په مشوره ترسره شوې وه او همدارنګه صدام له امریکایي سفیر څخه پوښتلي وو چې که چېرې عراق پر کویټ حمله وکړي، امریکا خو به ددې کار مخالفت ونکړي؟ همدغه امریکایي سفیر وروسته په کانګرس کې اعتراف کړی و چې په هغه مهال یې صدام ته داسې نه وویلی چې پر کویټ حمله مه کوه. دا هغه مرحله ده چې د صدام حسین پر خلاف د امریکا جوړجاړې او دسیسې رابرسېره شوې او په علنې ډول د امریکا د شومو اغراضو هدف

وګرځېد.

دلته صدام په عراق کې د امریکا د مقیم سفیر په اشاره خپلو پوځونو ته پر کویټ باندې د حملې نه و ویلي چې هلته امریکا د صدام پرضد چغې پیل کړې. له ټولو نه مخکې (UNO) یونایټډ نیشن ارګانیزېشن (ملګري ملتونه) د امریکا د بې درېغه فشار له لامله عراق د اقتصادي بندیزونو په محاصره کې راغی، دلته اوس امریکا د سعودي عربستان، اردن، یمن، بحرین او متحده عرب اماراتو شاهان داسې وهڅوله چې که چېرې صدام حسین پوځ له کویټ نه ونه ویستلې شي؛ نو هغه د ټولې عربي نړۍ لپاره لوی خطر جوړېدای شي. حقیقت دا و چې امریکا پر عراق د حملې تیاري کړې و؛ خو د هغې لپاره ممکنه نه وه چې له واشنګټن نه پر عراق حمله وکړي، امریکا پر عراق د حملې لپاره د ګاونډیو هیوادونو د ځمکو استعمال اړین و چې له هماغو ځمکو نه امریکا پر عراق باندې پرله پسې حملې وکړې.

په ۱۹۹۱ میلادي کال کې چې ترټولو مخکې د امریکا دې شیطاني چالبازۍ باندې پوه شو، هغه اسامه بن لادن ( Osama Ben Laden ) و. اسامه په هغو ورځو کې تازه له افغانستان څخه راغلی و. کله چې د عربي نړۍ شیخانو او شاهانو امریکا ته د عراق پرضد د خپلو ځمکو د استعمال اجازه ورکړه؛ نو اسامه بن لادن په سعودي عربستان کې ددې ناروا اقدام پرضد کمپاین پیل کړ. اسامه د هغه ځای له مشرانو سره هم وکتل او ددې خبرې مخالفت یې څرګند کړ، مګر عربي نړۍ هغه دې ته اړ ویسته چې


عربي نړۍ پرېږدي (او کومې بلې خوا ته لاړ شي). لنډه دا چې د عربي شاهانو او شیخانو په مرسته د صدام هڅونو ته په کویټ کې ماته ورکړې او په دې توګه په ۱۹۹۱ میلادي کال کې د عراق ملا ماته شوه او دا کار د امریکا د حملې په نتیجه کې او له هغې سره د عربي چارواکو د مرستې په صورت کې ممکن شو. په دې توګه د عربي شیخانو او شاهانو په وېرولو سره د عراق پر خلاف د امریکا د توطیې دوهمه کړۍ هم په بریالیتوب پای ته ورسېده.

د صدام حسین د ژوند د پای ته رسولو دریم باب د ۹/۱۱ له جهادي حملې نه وروسته پیل شو. دا تراوسه ثابته نشوه چې د ۲۰۰۱ میلادي کال د ۹/۱۱ د حملو ترشا دچا لاس کار کاوه؛ ځکه چې له دې حملې نه وروسته اسامه بن لادن ددې حملې له مسؤلیت نه په ښکاره توګه انکار کړی و؛ مګر نړیوال په دې ډېر ښه پوهېږي چې له همدغې حملې نه وروسته جمهور رئیس بش د صدام پر خلاف خپلې هلې ځلې توندې کړې او د هغه پر لاره یې د توطیې خطرناک جال وغوړاوه. لومړی دا چې امریکا د افغانستان په فتح کولو بریالي شوه او بیا یې فوراً دا واویلا او شور ګډ کړ چې صدام حسین له اسامه بن لادن سره ژورې اړیکې لري او بیا یې دا ډول وډنګاوه چې له عراق سره اتومي او کیمیاوي وسلې دي؛ ټوله نړۍ پردې پوهېده چې دا خبره غلطه ده. دا ځل د ملګرو ملتو سازمان هم پر عراق باندې د جمهور رئیس بش دا تور رد کړ؛ مګر بیا هم د عراق ګاونډیو هیوادونو خپلې مځکې پر عراق باندې د حملې لپاره د امریکا په واک کې ورکړې.

کـه چېـرې اردن، بحـرین، کویـټ، عمـان او متحـده عـرب اماراتو غوندې هیوادونو خپلې مځکې امریکایي پوځ ته پر عراق باندې د حملې لپاره په واک کې نه وای ورکړې، نو د بش پوځونه په خپل ټول قوت سره نشوای کولای چې ۲۰۰۳ میلادي کال کې عراق ته ماتې ورکړي. په دې توګه بش د عراق د ګاونډیو هیوادو په مرسته صدام ته ماتې ورکړه او صدام یې هم ونیوه. د صدام له عزل نه وروسته یې فوراً د سني او شیعه ترمنځ د تفرقې اور بل کړ. په پای کې صدام ته یې په پانسي ورکولو سره په ټوله عربي نړۍ کې د سني او شیعه ترمنځ د ټکر مسأله رامنځ ته کړه. امریکا خپل خطرناک حریف د مرګ په خوب ویده کړې او عراق یې ټول اشغال کړی. نو اوس د هغه بعدي نښه او وروستی هدف «ایران» دی. اوس د امریکا خبري رسنی ایران د یو اسلامي هیواد په نامه نه؛ بلکې د یو شیعي هیواد په توګه تبلیغوي، اوس نو د امریکا هدف دا دی چې د سني او شیعه ترمنځ د تفرقې اور ته لالمن ووهي او په دې توګه ایران له اسلامي نړۍ نه تجرید کاندي او د عرب او عجم په بېلتون سره له ایران سره هم هماغه سلوک وکړي لکه چې له عراق سره یې وکړه. اسلامي هیوادونه به د سني او شیعه په نامه جلسې او مظاهرې جوړوي او په پای کې به ددې جګړې انجام داوي چې یوبل اسلامي هیواد هم غلام شي.....

## د قاتل بش په نامه پرانیستی لیک

په ټکنالوژیک لحاظ زورور مګر په اخلاقي لحاظ ډېر کمزوری



امریکایي ډاکټر. د صدام له نیول کیدونه وروسته هغه معاینه کوي

انسانه، زړه خو مې نه غواړي چې ستا احترام وساتم؛ خو زما فرهنګ ماته دا اجازه نه راکوي. هغه شپه ډېر آرام ویده شوې او زه صدام د حقیقي مالک د ملاقات په ذوق کې کری شپه سبا کړه. تا داسې انګېرلې وو چې د جلادانو په وړاندې به زما پر وچولي د خولو آثار رابرسېره شي، زه به مضطرب او پریشان ښکاره شم او بیا به ته دا تماشا ټولې نړۍ ته وښیې او دا به ثابته کړې چې صدام څومره ډارن انسان و؛ مګر ته هغه ورځ هم د نورو ورځو په شان تېروتې وې. زما په زړه کې نه کوم خوف و او نه کوم ډار. فقط یوه هیله مې وه او هغه د شهادت-کمال ته رسېدل – حقیقي مالک ته رسېدل – له همدې لامله زه ستا په شان له مرګه ونه ډار شوم؛ بلکې په خپلو پښو د مرګ بدرګې ته لاړم. ته په دې خبرې پوه یې چې مرګ مؤمن ته د هغه پول حیثیت لري چې الله ته یې رسوي، زما هدف دا و چې له خپل رب سره د ملاقات شرف ترلاسه کړم او همدغې غوښتنې مې پر هرې وېرې او هر خوف غلبه حاصله کړې وه. نړیوال شاهد دي چې کله هم داسې نه و شوی چې جلاد په نقاب کې وي او هغه چاته چې پانسي ورکول کېږي لنوځ مخ د دار تختې ته وروستل کېږي. د جلاد لاسونه رېږدېدل او نقاب یې په خولو کې وار په وار لمدېده، هغه مجبور و، څه یې کولای شوای، بېچاره وګړی و، که څېرې هغه له ما سره لږه همدردي هم ښودله. نو هغه به هم زما په برخلیک اخته کېده: له همدې لامله ما ورته وویل: ((وېرېږه مه!)) په هغه ورځ له ما سره غیر انساني سلوک هم وشو، زه یې د دار تختې ته خېژولم، خو ما صبر غوره کړې وه؛ ځکه چې

الله د صابرانو ملګري وي او په دې کې هېڅ شک نشته چې هغه جل جلاله هره شېبه له ما سره ملګری و. له همدې لامله د مرګ تر وروستیو شېبو پورې مطمئن وم. که چېرې ته په هغه شپه په درانه او خواږه خوب ویده وې، خو هغه ستا وروستی خواږه خوب و، اوس به له مانه وروسته په ټوله نړۍ کې ستا پر خلاف د غندلو سلسله جاري وي، زما په حمایت او ستا په مخالفت کې به د خلکو هغه شور او زوږ راپورته کېږي چې ستا غوږونه به کاڼه کاندي او عادي خبرې به هم ونه شې اورېدی. ته چې له هرڅا سره مخ کېږې، نو د هغه په ځېره کې به زما ځېره وګورې؛ سپینه ماڼۍ وي یا د ګالف میدان، زه به له تا سره اوږه پر اوږه مخکې ځم، ستا په خورا محفوظ هوايي جهاز «الوتکه» کې به هم ستا ترڅنګ ناست یم او کله کله به داسې انګېرې چې د الوتکې پر ماشین پیلوټ نه زه ناست یم. زه د الله تعالی ډېر شکر پرځای کوم چې هغه ماته داسې مرګ راکړ چې د هغه له لامله په لکونو او کروړونو دعاګانې، زما په حق کې الله تعالی ته پورته کېږي. زما په مینه کې په کروړونو سترګې نمجنې شوې، که زه مړ هم شوم؛ نو د خپلې ایډیولوژۍ پر لټکا باندې ژوندی یم؛ بلکې له پخوا زیات خواکمن شوی یم او دا ته یې چې د ځواکمن هیواد د ځواکمن چارواکي په توګه هم په ټوله نړۍ کې د خلکو د ملامت او لعنت هدف ګرځېدلی یې. هغه اور چې ستا د ښاغلي پلار د ماتې له لامله ستا په وجود کې بل شوی و، هلته صرف موږ خپل دفاع کړې وه او د باطلو قوتونو په وړاندې مو له ګونډو لګولو نه انکار کړی

و زما مشوره تا ته داده چې اوس هم وخت دی، اصلاح شه! زما دعا دا ده چې الله دې درته هدایت وکړي. په یاد کې وساته چې دا دنیا فاني ده، هر سړی به ضرور یوه ورځ د مرګ مزه څکي، تول به الله تعالی ته ځواب ورکوي، هلته حیلې بهانې، چال فریب او منافقتونه یو هم نه چلېږي. هلته به شیدې، شیدې او اوبه به اوبه وي. یو به د بل نه بېلېږي او په دې هم پوه شه چې دلته په دې دنیا کې هم اوبه له شېدو نه بېلېږي، له همدې لامله د نورو په چارو کې مداخله مه کوه او د نورو مال ته سترګې مه سرې کوه. دا عادت دې پرېږده! او که نه هغه ورځ لرې نه ده چې نور خو پرېږده، خپل خپلوان به دې هم آرامې ورځې ته نه پرېږدي! زه دې چې پر دار ځړولم، نو داسې ګومان دې کاوه چې اوس ورور له ورور سره ونښلي او په عراق کې به د وینو ویلې بهېږي، پر همدغه مهال به موږ د تیلو ویالې خپل هیواد ته ورسوو؛ مګر ستا دا پلان به هم ناکامېږي. په هرحال خلک ستا په ناولې نیت ښه پوهېږي، تا زما هیواد په بارودو او وینو لړلی ده، تا زما د هیواد د مقدسو مقاماتو بې احترامي کړې، تا زما هیواد اشغال کړی، زما مشوره دا ده چې ورځه خپل هیواد ته، همدغه اوس لاړ شه! خپل پوځونه زموږ د ځوانانو په مضبوطو پنجو کې مه وژنه! د هغوی خپل و خپلوان د هغوی د راتلو انتظار کوي، او ستا د ناکردو له لامله خلک هره ورځ د سپینې ماڼۍ مخې ته راټولېږي او پرتا احتجاج کوي؛ مګر ته هماغسې پرخپل دریځ ولاړ یې (په سترګو کې دې د دومره غندلو سره سره د حیا او شرم هیڅ اثر نه ښکاري)، د حق

آواز واوره. هغه آواز چې زما له ستوني ختل او تراوسه پورې ستا په غوږونو کې انګازې کوي، که ته دغه تماشا له څو زاويو نه، څو څو ځلې هم وګورې؛ خو بيا به هم زما په سترګو کې به د وېرې هېڅ اثر ونه ګورې. ددې تماشې د سوچ پر وخت کله کله د خپلې وينې فشار هم معاينه کړه، زه پوهېږم چې ته ډېر د نازکې طبعې خاوند يې، ما په کوټه قفليو کې له کوترو سره باسې او وچه ډوډۍ خوړه او د خداى جل جلاله شکر به مې پرځاى کاوه او دا ته يې چې نرم او ګرم بستر هم درته د اغزيو بستر جوړ شوى. تا دا جنګ د يو تن پرخلاف نه دى پيل کړى؛ بلکې د ټول اسلامي امت پرخلاف پيل کړى. د هر حق پال په معامله کې به همدا ته قاتل، شاهد او عادل يې!!! په دې خبرې باندې ټوله نړۍ پوه شوې ده، اوس نو ته هم پردې پوه شه چې ((هر موسى ته يو فرعون اړين کار دى))، ته هم د خپل وخت فرعون يې، د وخت موسى به هغه درس درکړي چې نړيوال به يې سابقه نه وي ليدلې. بيا دنيا ته د هغه تلقين کوه، په هغه بهانه دې چې زما پر هيواد حمله کړې ده بهانه له منځه تللې ده. اوس ستا د شرمېدلو او ناکامېدلو ورځې نږدې دي؛ د نيوټن (Neoten) له دريم قانون... ((د هر عمل عکس العمل يا غبرګون مساوي؛ مګر مخالف لورى ته وي.)) ته ښه خبر يې، بيا ولې د اسلام د نړيوال پاڅون د خپلو ناکامې هڅې کوې؟! آيا نه پوهېږې چې حق هرڅومره وځپې، په هماغه اندازه ستا پر وجود باندې د واکمنې ځواک ښيي. زما د خوځښت شعارونه به يوه ورځ ستا د سپينې ماڼۍ ديوالونه ولړزوي، دا به پرله پسې عمل وي او همدا د حق لاره هم ده!!!

## يووويشتم باب

# د عراق د مقاومت راتلونکی (مستقبل)

د ملګرو ملتو د سازمان عمومي سرمنشي ((بانکي مون)) د چارو واګې په لاس کې نیولي، هغه په داسې وخت کې له کوفي عنان نه دا مسؤولیت واخیست چې دغه نړیوال سازمان له ډېرو چلنجونو سره مخ دی، دې کې شک نشته چې د ملګرو ملتو د سازمان پر کړنو د سوالیې نښه لګېدلې ده، د ا سازمان چې د کوم اوچت نصب العین لپاره منځ ته راغلی و، هغه نصب العین اوس مازې یو خوب او خیال ګرځېدلی دی او په ټوله نړۍ یو زبر ځواک (Super power) (امریکا) د ښکېلاک پنجې ښخې کړې دي، د ۲۰۰۱ میلادي کال د ۹/۱۱ له پېښو نه وروسته امریکا د تروریزم په نامه د نړۍ ټیکه دار شو؛ اوس چې پر هر هېواد یې زړه وغواړي په همدغه بهانه حمله کولای شي او شتمني یې لوټولی شي د عراق د معزول جمهور رئیس اعدامول ددې لړۍ یو کړۍ ده؛ خکه چې دا جنګ تراوسه نه دی ختم شوی او ددې جنګ نتیجه په ډېرو لږو سیمو کې هم نه ترسترګو کېږي. په دې ټولو



The New York Times

DAM HUSSEIN HANGED IN BAGHDA

VIFT END TO DRAMA; TROOPS ON AL

Witness Says He 'Ca

— Guilty in 148 De

HUSSEIN EXECUTED — AND IRAQ BRAC

Violence marked

د نیویارک تایمز د ورځپاني انځور

حالاتو کې د ملګرو ملتو د سازمان حیثیت د یو تماشایي په شان و. هغه هېڅکله هم د یو هیواد د ستونزو او لانجو د حلولو لپاره بې پرې قضاوت ونشو کړای؛ مګر ددې پرعکس د امریکا د هرې خبرې جارچي او اغېزمن مامور وګڼل شو. د امریکا هره خبره یې پرنورو وتپله او په دې لاره کې یې د امریکا مرسته وکړه او لا یې کوي. له همدې لامله دغه سازمان اوس خپل نړیوال اعتبار له لاسه ورکړی. د کوفي عنان په وخت کې د عراق او افغانستان حالات دومره خراب شول چې دواړه هیوادونه د کورنیو جنګونو بټیو ته تیل وهل کېږي... صدام حسین یې د لوی اختر په ورځو کې پر سولی وخېژاوه او په دې هیوادو کې یې حالات لاخراب کړل.


ملګري ملتونه د یوې نړیوالې ادارې په توګه ونشوای کړای چې پر بین المللي قوانینو باندې عمل یقیني کړي، ټوله نړۍ پردې پوهېږي چې د صدام حسین پرخلاف کومه مقدمه وچلول شوه او هغه ته پانسي ورکړی شوه، دا ټول د امریکا په اشاره او مشوره وشوه، په دې ټوله معامله کې ملګری ملتونو د چوپ تماشاګر رول ترسره کاوه. همدارنګه د ایران په اتومي پروګرام کې هم دا تعطل پرخپل ځای دی، وجه یې دا ده چې امریکا پر دغې ادارې باندې دومره فشار اچوي چې اوس هر کار کوي د امریکا له غوښتنو سره سم یې کوي او د ملګرو ملتو اداره د امریکا په وړاندې بې وسه ده. اسرائیل د لبنان پرخلاف جګړه پیل کړه، کلي او کورونه یې بمبار کړ او بې وس وګړي یې ووژل، په فلسطین کې یې پر خلکو د ظلم غرونه راکوز کړل، مګر د ملګرو ملتونو تش په

نامه اداره د اسرائیلو پرخلاف یو تقبیحي قرارداد هم منظور نشوای کړای، که چېرې په رسمي توګه تقبیحي وړاندیز وشو د امریکا له خوا ویټو شو.

د ملګرو ملتونو اداره د کوفي عنان په وخت کې، د یوې بې واکې ادارې بڼه غوره کړه، داسې کوم اقدام یې ونشوای کړای چې ددې ادارې د اهدافو په لور کوم عملي ګام وي. د عراق او افغانستان په جنګونو کې کوفي عنان ونشو کړای خپل رول ترسره کړي او د یو بې وسې انسان په توګه یې د تباهي صحنې یو په بل پسې وکتلې او بس؛ له همدې لامله د ملګرو ملتونو د ادارې وقار ژوبل شو او ددې ادارې د اهدافو او جوړېدو په باب پوښتنې راولاړې شوې. د کوریا د اتومي مسئلې په تعطل کې چې امریکا کوم دریځ ونیوه، د هغه په نتیجه کې هېڅ پرمختګ ونشو، بلکې شمالي کوریا نورې اتومي تجربې هم وکړې. په دارفور کې د موجود بحران په باب ملګري ملتونه چوپ دي، کوفي عنان په ډېرو مهمو مسایلو کې چې مستقیماً یې په ده پورې اړه درلوده، ځان یوې خوا ته کړه او د هغه په پایله کې د ملګرو ملتونو ټولې چارې د امریکا د پالیسیو تر سیورې لاندې راغلې او ټول کارونه د هماغې تر پالیسیو پورې محدودې پاتې شوې. په دغسې حساسو شېبو کې «بانکي مون» د ملګرو ملتو د عمومي منشي توب منصب سنبالوي. د بانکي مون بې پرېتوب هغه مهال ممکن دی چې د ملګرو ملتو حقیقي رول او واقعي وقار بېرته اعاده شي او د نورو د غلامۍ له ځنځیر نه آزاد شي. که څه هم په اوسنیو حالاتو کې په

دې جهت کې هڅې رواني دي؛ خو لاتراوسه یې کومه نتیجه نه ده ورکړې، خو پر بانکي مون اوس هم د مسؤولیت د روند پیټي پروت دی چې د ملګرو ملتو ټولنه له سره هماغسې فعال کاندي چې د هغه اهداف یې تقاضا کوي او په دې توګه د دغو اغېزمنو فعالیتونو په لړ کې له ټولې نړۍ نه د جنګونو او شخړو سلسله ختمه کړي. د دې کار لپاره ضروري ده چې د امریکا په وینو لړلې پنجې د ملګرو ملتو نه له ستوني لرې کړی شي او هلته د امریکا باداري پای ته ورسېږي. نن سبا د ملګرو ملتو وظیفه دا ده چې د منځني ختیځ بحران، په ایران کې د اتومي پروګرام مسئله، له شمالي کوریا سره مذاکرات، په افغانستان کې د امن او ثبات اعاده، په عراق کې د جنګ پای ته رسول او په کشمیر کې د هندوایزم ظلم او جبر، داسې مسألې وڅېړي او د حل په جهت کې یې نړیوال او کوټلي اقدامات وکړي. دا چې د دې بې پرېتوب په نتیجه کې بانکي مون د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په توګه د بري څومره چانس لري، دا په خپله د هغه په استعداد او د ملګرو ملتونو د غړو هیوادونو په عزم او تصمیم پورې اړه لري او راتلونکی وخت به یې شهادت ورکوي؛ مګر په اوسنیو شرایطو کې د بانکي مون مسؤولیتونه لازیات شوي دي، هغه کولای شي چې د ملګرو ملتونو د سازمان حیثیت اعاده کاندي او په ټوله نړۍ کې امنیت راوستلای شي.

له بله پلوه د صدام حسین د پانسې کولو ویډیو فلمونه په ټوله نړۍ کې غوغا جوړه کړې او هرچېرته د مظاهرو لړۍ روانې



د محاکمې د خونې یوه انځور. هلته چې صدام حسین ته یې د مرګ سزا واوروله

دي په دې لړ کې امریکا وایي چې د صدام د پانسي کولو مسؤول عراق دی؛ ځکه چې امریکایي پوځ د صدام د پانسي ورکولو په مقام کې د عراق پولیسو ته وظیفه ورکړې وه چې اوضاع وڅاري او د موبایل ټیلفونونو او نورو څیزونو د تلاشي او پلټنې چارې یې هغوی ته سپارلې وې....

په بغداد کې د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې چې د ویډیویي فلمونو د تحقیق په اړه جوړ شوی و، د امریکایي پوځ ویاند ډګر جنرال ویلیم کلاډویل ویلي وو چې صدام ته د پانسي ورکولو فیصله موږ نه وه کړې؛ بلکې موږ د هغې پرخلاف فیصله کړې وه چې تر صدام ته پانسي ورکړی شوه. د هغه ځای د پاکلو او امنیت مسئلې په موږ پورې هېڅ اړه نه لري. هغه زیاته کړه چې دامریکایي پوځ وظیفه دا وه چې صدام یې تر زندانه پورې ورساوه. هلته چې د سپېده دم پرمهال هغه ته پانسي ورکول کېده، له هغه نه وروسته د امریکایي پوځ ټول افراد له هغه چاپېریال نه ووتل او هغه ځای یې تخلیه کړه. دا چې عیني شاهد څه ډول په موبایل ټیلفون کې د صدام د پانسي صحنې ثبت کړې او بیا نشراتي ادارو ته سپارلي په دې اړه موږ هېڅ مسؤولیت نه لرو. هغه زیاته کړه چې د زندان په منځ کې امریکایي پوځ د عیني شاهدانو د تلاشي کولو مسؤولیت نه لري.

په دې وخت کې د عراق د صدراعظم مشاور وویل چې په موبایل کې د صدام د پانسي کولو ویډیو جوړوونکی مسؤول شخص نیول شوی دی. دنوری المالکی مشاور په دې شرط دا

خبره وکړه چې په خبر کې به دده نوم نه راځي او زیاته یې کړه چې هغه میډیا ته د خبرو اجازه نه لري. د نیول شوي سړي نوم او معرفت افشا نشوه؛ مګر دومره یې وویل چې هغه د عراق د حکومت یو مامور دی چې د پانسي ورکولو د چارو سنبالول یې پر غاړه وه، اوس ترې تحقیق کېږي. د صدراعظم مشاور وویل چې د ویډیو فلم له خپرېدلو نه څو ساعته وروسته نوموړی سړی نیول شوی دی. د عراق په رسمي تلویزیون کې چې د اعدام کومې صحنې وښودل شوې، په هغه فلم کې آواز نه و او نه یې د صدام د مرګ د حالت فلم یې وښود؛ مګر کله چې د عیني شاهدانو له جملې نه د یو تن نوموړی فلم افشا شو په هغه کې یې د اعدامولو صحنې هم وښودلې او پر صدام باندې ملنډې او طنزي جملې هم واورول شوې. یو عیني شاهد ورته وویل چې «جهنم ته لاړ شه!» دا صحنه الجزیره تلویزیون نشر کړه او پر انټرنیټ یې هم وښوده چې د هغې په نتیجه کې په ټوله نړۍ کې د غم او غصې یو توپان پورته شو او عراقي سنیانو احتجاجي مظاهرې پیل کړې. نوري المالکي د داخلي چارو وزارت ته وظیفه ورکړه چې ددې ویډیو فلم په باب تحقیق وکړي. دا فلم چا جوړ کړ، او څرنګه راډیو تلویزیون او د انټرنټ ویب سایټونو ته ورسېده، په دې اړه به پوره تحقیقات او څېړنې کېږي. د پانسي په ورځ باندې چې لوی څارنوال په خپله هم د پانسي په ځای کې موجود و، ددې خبرې تردید وکړ چې هغه د ملي امنیت مشاور توفیق الربیع د ویډیویي فلم په معامله کې تورن کړی دی. په دې دوسیه کې د استغاثې یو بل وکیل منقیت الفاروق



د صمد ا ر حسن یو یادگاری تصویر

وویل چې ما پر توفیق الربیع باندې هېڅ تور نه دی پورې کړی، او نه مې هغه لیدلی چې نوموړی صحنې ثبتوي، هو! ما دوه تنه دولتي کارمندان لیدلي چې ددغې صحنې فلم به یې جوړاوه او پردغه مهال یې هغه برقي څراغونه لګولي وو چې په رڼا کې یې فلم اخیستل کېږي. الفاروق وویل: هغو دولتي وګړو چې د صحنې د فلمولو لپاره مامور شوي وو د هغوی نومونه نه پېژني، مګر که د هغوی څېرې وګوري پې یې ژني. د استغاثې وکیل وویل چې د الجزیرې تلویزیون کامره من په خلاص لاس نوموړی صحنې فلمولې او همدغه فلم د الجزیرې تلویزیون په چینل کې هم وښودل شو.

د نیویارک تایمز په رپوټ کې ویل شوي دي چې الفارون وویل چې په هغو دوو کسانو کې د یو په لاس کې موبایل ټیلفون و چې د صدام حسین د ژوند وروستی پړاوونه ثبت کړي او د پردې ترشا چې کوم شخص و هغه موفیق الربیع و چې د ښاغلی مالکی امنیتي مشاور دی. په وروستیو شېبو کې دا وویل شو چې کوم سړی مقتدی، مقتدی، مقتدی وایي چې د مقتدی الصدر خواته صریحه اشاره ده.

د امریکایي پوځ جنرال کلد ډویل په بغداد کې د یو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې د صدام د شخصیت په اړه په زړه پورې خبرې وکړې. هغه وویل چې صدام حسین تر درېو کلونو پورې د امریکایي پوځ تر څارنې لاندې د زندان شپې سبا کولې. هغه تل د نیکو اخلاقو څرګندوی و. هغه د وقار خاوند، هغه د اسارت په دوران کې له هرچا سره اخلاقي رویه کوله....



د عراق پخوانی جمهور رئیس صدام حسین. د فلسطین له مشر یاسر عرفات سره په یو یادګار انځور کې

کلاډویل وویل: صدام حسین خبر و چې هغه اوس د څو ورځو مېلمه دی. له لمر خاته نه یو ساعت مخکې د امریکایي پوځ یو هیلي کوپټر راغی او صدام حسین یې د بغداد په شمالي سیمه کې واقع الخادمیه نومي زندان ته چې د عراقي پوځ تر څارنې لاندې دی ولېږداوه. صدام ته د محاکمې له جریان نه څرګنده شوې وه چې هغه ته د همدغو قوانینو له مخې پانسي ورکوي او تردې وروسته به د چا ترشکنجې لاندې نه وي. هغه وویل چې صدام حسین د دوستانه احساساتو خاوند او د ښو اخلاقو لرونکی و. دا هغه شخصیت و چې یو وخت به امریکا ورسره مرسته کوله!!! او بیا همدغه امریکا د غدار تور پرې پورې کړ او د ټولو بدو چارو محور یې وباله.... په زندان کې د صدام معالجو ډاکترانو وویل: صدام مرګ ته ځان چمتو کړی و او هغه د کومې ناروغتیا شکایت هم نه کاوه. په وروستیو وختو کې یې د زندان بوټي پالل، کوترو ته به یې دانې ورکولې او په دې توګه یې خپل وخت تېراوه.... د منځنې ختیځ په شمول د سیمې حالات ترینګلي دي، امریکا او اسرائیل پر خپلو پټو پلانونو باندې ورو ورو عمل کوي. دا معامله یوازې په عراق کې نه؛ بلکې په فلسطین او شاوخوا سیمو کې روانه ده او امریکا او اسرائیل د خپلو پلانونو په عملي کولو کې مشغول دي. هغوی ددې پلانونو د عملي کولو لپاره هرڅه کولو ته تیار دي. په عراق کې چې کوم بهیر روان دی ټولو ته پته ده چې هلته انسانان او د هغوی ژوند هیڅ اهمیت نه لري او په ډېر بې رحمانه ډول انسانان وژل کېږي. د سلګونو وګړو د تښتولو او وژلو

خبره د ورځې معمول ګرځېدلی، خلک وژل کېږي، خو اتحادي پوځونه فقط د تماشاګرانو رول ترسره کوي او ان په ځينو وختونو کې همدغه پوځيان پر بې وسلې مظلومو خلکو ګولۍ وروي سپين ږيري، ښځې، ماشومان او ځوانان ډلې ډلې وژني، همدغه پوځ دی چې په عراق کې د سني او شيعه ترمنځ د اختلافاتو اور ته لمن وهي، ځکه چې دوی پوهېږي چې ددوی د بري چانس په همدې کې دی، امريکا خو خپله هڅه کوي چې په سيمه کې ټاکلي اهداف ترلاسه کړي، مګر د هغوی بری لا هماغسې يو خوب دی او ترلرې لرې سيمو پورې هم نه ترسترګو کېږي. چېرته چې د عراق د اولس د وژلو سلسله جاري ده، هلته امريکايي پوځيان او د هغوی د اتحادي ملګرو غړي هم وژل کېږي. دغه پوځيان هم تښتول کېږي تېيان کېږي او روغتونونو ته بيول کېږي. له دې سره سره د امريکا جمهور رئيس جورج بش اوس هم په دې موډ کې نه دی چې د عراق په اړه خپله پاليسي بدله کړي، هغه په هر قيمت هلته د خپلو ګټو د ترلاسه کولو په فکر کې دی. ددې اهدافو د تحقق لپاره هغه دې ته هم تيار دی چې هلته امريکايي پوځيان ووژل شي؛ مګر د صدام له اعدام نه وروسته يې فکر يې پرځای شوی او اوس په دې سوچ کې دی چې هلته پر خپلې کړنلارې بيا کتنه وکړي. هلته په عراق کې دوی د هغه اولس د استثمار (زبېښاک) کار پيل کړی او يهودانو ته يې هم خلاص مټ ورکړی چې فلسطينيان استثمار کاندي، اسرائيل وهڅوي چې په فلسطين کې د خلکو منتخب حکومت کار ته پرې نږدي. اسرائيل هڅه کوي

چې د فلسطين د حکومت واجب الادا کلنۍ ماليات ودروي، مامورينو ته معاش ونه رسېږي او خلک د يوې دانې غلې په لټه کې سرګردان وي. اوس هلته په اسرائيلو کې د هغه هيواد ستره محکمه پوځ ته د فلسطين د خلکو د وژلو فتوی هم ورکړې ده. اسرائيل هڅه کوي چې د اسماعيل هانيه او جمهور رئيس محمود عباس ترمنځ چې د حماس او «فتح» مشران دي اختلافات او واټن زيات کړي او خپلې ګټې وپالي. اسرائيلي حکومت پرې نښود چې اسماعيل هانيه غزې ته ورشي، دا هغه مهال و چې د بهرنيو هيوادو له سفره وروسته بېرته خپل هيواد ته راتلو. اسرائيلو ته دا شک پيدا شوی چې هغه په سلګونو زره ډالر له ځان سره راوړي دي چې د فلسطين اقتصادي کلابندي بې اغېزې کړي. دا د اسرائيلو ظالمانه دريځ دی؛ مګر هغه امريکا چې نن په ټوله نړۍ کې د بشري ټولنې د حقوقو د ترلاسه کولو راګ غږوي، د اسرائيلو د همدغه ظالمانه دريځ تاييد او پلوي کوي. دې ته نه ګوري چې فلسطيني اولس د غذا او دوا د نه ميندلو له لامله په کوم حالت کې دي؛ امريکا او اسرائيل دواړه په سيمه کې د خپلو ګټو لپاره د خلکو پر ژوند او شتمنيو لوبې کوي. هغوی ددې کار لپاره اوږدمهاله پلانونه لري او د هغو د تطبيق لپاره هرڅه کولو ته تيار دي. ددې خبرې څرګند ثبوت دا دی چې څو ورځې مخکې اسرائيلو اعلان وکړ چې اتومي وسلې لري، اسرائيل غواړي چې ددې اعلان په ترڅ کې د سيمې هيوادونه تر خپلې اغېزې لاندې راولي، په داسې حال کې چې ټول هيوادونه لا له پخوا په دې


پوهېږي چې اسرائیل یو اتومي ځواک دی او په خپله امریکا د هغه د اتومي پروګرام په بشپړولو کې لوی لاس لازه. د منځني ختیځ حالات دومره ترینګلی دي چې هره شېبه یې د ګډوډۍ امکان شته دداسې ګډوډۍ چې کنترول به یې د هېچا د وسې کار نه وي. د ملګرو ملتونو د نړیوالې ټولنې وظیفه دا ده چې په سیمه کې د امریکا او اسرائیلو مخه ونیسي او په سیمه کې د خلکو د اړینو ستونزو د حلولو لپاره اقدامات وشي. په فلسطین کې د ماشومانو او ښځو بد حالت د زغملو نه ده، هلته خلک دوه وخته ډوډۍ او لازمي درمل ته ضرورت لري چې هغه هم نه وررسېږي او حکومت دومره له پښو لوېدلی چې خلکو ته په ۲۴ ساعتو کې یو وخت ډوډۍ هم نشي ورکولای. د عربو هیوادونو دا شرعي تکلیف دی چې د خپلو فلسطیني ورونو مرسته وکړي او د یهودانو او امریکایانو د استعماري قوتونو په وړاندې سره یو موټی شي او پرې نږدي چې دغه د نړۍ د اسکیرلو وګړو قصابان تردې زیات لا د خلکو په وژلو کې برلاسي ولري، او که داسې نه وي نن سبا نور هیوادونه هم د فلسطین په برخلیک اخته کېدای شي ځکه. امریکا وي یا اسرائیل یو هم د مسلمانانو دوست نشي جوړېدای، د هغوی دا قاعده ده چې د یو مسلمان هیواد د دوستۍ په بهانه بل مسلمان هیواد تر پښو لاندې کوي او ترهغه یې مروړي چې نور د تنفس ځواک هم له لاسه ورکړي....

د عراق صدراعظم نوري المالکي نه غواړي چې د دوهم ځل لپاره د هغه هیواد جمهور رئیس وټاکل شي، هغه غواړي چې د

خپل ماموریت د میعاد له بشپړ کېدو نه مخکې له کاره گوښه شي. (د امریکا او اسرائیلو له پلان سره سم وروسته همدغسې وشو اسماعیل هانیه له کاره گوښه کړای شو د فتحې او حماس ترمنځ خونړۍ نښتې وشوې او اسرائیل اوس په خلاص مټ د محمود عباس مرسته کوي) هغه وايي چې په هیواد کې د روانو متشددو بهیرونو له لامله ډېر غمجن دی، هغه وال سټریټ جرنل ته په یوه مرکه کې د یوې پوښتنې په دوران کې ویلي دي چې د دوهم ځل لپاره د عراق د صدراعظم په توگه هېڅ ډول مکلفیت نشي منلای، واضحه خبره ده چې د ماموریت میعاد یې څلور کاله ده؛ مگر په هغه کې نور هم تخفیف راتلای شي. هغه په عراق کې د موجودو شخړو په وړاندې د امریکا او عراق پر پوځ دا تور ولگاوه چې هغوی په دې معامله کې ډېر سست دي او ورو ورو مخ په وړاندې ځي، په اوس مهال کې د امریکا جمهور رئیس جورج بش اعلان کړی دی چې په عراق کې به د امریکایي پوځیانو په شمېر کې زیاتوالی راولي او هلته به نور پوځ هم لېږي. د صدام حسین له پانسي کېدو نه وروسته هلته په عراق کې مذهبي تشدد زیات شوی، د صدام حسین د پانسي کولو ویډیو هم په پټه خپره شوې ده. نوري المالکي هم شیعه ده، هغه وايي چې د عراق حالات ضرور خراب دي؛ مگر هېڅکله د کورنیو جنگونو ښکار شوي نه دي؛ په دې معنا چې لاتراوسه په عراق کې کورني جنگونه نه دي پیل شوي. هغه وویل: په عراق کې چې څه کېږي هغه د یوې ډلې تروریستي جنگ دی چې د مقابلې لپاره یې ځواکمن پوځ ته اړتیا

لیدل کېږي، ددې تروریستي جنګ د مقابلې لپاره اړین دي چې قوماندانانو ته ډېر اختیارات ورکړ شي.


د ملګرو ملتونو نوی عمومي منشي بانکي مون د خپلو پلټنو په لومړي ورځ کې په یوه مسئله کې ګیر پاتې شوی دی؛ مبصرین وایي چې د صدام حسین د پانسي کولو په اړه د ملګرو ملتونو دریځ ښکاره نشو (او د بانکي مون څېره لاپه دې هکله مغشوشه ده) ښایي دا ټکی واضح کړو چې کله بانکي مون د صدام حسین د اعدامولو په اړه خبرې کولې د خبریالانو د پرله پسې غوښتنو سره سره یې په دې اړه خپل دریځ ونه ښود اوویې نه ویل چې صدام ته د مرګ د سزا ورکولو پرخلاف دی، له هغه نه وروسته د مطبوعاتي کانفرانس په دوران کې مایکل مونتهاس د بانکي مون ویاند له ډېرو پوښتنو سره مخ شو. د ورځپاڼو او نورو خبري رسنیو خبریالانو ته یې دا غوښتل چې آیا د صدام د مرګ په سزا باندې د ملګرو ملتونو په پالیسیو کې کوم بدلون راغلی دی؟ ښاغلی موتهاس وویل چې په دې باب د ملګرو ملتونو په پالیسیو کې کوم بدلون نه دی راغلی؛ مګر په دې اړه دی هم چوپه خوله پاتې شوه چې آیا دی په خپله هم ددې سزا پرخلاف دی که نه؟ له خبریالانو سره د ښاغلي بانکي مون دا لومړی ملاقات و، هغه د صدام حسین د پانسي پرخای د هغه د ظلم او ستم داستانونه اورول پیل کړ او ویې ویل چې دا د ملګرو ملتونو د سازمان د هر غړي هیواد وظیفه ده چې د هریو قانون انساني اړخ په نظر کې ونیسي دا خبره پر هغه مهال تر بحث لاندې راغلې چې د ملګرو ملتونو پخوانی



دعراق پخواني جمهور رئيس صدام حسين د کابينې د غونډې په راس کې

عمومي منشي کوفي عنان د صدام د پانسي کولو سخته غندنه وکړه.....

په داسې حال کې چې ښاغلي مون وويل: صدام حسين پر خپل اولس ډېر سخت ظلمونه وکړ، داسې ظلمونه چې د الفاظو په قالب کې نه راځي. هغه وويل چې نه ښايي موږ د صدام حسين د ظلمونو له لاسه سني وګړي هېر کړو. د ملګرو ملتو نوی عمومي منشي بانکي مون د عراق پرتشکيلاتي اصلاحاتو ټينګار وکړ او ويې ويل چې د ملګري ملتونو په شان اداره کې د نړيوالو د غوښتنو د پوره کولو لپاره هلته په عراق کې نويو اصلاحاتو ته سخته اړتيا ده. هغه د خپلې دندې په لومړۍ ورځ د ملګرو ملتو مامورينو ته وويل: چې هغوی دې ددې نړيوالې ادارې د لافعالولو په برخه کې ورسره مرسته وکړي چې د نړيوالو غوښتنه پوره کړای شو، هغه وويل چې موږ د پرمختګ په اړه دا عقيده لرو چې په تسلسل او پرله پسې توګه ترسره شي او ښايي نړيوالو ته ووايو چې موږ تيار يو او د بدلون غوښتونکي يو.



صدام حسین د محاکمې خونې ته را وستل کیږي

**دوه ویشتم باب**

# د عراق راتلونکی (مستقبل)

په عراق کې د مخالفو مذهبي ډلو تپلو د تشدد بازار ګرم دی؛ خو په دغسې حالت کې هم د عراق په کابینه کې ځینې شیعه وزیران پردې تینګار کوي چې عراق تجزیه شي. په واشنګټن کې هم ځینې مهم شخصیتونه دا خبره کوي چې آیا د عراق د یوموټي کېدلو لپاره په مستقبل کې امکان شته؟ «له یو عراق نه درې غوره دي.» دا مقوله له ډېرو ورځو راهیسې اورول کېږي؛ البته اوس دا خبره په امریکا او عراق کې له یو نوي ولولې سره ویل کېږي. د شیعه او سني وګړو وژل کېدل (یا یوبل وژل) دا تصور نور هم پیاوړی کوي. عبدالعزیزحکیم د شیعه و مشهور مشر او لاربنود د هغه شیعه میشتي سیمې لپاره کار کوي چې هلته تر ټولو سیمو زیات د تیلو وسایل موجود دي. یو پخوانی عراقي مامور چې اوس یې عراق پرېښی یوې خبري ادارې ته د خپل نوم د نه نشرولو په شرط وویل چې عراق یې د یو سیاسي پلان له مخې پرېښی دی. خو ډېر شیعه مشران د عراق د یووالي لپاره کار

کوي، مګر د ښووني او روزنې وزیر چې هغه هم شیعه دی وایي چې دولت د عراق د هشت ځیلی سیمې له هغو سیمو نه پیلوي چې هلته پرمختګ روان دی او تعمیري چارې پرمخ ځي. د بېلو شوو سیمو نه مقصد د بغداد شمال او لوېدیځ دی چې هلته تول سنیان میشت دي او هغه سیمې چې مخ په ترقي دي د کردانو شمالي او د شیعه ګانو جنوبي سیمې دي. په امریکا کې یو پخواني سفیر پیټر ګالبریت ((د عراق پای)) په نامه یو کتاب لیکلی، هغه ویلي دي چې عراق له پخوا مات شو او امریکا سوپر پاور (زبرځواک) یې هم اوس بېرته نشي جوړولای. یو سابقه دار دیموکرات سناتور فرزن بیډن هم د عراق د ویش پلوي کوي. له بله پلوه د عراق د تجزیې مخالفین هم ډېر دي. هغوی وایي چې که چېرې عراق وویل شي په تروریستي عملیاتو کې به تېزوالی راځي او تشدد به ډېرېږي او ضروري نه ده چې د عراق د ویشاک پر مهال هلته ثبات رامنځ ته شي. د هغوی په عقیده کردان په شمال کې او شیعه په جنوب کې د تېلو پر منابعو ولکه کوي چې په نتیجه کې به سنیان له فقر او تنګسې سره لاس او ګریوان شي.

د یو موټي متحد عراق لپاره خورا ستر خطر ایران، سوریې، سعودي او ترکیې له پلوه هم متوجه دي. هغه خبره چې د کردانو د زړه راښکون سبب ګرځي اړین نه دې چې د عراق لپاره هم هماغسې وي. د عراق راتلونکی په مځکني حقایقو او پېښو پورې منحصر دی نه د سیاست مدارانو په بیانیو او څرګندونو پورې. د عراق جمهور رئیس جلال طالباني ویلي دي چې که چېرې ایران او

سوریه په عراق کې د ثبات د راتلو په جهت کې کار وکړي، نو په هیواد کې جاري ترینګلی حالت به په میاشتو کې پای ته ورسېږي. د عراق جمهور رئیس له بي بي سي سره په خبرو اترو کې وویل چې که چېرې ایران او سوریه د عراق د امنیت په هڅو کې شامل شي؛ نو دا به په عراق کې د تروریستي عملیاتو د پای ته رسېدو پېلامه ثابت شي. په دې نږدیو کې د عراق په وضع کې د استحکام او ثبات د راوستو لپاره د ایران او سوریې شمولیت د امریکایي کارپوهانو په هغه ګردي مېز کې هم ترڅېړنې او بحث لاندې راغلی دی چې د هغه مشري د امریکا د پخواني خارجه چارو وزیر جیمز بېکر پرغاړه ده. د همدې ګردي مېز په ذوران کې دا هم په ګوته شوې چې په عراق کې د امریکایي پوځونو پاتې کېدل د جاري وضعې په سنبالولو کې مرسته نشي کولای.

د بي بي سي له قوله ویل شوي دي چې جیمز بېکر چې په تېره خلیجي جګړه کې د امریکا د خارجه چارو وزیر و د عراق پر حالاتو غمجن دی؛ مګر د عراق جمهور رئیس جلال طلباني ویلي دي چې هغه په دې اړه هېڅ فکرمن نه دی چې د جیمز بېکر ګردی مېز له عراق نه د امریکایي پوځونو د ویستلو خبرې کړي؛ هغه د بي بي سي «جیم میور» ته وویل: «زه پردې عقیده یم چې له عراق نه د ژر وتلو فیصله به هېڅوک نه کوي. د جېمز بېکر کمیسیون پردې غور کوي چې د عراق په اړه د امریکا په سیاست کې بنسټیزو بدلونونو ته ضرورت دی. هغه ضربتي یا خاص څواکونه چې د امریکا کانګرس په عراق کې د امریکا د اغېزې او نفوذ په باب

خبرې پرې کړې وې، پر دوو امکاناتو غور کوي چې د جمهور رییس بش د پالیسیو پرعکس دی، جیمز بېکر تراوسه پورې پردې خبرې ټینګار کوي چې د هغه ګردی مېز تراوسه د عراق په اړه حتمي فیصله نه ده کړې؛ مګر په اوسنیو مرکو کې چې تلویزیوني چینلونو سره یې لرلی؛ دې ټکي ته اشاره کړې چې د هغه نوموړی کمیسیون په دې باره کې پوره غور کوي؛ هغه د ABC تلویزیوني چینل ته په مرکه کې وویل: زموږ د کمیسیون عقیده ده چې د عراق په اړه د امریکا د اعلان شوي پالیسي علی البدل شته، دلته د انګلستان صدراعظم ټوني بلیر وویل چې له عراق او افغانستان څخه اتحادي پوځونه ترهغه پورې نشي راتلای چې هلته یې خپل اهداف نه وي ترسره کړي.

د ملګرو ملتونو د مهاجرینو کمشنرۍ له قوله ویل شوي دي چې په عراق کې د تشدد او جنګ له امله ورځ په ورځ د عراقي مهاجرینو په شمېر کې زیاتوالی راځي او په زرګونو تنه عراقیان خپل هیواد پرېږدي او نورو هیوادو ته ځي. د ملګرو ملتو د مهاجرینو د سازمان UNHCR له قوله هم ویل شوي دي چې لویدیځ ته د سیاسي پناه اخیستلو لپاره د عراقي اوسېدونکو په شمېر کې هم ورځ په ورځ زیاتوالی راځي. همدارنګه د عراق په دننه کې هم د سیمه ایزو کډوالو شمېر زیات شوی چې په دې کال کې درې لکه او پنځه شپېته زره (۳۶۵۰۰۰) کسانو په خپل وطن کې له خپلو کورونو بې ځایه شوي دي. له دې رپوټ نه مخکې د عراق حکومت اټکل کړی و چې له فبرورۍ نه تراوسه پورې درې لکه تنه

عراقیان د خپلو کورونو پـه پرېښودو مجبـور شوي دي. د فبروري په میاشت کې سني مقاومت کوونکو شیعه ګانو پر مزارونو بمي حملې کړې وې، لـه دې پېښـې نـه مخکـې UNHCR د جلاوطنو عراقیانو د بېرته راتګ او بیا رغونې لپاره او همدارنګه پـه عراق کې د بهرنیانو د مرستې لپاره کار پیل کړی دی.

د UNHCR له څرګندونو سره سم تېر کال نږدې پنځوس زره تنه جلاوطنه عراقیـان له نږدیو هیوادونو خپل هیواد ته ستانه شوي دي. په داسې حال کې چې سږ کال ددوی شمېر لـه زرو تنو نـه وانـه ووښت. د UNHCR دویانـد رون ریډمنـد Rounreadmond لـه قولـه ویـل شوي دي چې هره ورځ دوه زره تنه عراقیـان سوریې تـه اوړي چې په میاشت کې د هغوی شمېر شپېتو زرو تنو تـه رسېږي. د آژانس له قوله سره سم کوم عراقیان چې اردن او سوریې ته ځي د هغوی اندراج نه کېږي (نومونه یې نه ثبتېږي) چې لـه همـدې لاملـه هغو دوو هیوادو ته د ورغلو مهاجرینو شـمېر پـه سهي توګـه نشـي ترسـره کېـدای. سـربېره پـردې عراقیـان، ترکیـه، لبنـان، مصـر، خلیجي هیوادو او اروپا ته هجرت کوي.

## عراق یو اسلامي هیواد

له بله پلوه د عراق خورا لوی سني اسلامي ګونـد ((د مجاهدینو شوری)) په عراق کـې د اسـلامي نظـام اعـلان کـړی دی او ویلـي یـې دي چې عراق یو اسلامي هیواد دی. خلیج ورځپاڼې ددې خبـرې پـه تفصیلاتو کې وایي چې د مقاومت د ګوندونو او قبایلي مشـرانو د

اتحاد په نتیجه کې حلف الطیبین (د سپېڅلو وګړو اتحاد) منځ ته راغی او دوی په عراق کې د اسلامي هیواد د منځ ته راتګ اعلان اعـلان کړی او د نوی دولت نوم یې ((دولت العراق الاسلامیه) ایښی. حلف الطیبین د اتو ګوندونو: جیش الفاتحین، جند الصحابه، انصارالسنه او نورو قبایلي ګوندونو نه چې قبایلي مشران یې رهبري کوي مشاورتي ټولګه ده. دوی د خپل د یووالی او اتحاد په نتیجه کې د اسلامي هیواد د جوړولو فیصله وکړه. ددې ګوندونو په یوه اعلامیه کې ویل شوي دي چې موږ د عراق په ۲ شپږو ولایاتو او څو ښارونو کې اسلامي هیواد جوړ کړی دی. اسلامي هیواد په بغداد، الانبار، دیالي، کرکوک، صلاح الدین او نینوا ولایاتو کې جوړ شوی. سربېره پردې بابل ښار او اواسط ښار هم په دې اسلامي ملک کې شامل دي. په مطبوعاتي اعلامیه کې ویل شوي دي چې د هغو ولایاتو د اوسېدونکو له غوښتنې سره سم مو هلته اسلامي قوانین نافذ کړي دي.

د اسلامي هیواد ویاند په یو ویډیو فلم کې وویل چې د مالکي ګوډاګي حکومت د امنیت په ټینګولو کې ناکام شوی دی او نن سبا د هغو مسلمانو ملیشو په عامه وژنه کې مشغول دي چې د امریکا په اشاره ګډېږي. له بله پلوه په عراق کې د امریکا لاسپوڅی حکومت د عراق د تجزیې لپاره د خودمختارو حکومتونو د جوړولو یو قرارداد پاس کړی دی. هغه له امریکایانو سره ملګری شوی په شمال کې خپل مملکت جوړوي، په داسې حال کې چې په جنوبي عراق کې مالکی د خودمختارو حکومتونو د قرارداد پاسولو

په ترڅ کې عراق عملاً په درې برخو وویشه او دا ټول د هغه د یوې توطیې په نتیجه کې شوي دي. د اسلامي هیواد ویاند وویل: په دغسې حالاتو کې پر مجاهدینو واجب و چې د عراقیانو د مصونیت او په هیواد کې د امنیت د تأمین لپاره اسلامي مملکت اعلان کړي چې په دې توګه د شهیدانو قرباني بې ځایه لاړ نشي او نه په هیواد کې د وینو بهولو او ورانیو فتنه پاتې شي.


د بي بي سي (عربي) چینل له خبر سره سم ویاند وویل چې موږ مسلمانانو ته زیری ورکوو چې موږ د عراقي اولس د مصونیت لپاره داسې اسلامي دولت جوړ کړی چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و سلم مدینې منورې ته د هجرت په دوران کې اسلامي مملکت جوړ کړی و. د اسلامي مملکت د جوړولو د هدف د توضیح کولو په دوران کې هغه وویل چې د امارت جوړول او د اسلامي نظام د نفاذ لپاره جد و جهد پر هر مسلمان واجب دی. په مطبوعاتي اعلامیه کې ویل شوي دي چې د امارت جوړول واجب او ددې فریضې نه غفلت کبیره ګناه ده. پیغمبر صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي چې که چیرې د مځکې په هره ګوښه کې که څه هم درې تنه مسلمانان وي، نو پر هغوی واجب دی چې خپل یو تن امیر وټاکي. د اسلام پیغمبر صلی الله علیه و سلم د ټولو اهل کتابو د شومو دسیسو سره سره له مکې نه مدینې ته هجرت وکړ او هلته یې اسلامي مملکت جوړ کړ. نن په عراق کې هم مجاهدینو د کفارو او د هغوی د لاسپوڅو د شومو دسیسو سره سره اسلامي مملکت اعلان کړی دی.

له لندن نه په خپرېدونکي «القدس» ورځپاڼه کې راغلي دي چې په دې مطبوعاتي اعلامیه کې ویل شوي دي چې د عراق له مجاهدینو سره له هغه فلسطیني حکومت نه چې نن په فلسطین کې جوړ شوی دی زیات ځواک او امکانات موجود دي. نن نړیوال د فلسطین حکومت په رسمیت پېژندلی او له دې سره سره کله چې اسرائیل وغواړي ځوک نیولی شي او چاته یې چې خوښه شي خوشې کولای یې شي. ددې پرعکس کله چې امریکایي پوځیان زموږ سیمو ته راځي؛ نو موږ د هغوی ډېر کسان د هغوی په وینو کې لمبوو او بېرته یې شاتګ ته اړ باسو. په مطبوعاتي اعلامیه کې امریکا ته اخطار ورکړ شوی او ویل شوي دي چې د مسلمان وینه ارزانه نه ده؛ بلکې ډېره ګرانه او قیمتي ده. که تردې وروسته چا په اسلامي هیواد کې شاملو ښارونو باندې حمله وکړه نو موږ به ورته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړو. اشغالګر پوځونه دې پوه شي چې بغداد زموږ دارالخلافه ده او زموږ پلرونو او نیکونو جوړه کړې ده او دا په هغه وخت کې زموږ له لاسه وتلی شي چې زموږ جسدونه ټوټې ټوټې شي. په مطبوعاتي اعلامیه کې له قبایلي مشرانو او ښاریانو نه غوښتنه شوې چې هغوی دې د امیرالمؤمنین شیخ ابوعمر په لاس بیعت وکړي او ددې مملکت په لامضبوطوالی کې مرسته وکړي. ددې مطبوعاتي اعلامیې په پای کې د درستې نړۍ له مسلمانانو نه غوښتل شوي دي چې له خپلې ژبې نه تر خپلو وینو پورې زموږ مرسته وکړي؛ ځکه چې له الله جل شانه نه وروسته زموږ هیلې تاسې ته دي او تاسې زموږ د ځواک

سرچینه یاست، له همدې لامله له تاسې نه غواړو چې تاسې زموږ د مرستې لپاره پاڅېږئ او زموږ دفاع وکړئ.

په عراق کې د اسلامي حکومت له قیام نه وروسته تر ټولو ورخو پورې د امریکا حکومت او د هغه د پلویانو له خوا کوم غبرګون نه دی ښودل شوی.

ښايي ووایو چې د جهادي ګوندونو له پلوه په عراق کې د اسلامي مملکت اعلانول د امریکايي پوځ لویه ناکامي ده او د اسلامي حکومت اعلان د امریکا ټول پلانونه له خاورو سره خاورې کړي دي. امریکا غوښته چې عراق په درې و برخو وویشي، چې په نومبر کې د امریکا له انتخاباتو نه مخکې امریکايي پوځ له عراق نه بېرته وغوښتل شي، ددې پلان د تطبیق لپاره یې د عراق د حکومت په وسیله د خودمختارو حکومتونو قرارداد پاس کړ چې د هغه پر اساس کردان په شمال کې، شیعة په جنوبي عراق او سني اوسېدونکي په وسطي یا منځني عراق کې خپل حکومتونه جوړ کړي. ددې لپاره چې سنیان د خپل حکومت د جوړولو لپاره راضي کړي، نو کنډولیزارایس د امریکا د خارجه چارو وزیره سعودي چارواکو ته ویلي وو چې د عراق سني مشران دغه کار ته وهڅوي او د هغوی یو هیئت هلته وغواړي او دغه کار ته حتمي لاره جوړه کړي. سعودي چارواکو له پلان سره سم د سنیانو د یو سیاسي ګوند مشر شیخ حارث ضاري سعودي ته وباله او له هغه سره یې د ملاقات په ترځ کې دا مسئله مطرح کړه. هغوی لا د شیخ په راضي کولو اخته وو چې د عراق مجاهدینو د



په یو عربي تلویزیون کې د صدام حسین د پانسي کولو انځور ښیي

اسلامي مملکت د جوړولو اعلان وکړ، په دې توګه د امریکا ټول پلان شنډ شو او د امریکا پوځ چې د کوم هدف لپاره په عراق کې حضور لاره په هغه کې ناکام شو.

د امریکا جمهور رئیس په عراق کې د اسلامي مملکت له قیام نه څو ورځې مخکې (د اکتوبر په ۱۱مه) په سپینې ماڼۍ کې د خپلې بیانیې په ترځ کې یوه جمله درې ځله تکرار کړه چې په عراق کې امریکایي پوځ ددې لپاره حضور لري چې تروریستان د اسلامي خلافت په شان هیواد جوړولو نه ایسار کړي. بش زیاته کړه، ویې ویل: تروریستان د خلافت د ایډیالوژۍ خپرول غواړي او دداسې هیواد د جوړولو هڅه کوي چې هلته د آزادي او لیبرالیزم په نامه د هیڅ څیز تصور قدرې هم نه وي. جمهور رئیس بش وویل په عراق کې د خلافت منځ ته راتګ چې د تروریستانو په وسیله جوړېږي د امریکا او اروپایي هیوادونو ګټې او سلامتیا له سنر خطر سره مخامخ کوي. د بش له دې بیانیې لاڅو ورځې نه وې تېرې چې د عراق مجاهدینو د اسلامي هیواد د قایمولو اعلان وکړ. له دې اعلان سره د امریکا پر حکومت لړزه ګډه شوه او له اووه ورځو له تېرېدو نه وروسته هم امریکا او د هغې پلویانو د اسلامي مملکت په اړه کومه اعلامیه خپره نکړه. د امریکا د پوځي چارواکو چوپتیا ثابتوي چې د اسلامي حکومت د اعلان له لامله امریکا او د هغې اتحادیانو ته سخته صدمه رسېدلې ده؛ نو اوس له هغوی سره دوه لارې پاتې دي چې یا خپله ماته ومنې او یا غلې کېني او د خپلو پوځیانو له وژلو پرته دریمه لاره ونه لري.

## تول تدبیرونه اپوته شول

په ۱۹۹۰ میلادي کال کې د شوروي اتحاد له ماتېدلو نه وروسته؛ ددې لسیزې په پیل کې د امریکا په دې احساس کې سخت زیاتوالی راغی چې ګویا په نړۍ کې ترده فاتح بل څوک نشته. د ۱۹۴۰ میلادي کال په لسیزه کې د فاشیزم چلنج ته له ماتې ورکولو نه وروسته لیبرال کپیټالیزم خپل وروستی حریف (کمونیزم) ته هم ماته ورکړه. «فرانس فوکویوهاما» د لوېدیځې نړۍ د فتحې دغه احساس د لویدیځ په قیادت کې د بني نوع انسان د «تاریخ پای» وباله ... د ګټهات دغه نشه ډېر ژر د نړیوال نظام د بدلولو فکر وزېږاوه. په څو کلونو کې د سرمایه داري یا پانګوال نظام لوی، لوی مرکزونه د اکثرو ملتونو آزادي او خودمختاري په پنجو کې کنبېکاږه. هغو چې په ۱۹۳۰ میلادي کال په لسیزه کې او یا له هغې نه په وروستو مراحلو کې خپلې آزادي ترلاسه کړې وو، د لویې غوښتنې په دې نوې څپو کې د ترلاس لاندې ملتونو په باب واشنګټن داسې فیصله وکړه چې د هغوی د مستقیم ښکېلاک پرځای غوره دا ده چې د هغوی د اقتصادي اصول په خپله امریکا جوړ کړي. ددې پلان له مخې هغو هیوادونو چې ډېر اهمیت لاره مجبور کړی شول چې د خپلو هیوادونو دروازې بهرنیو پانګې اچونې ته خلاصې پرېږدې خپل اقتصاد شخصي اعلان کړي، خپل پخوانی پلانونه پرېږدي او د رغاونې نظام لغو اعلان کړي د هغو اجباري اقداماتو په پایله کې د هغو هیوادونه ورخلاصی اقتصاد (Open door) د نولسمې پیړۍ نقشه وړاندې کړه.

دا وته ایز لاسبري (اقتصادي بالادستي) د امریکا دواړو لرغون لمانځو ډلو ته کافي نه وه، له هغه نه لومړی د ډک چیني، رمز فیلډ او د بولټن په مشری کې د توندلارو نشنالستانو (Ultra nationalists) ډله وه او بله د ((وولفوټز))، ((فیت)) او پرل په مشری د زایوکانز (Ziocons) ډله وه په دوهمې ډلې دا نوم جیمز پترس کېښود، هغه دواړو ډلو غوښتل چې د شوروي اتحاد له پای ته رسېدو نه وروسته چې امریکا ته د ((یوازینی زبر ځواک)) د مقام ترلاسه کولو کوم چانس په لاس ورغلی دی، له دې چانس نه پوره ګټه واخلي او پر ټولې نړۍ باندې خپله سیاسي غلبه نه ستنېدونکې کړي.

د نوو لرغون لمانځو پلان دوې برخې درلودې؛ لومړی دا چې امریکا خپل پوځي برلاسی هغو پولو ته ورسوي چې د نړۍ په هره ګوښه کې د هغې احتمالي حریف د هغې برلاسی چلنج نشي کړای، په دې توکي کې دا ټکی هم شامل و چې امریکا نړیوال قوانین شاته وغورځوي او چې کوم هیواد د هغې د سیاسي یا اقتصادي ګټو پرخلاف کار کوي د هغه پرضد دې جګړه پیل کړي.

دا هم ومنل شو چې ددې تجربې پیل به په منځني ختیځ کې کېږي؛ دا هغه ټکی و چې افراطي نشنالستان او زایوکانزا دواړه پرې متفق شول. د لومړيِ ډلې دا غوښتنه وه چې د نړۍ د تېلو پر ټولو سرچینو باندې د مکمل کنټرول له لارې اوپک (Opec) تباه کړی شي، اروپا، جاپان او چین ددوی پرغمل شي. دوهم ګروپ یعنې زایوکانز دا غوښته چې په منځني ختیځ کې د اسرائیلو د برلاسي (بالادستي) په وړاندې خنډ هغه مرکزونه چې ددغې

برلاسي په وړاندې ستونځې پیدا کوي ښایي له منځه یوړل شي چې په هغو کې عراق، ایران او سوریه د ټولو په سر کې وو. مګر دا ټول پلانونه په تعویق وغورځول شول او جمهور رئیس بل کلنټن د هغه منلو ته تیار نشو. سره له دې هم پر عراق باندې د اقتصادي بندیزونو په لګولو سره هغه بنسټ کېښودل شوچې وروسته نوي لرغون لمانځو ورته د عمل بنه ورکولای شوای. د ۲۰۰۰ میلادي کال په انتخاباتو کې د جارج ډبلیو بش کامیابي او د امریکا د جمهور رئیس په توګه د هغه ټاکل کېدل لرغون لمانځو (مرتجعینو) ته یوځل بیا لومړی درجه ترلاسه شوه. اوس نو هغوی د داسې مرحلې انتظار کاوه چې هغوی ته په منځني ختیځ کې د جګړې فرصت ترلاسه شي. بالاخره د ۹/۱۱ پېښې رامنځ ته شوې چې هغوی ته پر ((پرل هاربر)) باندې د حملې متبادل ثابت شو او هغوی دا پېښې د امریکا لپاره د یو تل ترتله نړیوال سلطنت د ترلاسه کولو لپاره استعمال کړ؛ په حاشیه کې ناست ملتونه لاپخوا د شوروي اتحاد له ماتېدو نه وروسته کمزوري شوي وو او له هغو نه چې کومو هیوادونو مقاومت وښود او یا یې له اسرائیلو سره د امنیت په فضا کې له جوړجاړې نه انکار وکړ، هغوی ټول یې د بدماش په نامه تور لست کې ونیوه، د پخواني شوروي اتحاد او شرقي اروپا کمونیست اقتصاد دومره کمزوری شو چې د هغوی د نفوسو پر اوسط عمر او سن یې اغېزه وکړه او هغه یې ټیټ راوست. د دریمې نړۍ اقتصادي حالات هم بدلون ومونند او د نړیوال مالي ادارو په زنځیرونو کې هغوی هم د تباهی ځنډ و ته

ورسېدل ترديې چې په ۱۹۹۷ میلادي کال کې د آسیا د جنوب ختیځې حوزې ((معجزه ډوله اقتصاد)) د وال ستړیتې او ((IMF)) په اشارو له عرش نه فرش ته کوز شول.

د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتامبر له پېښو نه وروسته د نوموړو هیوادو حالات نور هم خراب شول. نوی لرغون لمانځو د تروریزم په بهانه په نړۍ د امریکا د واکمنۍ پلانونه ترلاس لاندې ونیو او امریکا د خان پرخلاف هرډول مقاومت ته د تروریزم عنوان ورکړه چې له دې لامله اسرائیلو ته ډېره ګټه ورسېده؛ اوس نو امریکا د مخکې پرمخ هرچېرته خان ته د جنګ جواز ترلاسه کړه؛ یوازې دا نه: بلکې هغې خپل نړیوال پلوي خواکونه او حاکمو چارواکو ته د بشري حقوقو د ترپښو لاندې کولو خلاص مټ ورکړه. لکه چې د ۲۰۰۳ میلادي کال د اپریل په نهمه پر بغداد باندې له ولکې نه څو اونۍ وروسته، داسې احساسېده چې اوس به امریکا ټوله نړۍ د خپلو تاړاکونو او منډو میدان وګرځوي، ایران، سوریه او کوریا د خپلو حکومتونو ورځې شمېرلې، اسرائیلو د ټولو فلسطینیانو د تباهی تیاري ونیو، پاکستان ته وویل شو چې خپل اتومي څواک له منځه یوسي او کنه هغه به بمباري کړي، پاکستان به د تېرې تاریخي دورې ته ورسوي، دا فیصله وشوه چې په ډېر لږ وخت کې به مصر او سعودي عربستان په وړو محتاجو هیوادونو وویشي، په سیمه کې به د تیلو منابع شخصي اعلان کړي او په ډېر ارزان قیمت به یې امریکا ته ولېږدوي او په پای کې به د منځني ختیځ د تېلو پر چینو د امریکا

ګروت مضبوط شي، اروپا، چین او جاپان به د امریکا د غلبې اسیران وګرځوي.
پر عراق باندې له ولکې نه څو اونۍ وروسته نو یو لرغون لمانځو دا خوبونه لېدل پیل کړل چې اوس نړۍ د هغوی تر نګین لاندې راتلونکې ده او د امریکایي سلیزې، پیل شوی دی، مګر د قدرت چارو ته وګورئ چې د هغوی ټول خوبونه وشړېدل او صرف څو زرو تنو عراقیانو د امریکا د دومره جبروت په وړاندې داسې خند شول چې پرې یې نښودله د خپلې سوبې میوه وڅکي د ۲۰۰۳ کال په اپریل کې څپاندې او ویروونکې پېښې داسې رامنځ ته کېږي چې لوری یې د نویو لرغون لمانځو د پلانونو مطابق نه ده. له حملې نه درې کاله وروسته امریکا په عراق کې له سختو ستونځو سره مخامخ ده او د هغې پښې لړزېږي. د ۹/۱۱ له حملو نه وروسته چې د عربي نړۍ په کوڅو او بازارونو کې آزاد ګرځېدل پای ته رسېدلی و او هر سړی د ځان په وېره کې و؛ مګر اوس هلته په فلوجه، نجف، رمادي او بصرې په سړکونو کې امریکایي پوځ آزاد نشي ګرځېدلی، پر عراق باندې حمله داسې پېښه وه چې مځکې ته یې ټکانونه ورکړ چې لا د هغې د نتیجې ټول اسرار پټ دي. په ایران کې د حکومت د بدلولو امریکایي پلان ناکام شوی دی او اپوټه (برعکس) اوس ایران په خپل اوسني تاریخ کې تر هر وخت زیات په ځواکمن پوزیشن کې دی، له پېړیو راهیسې اوس د هغه اغېزه تر افغانستان او عراقه غزېدلې ده، هلته ددې توان لري چې امریکایي واکمنۍ ته تاوان ورسوي.

سربېره پردې ایران، اوس داسې میزاییل جوړ کړي چې په خلیج کې د بېړیو د لارې د بندولو سره سره د عرب اماراتو د تیل تاسیسات هم هدف ګرځولی شي او اسرائیل هم ویشتلی شي. په دې توګه امریکا د خپلو حماقتونو په پایله کې په منځني ختیځ کې په ډراماییې توګه خپل نفوذ او اغېزه له لاسه ورکړی ده او د برې چانس یې هلته ډېر کم لیدل کېږي.

د ۲۰۰۲ میلادي کال په جولای کې اسرائیل د حزب الله د نابودولو او په لبنان کې د کورنۍ جنګ د پیلولو لپاره پلان جوړ کړ او دا پلان یې هم ترلاس لاندې ونیو چې ایران او سوریه کمزورې کړي؛ مګر هغه ټول پلانونه ناکام شول، هغه ونښوای کړای چې حزب الله ته په زړه پورې تاوان ورسوي. ۱۹۶۷ میلادي کال کې د ۳ عربي هیوادونو د پوځونو اپوټه حزب الله اسرائیلو ته داسې غابښ ماتی خواب ووایه چې په شمالي اسرائیل کې د ژوندانه منډې ترړې او کاروبار په ټپه ودرېدل، له ۴۰ زیات اسرائیلي ټانکونه ویجاړ شول او حزب الله په دې بریالی شو چې د اسرائیلو په جاسوسي جال کې لاره پیدا کړي. ددې جګړې تر ټولو پایلو مخکې دا پایله خلکو ته رامخکې شو چې د حزب الله مجاهدینو ددې فریضې پرخچې والوزولې چې ویل کېده: ((اسرائیل ناماتی دی)) ددې په پایله کې د امریکا عربي اتحادي هیوادونو ته هم سخته صدمه ورسېده. په عراق کې د امریکا ماتې او له هغه ځایه د خپلو پوځونو د ویستلو په صورت کې د راپیدا شوي وضعې نه په وېره کې شول. په سیمه کې د اسرائیلو غوښتنو ته غاړه ږدې او

ورسره ملګري کېږي. سعودي عرب نهيلی شو او د خپل تيلو پيسې د مسلمانانو ترمنځ د کورنيو جګړو د راپيدا کولو په جهت کې په کار اچوي.

لاتيني امريکا په عراق کې د امريکايي پوځ له بدې وضعې نه چې اوس هغوی هلته په داسې دلدل کې نښتي دي چې وتلی ترې نشي، ګټه پورته کړه. اوس زيار باسي چې ځان د امريکا له ولکې نه آزاد کړي، پيرو، چلي، نيکاراګوا او بوليويا کې داسې حکومتونه جوړ شوي دي چې له امريکا سره دوستانه اړيکې نه لري، په ونيزويلا کې بولوويرين انقلاب ځواکمن کېږي، په مکسيکو کې ښی لاسی ډله مخ په کاميابېدووه چې د هغه سويه يې په ماتې بدله کړه، کيوبا وايي چې له کاسترو پرته هم خپل هدف ترسره کولای شي.

د لاتيني امريکا په سياسي نقشه کې دا بدلونونه د هغو غوره توبونو پايله ده چې د ۱۹۸۰ ميلادي کال په لسيزه کې يې خلک غوښتونکي وو او دا يې ويل چې آزادې پاليسي دې له سره جوړې شي. سربېره پردې داخل په لاتيني امريکا کې مقاومت د ډلې ترشا د عام اولس دا غوښتنه هم کار کوي چې که چېرې دامريکا د عراق له دلدل نه په وتلو کې کامياب شو؛ نو آيا هغه به ددغو بدلونونو اجازه ورکړي. په نه باورمندی توګه د پاکستان چارواکې طبقه هم په پټ او ښکاره د امريکا له دې ستونځو نه ګټه اخلي، د افغانستان پښتانه چې د شوروي اتحاد پرضد جهاد کاوه، بوځل بيا د امريکا د اتحادي قواو پرضد د پراخې جګړې تياري کوي،

او که چېرې دا جګړه پیل شي او افغانستان د امریکا له ولکې نه آزاد شو؛ نو هغې ته به په منځنۍ آسیا کې د روسي او چیني چلنجونو مقابله ډېره ګرانه تمامه شي. پر عراق د امریکا د ګروت سنستوالی پر افریقا هم اغېزه کوي. افریقایي چارواکي د آزادی له احساس سره په آرامي کولای شي له نورو هیوادو سره، د اوږدې مودې اقتصادي اړیکې ټینګې کړي، له دې وضعې نه په استفادې سره اوس چین په ټوله افریقا کې هغه اقتصادي اناتومي ترخپلې اداري لاندې راولي (غواړي چې له افریقایي هیوادو سره په پراخه پیمانه اقتصادي اړیکې ولري) چې له پیرېو راهیسې امریکا او اروپا جوړه کړې وه. چین د دې لپاره په افریقا کې بنه دریغ لري چې له سیاسي ګټو او لاسبري پرته غواړي هلته پانګه واچوي (سرمایه ګذاري وکړي)، د دې لپاره چې د امریکا ټوله پاملرنه په عراق کې د حالاتو د استقرار او ثبات په لوري اړول شوي، افریقا ورو ورو د امریکا له ولکې وځي او د چین تراغېزې لاندې راځي. دا امکان له شک او شبهې نه خالي نه ده چې امریکا د «زایوکانز» له مرستې پرته په منځني ختیځ کې د پوځي ماموریت خطر ومنلای شي، که څه هم د سیمې مخ په زوال سلطنتي ګوډاګیان د هغې مرستې ته بې تابه دي، «زایوکانز» په ډېر زیرکتیا سره د امریکا رژیم وهڅاوه چې په منځني ختیځ کې جنګ به هغې ته له تفریحي مارچ نه زیات ستونزمن نه وي او په دې تاریخي اقدام کې به ټول منځنی ختیځ د هغې ترولکې لاندې راشي. په اوسني مهال کې لړترلړه د عراق پر بحران ډېر خوښ دي؛ ځکه چې دا د هغه

پخوانۍ هیله ده او که چېرې امریکا دا حالت سنبال نکړی شوه، نو دا په ډېرې آسانۍ سره د هغه پرخلاف تلای شي

که چېرې امریکا د ځاني تلفاتو له لامله له عراق نه د خپلو پوځونو په ویستلو اړ نشو، بیا هم ددې خبرې امکان ډېر لږ دی چې هغه وکولای شي دا جنګ تر ډېر وخته پورې جاري وساتي. د جنګ مخ په زیاتېدو مصارف، د تېلو په قیمتونو کې زیاتوالی، مخ پا زیاتوالی تجارتي خسارې او د ډالر مخ په لوېدو ارزښت به امریکا اړ باسي چې د منځني ختیځ په اړه په خپلو هوډونو کې بیا کتنه وکړي، کله چې امریکا دغې وضعې ته ورسېږي، نو اړینه ده چې له ډاله پرته خپلو ګاونډیانو سره مخامخ شي، تردې بد حالت به داوي چې په عراق کې د امریکا د ماتې پړه به ډېر امریکایي وګړي پر اسرائیل واچوي.

د ۲۰۰۱ کال د سپتامبر د یوولسمې پېښو نه په ګټې اخیستنې سره د امریکا نوی لرغون لمانځي ډېر ژر په دې پسې شوې چې منځنی ختیځ کې خپل ښکېلاکي پلانونه د عمل ډګر ته وباسي؛ هغوی غوښته چې په عراق، ایران، سوریه او شمالي کوریا کې د حکومتونو د بدلون په ترڅ کې دا کار پیل کړي. امریکا او اسرائیل دواړو غوښته چې په لومړی نړیواله جګړه کې چې برتانیا او صهیونیستانو کوم بریالیتوبونه ترلاسه کړي وو، اوس هماغه بریالیتوبونه بنسټ وټاکي او نورېې هم ځواکمن کړي، مګر په اوسنیو شرایطو کې دا کار شونی نه دی او نه به په دې اړه د هغوی هیلې پوره شي. په دې کې شک نشته چې نویو لرغون لمانځو

(مرتجعینو) په عراق کې ډېر ژر حکومت بدل کړ؛ مګر د څو زرو تنو عراقي مجاهدینو وسله وال مقاومت د هغوی هغه پوخونه له سختو ستونزو سره مخ کړ چې د نړۍ د تولې د ایلولو لپاره وتلي وو. د عراق په جنګ کې رابرسېره شوي مصارف، چې د هغه ډېر پټ اړخونه اوس رابرسېره کېږي دا څرګندوي چې امریکا په منځني ختیځ کې د حکومتونو د بدلولو کومې هڅې پیل کړې وې، لوس اپوټه د هغې پرخلاف روان دي، اوس داسې احساس کېږي چې ددې بدلونونو هدف په خپله هغه څوک ګرځي چې منځني ختیځ د بنکېلولو لپاره یې پر عراق حمله کړې وه.

## څوک وژنتون ته لاړ

د ترکیې پخواني صدراعظم عدنان مندریس او د پاکستان پخواني صدراعظم ذوالفقار علي بوټو نه وروسته صدام حسین دریم مسلمان چارواکی دی چې هغه ته د پانسي سزا ورکړی شوه او د درې واړو چارواکو په وژلو کې د نړیوال ښکېلاک (امریکا) شوم نیت یو حقیقت دی (امریکا وه چې دا درې واړه چارواکي یې د دار تختې ته ورساوه). د افغانستان پخواني جمهور رئیس ډاکټر نجیب الله هم په ۱۹۹۶ کال کې له وژل کېدو نه وروسته د طالبانو له خوا پر دار وځړول شو؛ مګر د جمهور رئیس نجیب له معاملې نه وروسته د تیرو درې و چارواکو معامله څکه بېله ده چې هغوی یې له قضایي تعامل نه وروسته (که څه هم متنازع وو) پر دار وځړول. صدام حسین له آزادې مقدمې نه بې برخې پاتې شو او د

هغه دوسیه یې ددې لپاره نړیوالې محکمې ته یې نوره چې چېرته د پاخه ثبوت د نشتوالي له لامله دا دوسیه مسترده نشي. سربېره پردې د صدام حسین له نیولو نه تر پانسي کولو پورې، په دې ټول بهیر کې د امریکا حکومت هڅه کاوه چې په دې تولنه معامله کې د سني او شیعه ترمنځ د نفرت اور بل کاندي. هغه ته په ۱۹۸۲ میلادي کال کې د دجیل په سیمه کې د ۱۴۸ تنو شیعه وګړو د وژنې په جرم سزا واورول شوه. او د هغه د مقدمې اورېدونکي قاضیان هم اکثره شیعه وګړي وو. وروسته له دې چې صدام ته د پانسي سزا واورول شوه خبري رسنیو دا تبلیغ پیل کړه چې شیعه ګان د صدام د مرګ جشن نمانځي په داسې حال کې چې سنیان په ماتم ناست دي. حقیقت دا دی چې تراوسه پورې د سني او شیعه ترمنځ د اختلافاتو د اور لګولو توطئه ناکامه وه او په عراق کې جنګیالي مجاهدینو مذهبي اختلافات شاته پرېښي او ټول تر یو شعار لاندې د امریکایي ښکېلاک پرضد جنګېږي او نن مهال د هغوی ګډ دښمن امریکا ده او په دې هم پوهېږي چې د مذهبي اختلافاتو د اور په بلولو کې امریکا په خپلو پلانونو باندې کار کوي؛ پاتې شوه دا مسئله چې د صدام په مرګ باندې ځینو خلکو نڅل (یا رقص یې کاوه) آیا د بغداد له سقوط نه وروسته همدغسې یو شمیر خلک نه وو چې د د امریکا د پوځ په راتګ باندې ګډه شوي وو: که چېرې د عراق اولس د امریکایي پوځ په راتګ باندې دومره خوښ و، نو اوس مهال دا څوک دي چې د امریکا پر پوځي قافلو باندې فدایي حملې کوي او د ښکېلاکګرو پوځ ته د دهشت

علامت ګرځېدلي دي، همدارنګه د صدام حسین پر شهادت باندې هم د خبري رسنیو دا پروپاګنډه سهي نه ده چې عراقي اولس خوشاله دي، په حقیقت کې عراق په رنځ او درد کې ډوب دي او د صدام پانسي ستر ظلم او تیری بولي، د لوی اختر په اوله ورځ د صدام حسین اعدامول د اسلامي نړۍ له سخت غبرګون سره مخ شو او اسلامي هیوادونو په دې مبارکو ورځو کې د صدام حسین د اعدامولو غندنه کړې، د امریکا د حکومت له دې فیصلې تکبر او غرور په ښکاره ډول څرګند ېږي، څرګندېږي چې د امریکا حکومت د مسلمانانو د مذهبي جذباتو هېڅ پروا نه لري.

د جمهور رییس بش په حواله هم خبري رسنیو دا خبر په ډېر اهتمام سره خپور کړ چې جمهور رئیس بش د صدام د پانسي پر مهال په دروند خوب ویده و؛ ګویا جمهور رئیس بش ته د هغه د ضمیر آواز هېڅ راز پریشاني نه وه پیدا کړې او هغه د دې ترخې پېښې له لامله تر هېڅ ډول فشار لاندې نه دی. کاشکې د امریکا اولس ته دا هم وویل شي چې کله په عراق او افغانستان کې امریکایي پوځیان د ګولیو او بمونو هدف ګرځي، په دې وخت کې هم جمهور رئیس بش په خواږه خوب ویده وي کنه؟ یا د جمهوري ریاست له رنګینو نه خوند اخلي؟ که دوی صدام حسین هرڅومره ظالم او جابر معرفي کړي؛ مګر په عربي نړۍ کې د هغه له مقبولیت نه انکار نشو کولای. صدام حسین د فلسطین د قضیې په باب د سپېڅلو او همدردانه جذباتو خاوند او په خلاص زړه او سپېڅلي نیت سره یې د فلسطیني کورنیو سره مرسته کاوه. په ۲۰۰۰ میلادي کال کې یې د هر فدایي فلسطیني لپاره د ۲۵ زره




د عراق اولس د صدام حسين او د هغه د زامنو، قصي او عدي تصويرونه اوچت کړي او مظاهره کوي

ډالرو د مرستې او د هر شهید فلسطیني د کورنۍ سره د ۱۰ زرو ډالرو د مرستې اعلان کړی و. صدام چې هرڅنګه و د هغه په دور کې هره ورځ د عراقیانو جنازې نه پورته کېدې، د هیواد سلامتیا له خطر سره مخ نه و او اولس خوشاله و؛ اوس د عراق د تجزیې خبرې کېږي، د عراق ټول امکانات او وسایل د بنکېلاکګر پوځ په ولکه کې دي، د عراق اوسېدونکي په لکونو لکونو وژل شوي دي او د اولس بده ورځ خو د ویلو نه ده!!

د صدام حسین د اعدامولو په داستان کې مسلمانو چارواکو ته د عبرت لوی درس پروت دی. صدام حسین امریکا منځ ته راوسته (Project تولید یې کړ) داسې وخت و چې صدام حسین د امریکا د سترګو ستوری و، بیا د خلکو سترګې دا تماشا هم ولیده چې د صدام امریکایي سرپرست د هغه پرخپل هیواد باندې په ټانکونو، توپونو او الوتکو وخوت او د کار په پای کې یې صدام د دار تختې ته ورساوه. صدام حسین له مرګ سره هم په پوره جرئت او زړورتیا سره مخامخ شو، د پانسي پر مهال یې پر بنیسوده چې پرمخ یې نقاب کش کړی شي؛ ویې ویل: ((زه غواړم چې له مرګ سره سترګې وجنګوم))!!! کلمه یې ولوستله او د سولۍ په حلقه کې وځړېد. د امریکایانو لپاره چې ژوندی صدام څومره خطرناک و، له مرګ نه وروسته څو چنده خطرناک شو، په عراق کې د صدام له اعدام نه وروسته په نښتو او حملو کې زیاتوالی راغی، د صدام پلویانو عزم کړی و چې له امریکایانو نه به غچ اخلي، صدام به د عراق د اولس په زړونو کې تل ترتله ژوندی وي!!!

پای



د صدام حسین لور له خپلو پلویانو سره

https://t.me/andlasbook











بنگاه انتشارات میوند
کابل - افغانستان